مکاتب قرانیه او سکولونو کښي بنیادي مذهبي تعلیماتو د پاره

مفید او جامع کتاب



# دینیات

## نصاب اطفال، حفظ او ترجمه د پاره




مرتب

مولانا مفتی محمد ایاز صاحب

رئیس جامعه تبلیغ القرآن



تبلیغ القرآن تعلیمی سوسائٹی

جامعه تبلیغ القرآن

یوسف آباد دله زاک روڈ پشاور پاکستان۔

0092-91-2245300

# فهرست مضامين


پيش لفظ 14

اوله حصه ـــ عقائد وايمانيات 17

- په الله باندي ايمان 17
- دکفروشرک او بدعت بيان 20
- دشرک اقسام 21
- باقي افعال شرکيه 23
- بدعت 23
- څو مشهور بدعات 24
- مسئله تقدير 24
- انبياء عليهم السلام 25
- فرښتې 27
- پيريان 27
- ولي ، ولايت او کرامت 27
- آسماني کتابونه 28
- صحابه کرام رضي الله تعالیٰ عنهم 29
- دچا جنتي کيدل 30
- اهل بيت 30
- دقبر حالات 30
- دقيامت علامات 31
- دقيامت ابتداء 32
- د قيامت ورځ 33
- جنت 33
- دالله تعالیٰ ديدار 33
- دوزخ 34
- ايصال ثواب 34

- خاتمه 35
- توبه 35
- دگناهونو بیان 35
- دایمان شعبے 36

## دويمه حصه --- عبادات واحکام

- دطهارت کا بیان 41
- د اوبو بیان 43
- داستنجاء بیان 44
- د اودس بیان 45
- اودس ماتونکی څیزونه 48
- دغسل بیان 50
- اذان و اقامت 52
- دمونځ بیان 53
- دمونځ کولو طریقه او ترجمه 55
- دښځو مونځ 64
- مفسدات دمونځ یعنی مونځ ماتونکی څیزونه 67
- دوترمونځ 67
- قضا مونځ 70
- سجده سهو 71
- سجده تلاوت 71
- دسفر نماز 72
- دجمعې مونځ 73
- د اختر مونځ 75
- دجنازې مونځ 77
- دزکوٰة بیان 81
- سرسایه 84

- د روژې بیان 85
- دحج بیان 88
- د نکاح بیان 89
- دطلاق بیان 91
- دمعاملاتو بیان 93
- سودی لین دین 99

## دریمه حصه۔۔۔ اخلاقیات

### ښه اخلاق 102

1. د الله یره 102
2. دالله تعالیٰ نه امید 102
3. صبر 103
4. شکر 104
5. توکل 104
6. الله تعالیٰ سره محبت 105
7. دالله تعالیٰ په فیصلو باندې راضی کیدل 105
8. خالص نیت 105
9. دمشرانو عزت 106
10. رښتیا 106

### بد اخلاق 107

1. دروغ 107
2. غصه 108
3. حسد 109
4. د مال محبت 109
5. کنجوسی 110
6. شهرت غوښتل 110
7. غرور وتکبر 111

8. خود پسندی 112
9. دزیاتوخبرو عادت 112
10. د زیات خوراک کولو حرص 113

## څلورمه حصه۔۔۔ احادیث نبوی ﷺ

- داحادیث مبارکه اهمیت وفضیلت 114
- په نیت باندې دارومدار 115
- قرآن او حدیث 115
- قرآ ن عزت او ذلت سبب دي 116
- سنت درسول ﷺ او سنت خلفائې راشدینوؓ 116
- شرک نه ځان ساتل 116
- ارکانِ داسلام 117
- اودس او مونځ 117
- دمسواک کولو فائدې 117
- د اذان کولو فضیلت 117
- دمؤذن جواب 117
- دمونځ پریخودلو نقصان 118
- مقبول دعا 118
- دامام پوره پوره اقتدا اوکړې شی 118
- صف نیغ ساتل 118
- مساجد ،دالله محبوب ځایونه 119
- صدقه، د دوزخ نه ډهال 119
- دعالم فضیلت 119
- دمسلمان خیرخواهی 119
- دنورو په کار راتلل 120
- اهل عیال سره حسن سلوک 120
- په بغاوت باندې نه آماده کول 120

- اعلانيه ګناه(په ښکاره ګناه) 120
- مومن هغه دې چه دهغه خلق په امن کښې وی 121
- اولاد دپاره بهتره تحفه 121
- مشوره نوم دې داعتماد 121
- دګاونډی حق 121
- په مسلمان باندې لاس اوچتول 121
- حسن اخلاق ،مقصد نبوت 122
- بُد اخلاق 122
- نرم مزاجی 122
- سلام کښې وړاندې والې 122
- شکرګزاری 122
- حسد نه بچ شئ 123
- د تکبر قباحت 123
- دبې پردګئ خطرې 123
- دوه لوې نعمتونه 123
- دقبر منظر 123
- قيامت به په بد وخت کښې راځی 124
- دجنت قدرو قيمت 124
- خاتمه 124

پنځمه حصه --- سيرت النبیﷺ

مکی او مدنی دور 125

سبق 1: زمونږ نبی حضرت محمدﷺ 125

سبق 2: پرورش او خاندان 127

سبق 3: دنبیﷺ وطن 128

سبق4: دنبیﷺ ښائسته تدبير 129

سبق 5: دنبی کريمﷺ ښکلې اخلاق 131

سبق 6: دنبی کریمﷺ واده او اولاد 132
سبق 7: ازواج مطهرات(دنبی علیه السلام بیبیانې) 133
سبق 8: نبوت ملاویدل 135
سبق 9: داسلام د دعوت آغاز 136
سبق 10: د اسلام ددشمنانو ردعمل 137
سبق 11: دحبشې هجرت 138
سبق 12: دغم کال 140
سبق 13: دطائف سفر 141
سبق 14: دمعراج واقعه 142
سبق 15: مدینه منوره 143
سبق 16: دنبی کریمﷺ هجرت 144
سبق 17: په مدینه کښ دنبی علیه السلام اسقبال 145
سبق 18: دمهاجرو او انصارو رورولی 146
سبق 19: دمدینې منورې حالات 147
سبق 20: دمسلمانانو درې دشمنان 148
سبق 21: غزوات 148
سبق 22: غزوه بدر 149
سبق 23: غزوه اُحد 150
سبق 24: غزوه خندق 151
سبق 25: صلح حدیبیه 152
سبق 26: دمکې فتحه 153
سبق 27: حجة الوداع 155
سبق 28: دنبی کریمﷺ وفات 156
سبق 29: دنبی علیه السلام معجزې 157

## مختصر سیرت نبیﷺ 160

- دنبی کریمﷺ سلسله نسب 160

- دنبی کریمﷺ پلار نیکه 160
- دنبی کریمﷺ ازواجِ مطهرات 160
- دنبی کریمﷺ اولاد 161
- دنبی کریمﷺ ترونه 162
- دنبی کریمﷺ تروریانې 162
- درسول اللهﷺ ځومان 162
- د رسول اللهﷺ رضاعی میاندې 163
- درسول اللهﷺ رضاعی رونړه خویاندې 163
- درسول الله مؤذنین 163
- درسول اللهﷺ خادمان 164
- د رسول اللهﷺ پهره دار 164
- د رسول اللهﷺ مشهور غزوات 165
- د رسول اللهﷺ دعوتی خطونه 165
- د رسول اللهﷺ د اسونو نومونه 165
- د رسول اللهﷺ دقچرو نومونه 165
- د رسول اللهﷺ د اوښو نومونه 165
- د رسول اللهﷺ د خرونو نومونه 165
- د رسول اللهﷺ د تورو نومونه 166
- د رسول اللهﷺ د نیزو نومونه 166
- د رسول اللهﷺ د همساګانو نومونه 166
- د رسول اللهﷺ د لیندو نومونه 166
- د رسول اللهﷺ د ترکشو نومونه 166
- د رسول اللهﷺ د خودونو نومونه 166
- د رسول اللهﷺ د زغرو نومونه 166
- د رسول اللهﷺ خلفاء اور صحابهؓ 167
- دنبی علیه السلام نه پس دخلافت په منصب باندې ناست

صحابه 167
- د خلفاء راشدينوؓ د ژوند حالات 167
- عشره مبشره صحابه رضی الله عنهم اجمعین 169
- اهل کتاب صحابه رضی الله عنهم اجمعین 169
- قاصد او سفیر صحابه رضی الله عنهم اجمعین 169
- سوداګر صحابه رضی الله عنهم اجمعین 170
- شاعر او خطیب صحابه رضی الله عنهم اجمعین 170
- کم عمر والا صحابه کرامؓ 170
- مشران صحابه رضی الله عنهم اجمعین 170

شپږمه حصه ـــ مسنون دعاګانې

- ددعا اهمیت او آداب وشرائط 171
- ددعا دقبولیت شرائط 171
- مسنو ن دعاګانې 172
- د اوده کیدو په وخت دعا 172
- د پاسیدو دعا 173
- کله چه خراب خوب اووینې نو دا دعا اولوله 173
- که په خوب کښې اویریږې نودا دعا اووایه 173
- بیت الخلا ء ته دتلو دعا 173
- بیت الخلا ء نه دراوتلو دعا 174
- په آئینه کښې دکتلو دعا 174
- دجامو اغستو دعا 174
- کله چه نوې جامه اغوندې نو دا دعا اووایه 174
- دجامو ویستلو په وخت 175
- کله چه بل څوک نوې جامه کښې اووینې 175
- د واده زلمی ته داسې مبارکبادی ورکړه 175
- د خوراک خوړلو دعا 175

- دخوراک خوړلو نه پس دعا 176
- کله چه پئ څکې نودا دعا وايه 176
- د کورنه دوتلو دعا 176
- کورته دننوتلو دعا 176
- کله چه غصه درشی نودا دعا وايه 176
- کله چه جمات ته داخل شې نودا دعا وايه 177
- دمسجدنه دوتلو په وخت دعا 177
- د اودس شروع کولو دعا 177
- د اودس په مينځ کښ دا دعا وايه 177
- د اودس نه پس دادعاوايه 178
- د اذان نه پس دعا 178
- دفرض مونځ دسلام ګرځولونه پس 178
- بازارته ددننوتلو دعا 179
- بازارته چه لاړشې نو دادعا وايه 180
- دمجلس نه دپاسيدو دعا 180
- دسفر دعا 180
- دسورلئ دعا 181
- کله چه کشتئ ياجهاز روان شی نودا کلمات وايه 181
- کله چه سورلی په څه منزل باندې اودريږی 182
- کله چه يو نوی کلی ته داخليږې 182
- دسفرنه دواپسئ دعا 182
- چالره درخصت کولو په وخت دا دعا وايه 183
- کله چه څوک هديه درکړی نو هغه ته دعاداسې کوه 183
- دسپوږمئ کتلو دعا 183
- د روژه ماتی دعا 183
- کله چه شب قدر وی نو دا دعا وايه 184

- دباران غوښتلو دعا 184
- دباران دنازليدو په وخت دا دعا وِئيل 184
- کله چه باران زيات شي نودا دعا وايه 184
- کله چه وريځ دګړزيدو آواز واورې نو دا دعا اووايه 185
- کله سيلۍ شي نو دا دعا اووايه 185
- کله چه دخر آواز واورې نو دا وايه 185
- کله چه دقرض دادا کولو فکر وی 185
- کچرې بد نظر اولګی 185
- چا مصيبت زده لره په کتلو سره دا دعا وايه 186
- چامسلمان لره خوشحاله اووينې نو دا دعا وايه 186
- کله چه مصيبت يا تکليف اورسی نو دا دعا اووايه 186
- دچا ديرې او خوف نه دبچ کيدو دعا 186
- کله چه دبيمار پوښتنه کوې نو داسې تسلی ورکوه 187
- دبيمار دشفادپاره د وئيلو دعا 187
- ماشوم دمرض او دنور شر نه دبچ کولو دپاره 187
- د تعزيت دعا 187
- کله مړی لره په قبرکښ کيږدی نو دا وايه 187
- قبرستان ته دتلو دعا 188
- کله چه په وسوسوکښ مبتلا وې 188
- دفتنوں نه دحفاظت دعا 188
- سحر ماښام د لوستلو دعا 188
- کله چه نمر راوخيژی 188
- دسحر دعا 188

- د سحر مابنام يوه خاص دعا 189
- ايما ن مفصل 189
- ايمان مجمل 190
- كلمه طيبه 190
- كلمه شهادت 190
- كلمه تمجيد 190
- كلمه توحيد 190
- كلمه استغفار 190
- كلمه رد كفر 190
- صلوة حاجت 190
- دعائي استخاره 192
- اسماء حسنیٰ 194


## اوومه حصه ـــ ابتدائی عربی


(۱) اَلْاَعْدَادُ[شمار] 200

(2) عَشَرَاتٌ [د هائی] 201

(3) اَلْمَطْبَخُ[په باورچی خانه کښې داستعمال څیزونه]201

(4) اَلْخَضْرَوَاتٌ [سبزيانې] 201

(5) اَيَّامُ الْاُسْبُوْعِ [د هفتې ورځې] 202

(6) شُهُوْرُ السنةِ الْقَمَرِيَّة [دكال قمری میاشتې] 202

(7) شُهُوْرُ السنةِ الشمسية [دكال شمسی میاشتې ] 202

(8) اَلْاَلْوَانُ [مختلف رنګونه] 203

(9) اَلْفَوَاكِهُ [مختلف میوې] 203

(10) مَاكُوْلَاتٌ وَمَشْرُوْبَاتٌ [د خوراک څکاک څیزونه] 203

| | | |
|---|---|---|
| (11) | مَوَاصِلاَتٌ[د تګ راتګ ذرائع] | 203 |
| (12) | اَلْفَصْلُ[درسګاه] | 204 |
| (13) | اَلْمِهَنُ [پیشه] | 204 |
| (14) | خَصَائِلٌ[ښه عادا تونه] | 204 |
| (15) | رَذَائِلٌ [بدعادا تونه] | 205 |
| (16) | اَعْضَاءُ الْجِسْمِ [دبدن حصې] | 205 |
| (17) | اُسْرَتِيْ[زما خاندان] | 206 |
| (18) | اَلْحَيْوَانَاتُ[څناور] | 206 |
| (19) | اَلطُّيُوْرُ [مرغې] | 206 |
| (20) | اَلْفُصُوْلُ [موسم] | 206 |
| | عربی مکالمه | 207 |

# پیش لفظ

دماشومانو تربیت د دین اسلام یو ډیر لوې او اهم باب دې۔ په دې مادی او دفتنې په دور کښې دماشومانو د تربیت دپاره دیو نظام تیارې ډیر ضروری دې ۔ځکه چه په دې دفتنونه ډک دور کښ خپلو بچو لره که بچ نه کړې نو صبابه دا بچې دمعاشرې څه ګل خوروی۔په دې بنیاد باندې دعلم خاوندان او عقل مند خلق دې خطرې لره محسوسولوسره دماشومانو د تربیت دپاره خاطرخوا کوشش کوی او د اسې نیک بخته مورپلار هم په دې معاشره کښ موجود دی چه دخپلو بچو په شروع کښ په اسلامی کرښوباندې د تربیت اهتمام کوی الحمد للہ چه دهغې بهتر نتیجې مخې ته راځی۔

ماشومانو لره د ابتداء نه داسلامی تعلیماتو نه خبردار کول دهغوی په زړه کښ دالله تعالی یره کینول ،دنبی پاک ﷺ په سنتو عمل کول ، دګناهونو نه نفرت ورکول، ایمانیات پرې یادول،مونځ او مسنون دعاګانې ورته خودل،د ادب تعلیم ورکول،او په وخت ددې ټولو اعمالو نګرانی کول،په عمل کولو باندې هغوی ته شاباسې ورکول،دعمل نه کولو په صورت کښ په مینه او محبت سره پوهول۔ دا هغه څیزونه دی چه یو انسان لره باداب،نیک اومتقی جوړوی او دمعاشرې دپاره دیو مثبت کردار په صورت کښ یو نوې نسل ملاویږی۔په دې تربیتی سلسله کښې یو خاص کردار د مدرسو،جماعتونو او مکاتبو هم دې چه دماشومانو دپاره ابتدائی تعلیماتو باندې مشتمل تربیتی پروګرامونه او سلسلې چلوی ۔"تبلیغ القرآن تعلیمی سوسائټی" هم ددې سلسلې یو کړئ ده چه

دمدرسو دمنتظمیونو او معلمینو رهنمائي دپاره د بهترین نظام اونصاب تیاری کوی-زیر نظر کتاب "تربیتی نصاب د حفظ او ترجمې دپاره " هم ددې ترتیب یوه حصه ده،چه حفظ او ترجمه کونکو ته لوستلې کیږی،دې دپاره چه ماشوم دحفظ قرآن یا ترجمه دقران سره سره ابتدائی اسلامی تعلیماتو نه هم فائده اوچته کړی-نن همدا بچې ابتدائی دینی تعلیم اومومی صبا چه لوې شی نو خپل ژوند به د دین مطابق تیروی -ان شاء اللہ-

دا کتاب"دینیات "(تربیتی نصاب د حفظ او ترجمې دپاره) په بنیادی طورباندې زمونږ د استادمحترم مولانا مفتی محمد آیاز درانی صاحب مرّتب کړې شوې دې چه په ابتدائی تعلیم باندې مشتمل مفید او ډیراهمه مجموعه ده-ددې کتاب ټولې اووه حصې دی-اوله حصه بنیادی عقائداو ایمانیات،دویمه حصه ضروری احکام وعباداتَ،دریمه حصه ښه او بد اخلاق،څلورمه حصه څلویښت نبوی احادیث،پنځمه حصه سیرت النبی ﷺ شپږمه حصه ضروری او اهم مسنون روزمره دعاګانې هرکله چه اوومه حصه ده په ابتدائی عربئ باندې مشتمل ده-

غرض داچه دکتاب بنیادی مقصد دادې چه دمسلمانانو ماشومانو دپاره یو مختصر نصاب مرتب کړې شی،چه په کښې دینی اهم او ضروری معلومات موجود وی-خاص کر مدرسو او جماعتونو داو سکولونوکښې لوستونکی ماشومان بچی چه دحفظ او ترجمې طلبه دی هغوی ته دانصاب یادکړې شی او په عمل کښې راوستلې شی- همداشان دقاعدې،ناظرې والاماشومانو دپاره جدا نصاب او

سلیبس تیار کړې شوې دې ـتول نصاب لره دقاعدې،ناظرې، حفظ او ترجمې سره سره په آسانه طریقې سره دکالونو په ترتیب سره خاکه نصاب( سلیبس) کښې تقسیم کړې شوې دې، دې دپاره چه لوستونکو او خودونکو ته څه تکلیف نه وی او مطلوبه نتیجه مخې ته راشی ـد الله نه دعا ده چه دې نیکې جذبې او ارادې لره عملی شکل ورکړی، او د امت دګلونو دپاره دا نصاب فائده مند ثابت شی ـالله تعالی دې دې نصاب ونظام لره عام وتام کړی او دې لره دې زمونږ د نسل دپاره قیمتی جوړ کړې ـ آمین یا رب العالمین ـ

نگران اعلیٰ تبلیغ القرآن تعلیمی سوسائٹی

لقمان احمد

## مآخذ

کتاب لره دمرّتب کولو په وخت د لاندینی کتابونو نه استفاده کړې شوې ده ـ

۱: تسہیل بہشتی زیور (حضرت تھانویؒ ـــ مرتبہ اساتذہ جامعۃ الرشید)

۲: تعلیم الاسلام (مفتی کفایت اللہ دہلویؒ)

۳: مردوں کا دینی معلم (مفتی ابولبابہ صاحب)

۴: کتب مسنون دعائیں ۵: کتب سیرت

# عقائد(ايما نيات )

## په الله تعالي با ندې ايمان :

- دا ټول كائنات مخكښې هيڅ هم موجود نه وو، الله تعالي پخپل قدرت سره دې لره پيدا كړل۔
- الله تعالي يو دې، هغه د چا محتاج نه دې ۔نه دده نه څوک پيدا دي او نه هغه د چا نه پيدا دې۔نه دهغه ښځه شته او نه ئې څوک برابر شته۔
- هغه د هميشه نه دې او هميشه به وي۔
- هيڅوک د هغه په شان نشته دې هغه د ټولو نه ځانله دې.
- هغه هميشه ژوندې دې۔په هرڅيز باندې دهغه قدرت دې.هيڅ يو څيز دهغه دعلم نه بهر نه دې۔هغه هر څه لرهويني، اوري. كلام فرمائي مګر دهغه كلام زمونږ خلقو د كلام په شان نه دې.څه چه غواړي كوي ئې، څوک هغه لره منع كولو والانشته دې .
- هم هغه د عبادت لائق دې، دهغه څوک شريک نشته دې.پخپل بندګانو باندې مهربان دې. بادشاه دې. د ټولو عيبونو نه پاک دې. هم هغه خپل بندګان د آفتونو نه بچ كوي. هم هغه عزت والا دې، لوئې والا دې. د ټولو څيزونو پيدا كونكې دې، دهغه څوک پيدا كونكې نه دې. د ګناهونو بخښونكې دې. قوت والا دې. ډير وركونكې دې، روزې رسولو والا دې،دچا روزي چه غواړي نو تنګوي ئې او د چاچه روزي غواړي نو فراخه كوي ئې.چالره چه غواړي نو ښكته كوي ئې،او چالره چه غواړي نو اوچتوي

ئې، چاته چه غواړي نو عزت ورکوي او چاته چه غواړي نو ذلت ورکوي. انصاف والا دې، لوې تحمل او برداشت والا دې.

- دخدمت او عبادت قدر کونکې دې. دعا قبلونکې دې. هغه په ټولو حاکم دي، په هغه هيڅ څوک حاکم نشته دې. دهغه هيڅ يو حکم هم د حکمت نه خالي نه وي. هغه دټولو کارونه جوړونکې دې. هغه ټول پيدا کړې دي، هم هغه به په قيامت کښې پيدا کوي. هم هغه ژوندې کونکې دې، او هم هغه مړ کونکې دې.
- هغه په علاماتو او صفاتو سره پيژندلې شي، د هغه د حقيقت څوک ادراک نه شي کولې. د ګناهګارانو توبه قبلوي، کوم چې دسزا قابل وي هغه ته سزا ورکوي. هم هغه هدايت ورکوي. په کائنات کښې چه څه هم دي دهغه په حکم سره دي، دهغه دحکم نه بغير ذره هم نه شي خوزيدې.
- نه هغه اوده کيږي، نه ورته د خوب جټکه راځي. هغه د ټول کائنات د نګرانئ نه ستړې کيږي نه. هغه ټول کائنات لره ټينګ کړې دي. دهغه دپاره ټول د کمال صفات ثابت دي. او هغه د هر عيب او نقص نه پاک دې.

**د الله تعالي صفات:**

د الله تعالي صفات دهميشه نه دي او هميشه به وي او دهغه هيڅ يو صفت کله هم نه ختميږي. په قرآن وحديث کښې چه چرته هم د الله تعالي دپاره د مخلوق په شان د صفاتو ذکر دې، لکه : د الله تعالي لاس، يا د الله تعالي په عرش عظيم باندې قائميدل وغيره،

دهغه حقیقت الله تعالي پخپله پیژني، بندګانو ته د هغې دحقیقت معلومولو نه بغیر په هغې د ایمان راوړلو حکم دې.دا صفاتونه دالله تعالي د شان مطابق دالله تعالی دپاره ثابت دي. چه ددې څه کیفیت او نوعیت چاته معلوم نه دې.

## دتوحید عقیدهٔ :

په زړه سره دالله تعالي یو منل او په ژبې سره د هغې اقرار کولو ته توحید وائي.

ټول قرآن مجید د اول نه آخر پورې د توحید تعلیم نه ډک دې.
څو آیتونه دا دي:

وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ (بقره:۱۶۳)

'' ستاسو معبود یو الله دې د هغه نه بغیر بل څوک معبود نشته هغه ډیر بخښونکې او مهربان دې.''

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ

(آل عمران:۱۸)

'' الله تعالي ګواه دې چه دهغه نه بغیر بل څوک معبود نشته دې او فرښتې او اهل علم هم ددې خبرې ګواهي ورکوي-هغه انصاف قائمه ونکې دې-دهغه نه سیوا بل څوک معبود نشته دې، هغه غالب حکمت والا دې-''

دغه شان بې شماره آیتونه د الله تعالي دتوحید تعلیم ورکوي لکه :

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ " ته اووایه چې الله یو دې "۔

# دکفراوشرک اوبدعت بیان

ایما هغه وخت صحیح کیږي کله چه الله تعالي او رسول الله صلي الله علیه وسلم لره په ټولو خبرو ریښتوني اوګڼړې او هغه ټولې اومنې۔

## کفر:

په کومو څیزونو چې ایمان راوړل ضروري دي په هغې کښې یوه خبره هم نه منل کفر دې (۱) یا دالله تعالي دصفاتو نه انکاراوکړی یا دوه درې خدایان اومنی یا دالله تعالي په کتابونوکښې دیو کتاب نه انکاراوکړی یایو پیغمبر لره اونه منی یا دتقدیرنه منکر وي یا دقیامت ورځ نه مني یا دالله تعالي په قطعي حکمونو کښې دیو حکم نه انکار یا شک اوکړي، یا د رسول الله صلي الله علیه وسلم ورکړې شوی یو خبر لره دروغ اوګڼړي، په هغې کښې عیب راوباسي، هغې پورې مذاق اوکړي په دې ټولو صورتونوکښې به انسان کافر شي۔

## شرک:

او شرک دې ته وائي چې دالله تعالي په ذات یا صفاتو کښې څوک بل ورسره شریک کړي یا دالله تعالي عبادت بل چا باندې خرچ کړي۔

(۱) مثلاً یوسړې الله تعالی لره اونه منی یا..........

# د شرک قسمونه

## د الله تعالی په ذات کښې څوک شریک کول :

په ذات کښې د شرک کولو معني داده چې دوه یا درې یا زیات خدایان اومنې لکه چې عیسائیان د درې خدایانو منلو په وجه سره مشرکان دي او آتش پرست د دوه خدایانو منلو په وجه سره مشرکان شول اولکه څنګه چې هندوان ډیر خدایانو لره منلو سره مشرکان شوې دي۔

## په صفاتو کښې شرک:

د الله تعالي دصفاتو په شان بل چا لره څه صفت ثابتول شرک دې ځکه چې په هیڅ یو مخلوق کښې خواه هغه فرښته وي یا نبي،ولي وي یا شهید ،پیر وي یا امام دالله تعالي د صفتونو په شان یو صفت نه شي کیدې۔

## د شرک في الصفات قسمونه :

د شرک في الصفات ډیرقسمونه دي -دلته مونږ څو قسمونه ذکر کوؤ:

## [1]شرک في القدرت:

د الله تعالي په شان صفت قدرت دبل چا دپاره ثابتول مثلاً دا ګڼړل چې فلانې پیغمبر یا ولي یا شهید وغیره اوبه (باران) راورولې شي یا ځوې یا لور ورکولې شي یا مرادونه پوره کولې شي یا روزي ورکولې شي یا مړکول،سوزول،دهغه په قبضه کښې دي یا چاته په نفع او نقصان رسولو باندې قدرت لري- دا ټولې خبرې شرک دې۔

## [2] شرک في العلم:

دالله تعالي په شان بل چالره د علم صفت ثابتول مثلاً داسې ګنړل چې دالله تعالي په شان فلانې پیغمبریا ولي پیر وغیره دغیبو علم لري یا دالله تعالي په شان د ذرې ذرې هغوي ته علم دې یا زمونږ دحالاتو نه واقف دي یا دلرې او نزدې دڅیزونو خبر لري دا ټول شرک في العلم دي۔

## [3] شرک في السمع والبصر:

دالله تعالي په صفت سمع یا بصرکښې څوک بل شریک کول مثلاً دا عقیده ساتل چې فلانې پیغمبر یا ولي زمونږ ټولو خبرو لره د لرې او نزدې نه اوري یا مونږ او زمونږ کارونه لره دهرځائې نه وینې ټول شرک دي۔

## [4] شرک في الحکم:

دالله تعالیٰ په شان بل چالره حاکم ګنړل او دهغه حکم دالله تعالي دحکم په شان منل۔مثلاً پیر صاحب حکم ورکړو چې دا وظیفه د مازیګر دمونځ نه مخکښې لوله نو دهغه د حکم تعمیل کول او دومره ضروري ئې ګنړل چې د وظیفې پوره کیدو د وجې نه د مازیګر دوخت د مکروه کیدو یا دقضاکیدو پرواه نه کوي دا هم شرک دي۔ (دغه شان دالله تعالي دحکم او قانون په مقابله کښې دبل چا په حکم اوقانون باندې راضي کیدل هم شرک دي)۔

## [5] شرك في العبادت:

د الله تعالي په شان بل چالره دعبادت مستحق ګڼړل- مثلاً کوم قبر يا پيرته سجده کول يا دچادپاره رکوع کول يا دچا پير، پيغمبر، ولي، امام په نوم روژه نيول يا دچا نذر اومنت منل يا دچا دقبر يا دمرشد دکور دخانه کعبې په شان طواف کول داټول شرک في العبادت دې-

## باقي شرکيه افعال(کارونه) :

ډيرکارونه داسې دي چې په هغې کښې دشرک ملاوټ دې، ددې ټولو کارونو نه ځان ساتل لازمي دي- هغه کارونه دادي-

دنجوميانو نه دغيب د خبرو تپوس کول-پنډت ته لاس خودل په چاباندې فال کتل، د(چيچک شرې) يا دبلې بيمارۍ.....کول- او داګڼړل دا يوه بيماري بل ته هم لګي-تعزيه جوړول، علم (جهنډا) اوچتول، په قبرونو باندې څادرونه وغيره خورول، نذرونياز کول، دالله تعالي نه بغير دبل چاپه نوم قسم خوړل، د بزرګانو فوټوان جوړول يا دتصويرانو تعظيم کول، چا پيريا ولي لره حاجت رواه، مشکل کشا ګڼړلو سره رابلل- دچاپير په نوم په سرباندې بوټے پريخودل - ياپه محرم کښې داامامانو په نوم فقير جوړيدل، په قبرونو ميله لګول، عرس کول وغيره-

## بدعت:

زمونږ په دين کښې د کفراوشرک نه پس بدعت لويه ګناه ده -

بدعت ډيربدخيز دې نبي کريم ﷺ بدعت لره مردود فرمائيلي دې چې کو سړې بدعت راوباسي هغه ته ئې ددين نړونکې وئيلې دې او فرمائيلي ئې دي که هربدعت ګمراهي ده او هره ګمراهي دوزخ ته بوتلونکي ده -

## دبدعت تعريف:

بدعت هغه څيزونو ته وائي چې دهغې اصل په شريعت کښې ثابت نه وي يعني دقرآن مجيداو احاديثونه ددې ثبوت نه ملاويږي د رسول الله صلي الله عليه وسلم او د صحابه کرامو او دتابعينو او تبع تابعينوپه زمانه کښې ددې وجود نه وي -او دې لره ددين کار ګنړلو سره سره دثواب په نيت باندې کولې شي ياپريخودلې شي -

## څومشهوربدعات:

خلقو په زرګونو بدعتونه راوستې دي څو بدعتونه دادي:

پاخه قبرونه جوړول،په قبرونو ګنبدونه جوړول،په دهوم دهام سره عرس کول،په قبرونو باندې ډيوې لګول،په قبرونو څادرې او غلافونه خورول، ميلاد مناوهل،د ذکر دپاره حلقې جوړول، او په جهر سره ذکرکول، دمړي په کور کښې دخوراک دپاره جمع کيدل،په واده کښې سهرا تړل،بدهي اغوستل، او هرجائز يا مستحب کارکښې داسې شرطونه دخپل طرف نه لګول چې دهغې په شريعت کښې ثبوت نه وي-

## دتقدير مسئله :

په دنيا کښې چې څه ښه،بد کيږي ټولولره الله تعالي، ددې کيدو نه مخکښې دهميشه نه پيژني او دخپل علم مطابق دې لره پيدا کوي -

هره خبره او ښه اوبد څيزدپاره دالله تعالي په علم کښې يو اندازه مقرره ده اود هرڅيز پيداکولو نه مخکښې الله تعالي هغې لره

پيژني دالله تعالي دې علم او اندازې ته تقدير وائي-هيڅ يو ښه يابده خبره دالله تعالي دعلم داندازې نه بهر نه ده-

## مشيئت او اراده :

بندګانو لره الله تعالي پوهه جوړ کړې اراده ئې ورکړې ده،چې په هغې سره دګناه او ثواب کار په خپل اختيار سره کوي،دګناه په کارسره الله تعالي ناراضه او دثواب په کارسره الله تعالي خوشحاله کيږي-

## پيغمبران عليهم السلام:

- انبياء د الله تعالیٰ بندګان اوانسانان وي،الله تعالي دوي لره خپلو بندګانوته د احکام رسولو دپاره مقررکوي-هغوي ريښتوني وي،کله هم دروغ نه وائي،ګناه نه کوي-د الله تعالي پيغام پوره په پوره رسوي-په هغې کښې کمې بيشې نه کوي-
- انبياء کرام عليهم السلام کښې دټولو نه اول آدم عليه السلام او دټولو نه آخر حضرت محمدرسول الله ﷺ اوباقي انبياء په مينځ کښې راغلې دي-
- په دوي کښې بعضې ډيرمشهوردي،لکه: حضرت نوح عليه السلام، ابراهيم عليه السلام،اسحاق عليه السلام،اسماعيل عليه السلام، ايوب عليه السلام،موسیٰ عليه السلام،هارون عليه السلام، زکريا عليه السلام، يحییٰ عليه السلام،عيسیٰ عليه السلام، الياس عليه السلام، اليسع عليه السلام،يونس عليه السلام،لوط عليه السلام،ادريس عليه السلام ، ذوالکفل عليه السلام،صالح عليه السلام،هود عليه السلام، شعيب عليه السلام-

- د پیغمبرانو صحیح تعداد الله تعالي چاته نه دې خودلې، په دې وجه داعقیده ساتل چه دالله تعالي لیږلې شوې څومره پیغمبران دي،مونږ په هغوي باندې ایمان راوړوچې کوم مونږته معلوم دي او کوم مونږته معلوم نه دي په هغوي هم۔
- په پیغمبرانو کښې د بعضې مرتبه د بعضونه لویه ده۔دټولو نه زیاته لویه مرتبه زمونږ دپیغمبرمحمد مصطفيٰ ﷺ ده۔ددوي نه روستو بل نوې پیغمبرنه شي راتللې ۔
- قیامته پورې چې څومره انسانان اوپیریان به وي نو نبي علیه السلام ددې ټولو پیغمبردې۔
- ټول پیغمبران علیهم السلام معصوم یعني دګناه نه پاک دي۔

## معجزې:

د الله تعالي لیږلې شوې ډیرپیغمبران علیهم السلام بندګانو ته نیغه لاره خودلودپاره راغلل۔دهغوي دریښتونوالي دپاره الله تعالي دهغوي په لاس باندې داسې نوې نوې اوعجیبه خبرې ښکاره کړې چې نور خلق ئې نه شي کولې۔داسې خبرو ته "معجزه" وائي ۔

## معراج:

زمونږپیغمبر ﷺ ته الله تعالي ډیر زیات معجزات ورکړې دي،په هغې کښې یوه داده چې نبي علیه السلام له الله تعالي په ویښه دبیدارئ په حالت کښې دمکې مکرمې نه بیت المقدس ته او هلته نه اووه آسمانونو باندې او هلته نه چرته چې الله تعالي غوښتل، اورسوؤ، دې ته "معراج" وائي ۔

## فرښتې:

الله تعالي يو مخلوق دنور نه پيدا کړې دې چې زمونږ د نظرونو نه پټ دې،هغې ته "فرښتې" وائي هغوي دالله تعالي دطرف نه د کائنات دنظام چلولو متعلق په ډير کارونو باندې مامور دي-هغوي کله هم دالله تعالي دحکم خلاف کار نه کوي-الله تعالي چې دوي په کوم کار کښې لګولې دي هغوي په هغې کښې لګيدلې دي -

### په هغوي کښې څلور فرښتې ډيرې مشهورې دی:

حضرت جبرائيل عليه السلام،حضرت ميکائيل عليه السلام، حضرت اسرافيل عليه السلام، حضرت عزرائيل عليه السلام-

## پيريان:

الله تعالي څه مخلوق د اُور نه پيدا کړې دې، هغه مونږ ته نه ښکاري، هغوي ته ''پيريې'' وائي-په هغوي کښې نيک وبد هرقسم وي-دهغوي اولاد هم وي-په هغوي کښې دټولو نه زيات مشهور او شرارتي ''ابليس'' يعني شيطان دې-

## ولي ، ولايت او کرامت:

مسلمان چې کله ډير عبادت کوي،دګناهونو نه ځان ساتي، دنيا سره محبت نه کوي او دپيغمبر مکمل اطاعت او فرمانبرداري کوي نو هغه دالله تعالي دوست او ورته خوښ وي- داسې کس ته"ولي" وائي-ددې کس نه کله دعادت خلاف داسې خبرې کيږي چې دنورو خلقو نه نه شي کيدې، دې خبرو ته ''کرامت'' وائي -

❁ ولي چې هر څومره لوې درجې ته اورسي خو دنبي برابر نه شي کيدې-

❁ څوک هم چې دالله تعالي څومره خوښ شي مګر کله پورې چې دانسان هوش وحواس باقي وي په هغې باندې د"شريعت"پابند اوسيدل فرض دي-مونځ ،روژه او هيڅ يو عبادت ورته معاف نه دې-دګناه کار دهغه دپاره جائز نه دې-

❁ دکوم کس عمل چې دشريعت خلاف وي هغه دالله تعالي دوست نه شي کيدې-کچرې د هغه په لاس سره داسې څه کار اوشي چې نور خلق ئې نه شي کولې نو هغه جادو دې يانفساني او شيطاني چال دې-دهغه متعلق د ولي او بزرګ کيدو عقيده نه دې ساتل پکار-

❁ اوليائے کرامو ته بعضې د راز خبرې په خوب کښې يا په ويخه معلوميږي هغې ته ''کشف'' او "الهام" وائي،کچرې هغه دشريعت مطابق وي نو قبول دي يعني دهغې دانکار ضرورت نشته،او نه ئې منل ضروري دي اوکه دشريعت خلاف وي نو قبول نه دي-

## آسماني کتابونه:

الله تعالي ډيرکتابونه دآسمان نه دجبرائيل عليه السلام په ذريعه په ډيرو پيغمبرانو باندې نازل کړي دي،دې دپاره چې هغوي خپل خپل امتونو ته ددين خبرې اوښائي او لاره ورته اوښائي-په دې کښې کتابونه څلور ډيرمشهور دي:

(1) تورات، په حضرت موسيٰ عليه السلام باندې نازل شوې وو-

(2) زبور ،په حضرت داؤد عليه السلام باندې نازل شوې وو-

(3) انجيل ،په حضرت عيسيٰ عليه السلام باندې نازل شوې وو-

(4) قرآن مجيدزمونږ په خوږپيغمبرحضرت محمد ﷺ باندې نازل شو -

قرآن مجید د الله تعالي آخري کتاب دي، ددې نه پس به هیڅ یو آسماني کتاب نه راځي-قیامته پورې به دقرآن حکم چلیږي-نور کتابونه ګمراه خلقو ډیربدل کړي دي،خو دقرآن مجید دحفاظت وعده الله تعالي کړې ده،دې لره هیڅ څوک نه شي بدلولې-

## صحابه کرام رضي الله تعالی عنهم :

زمونږ خوږ پیغمبر ﷺ لره چې کوم کوم مسلمانانو لیدلي دي، هغوي ته''صحابه''وائي -چاچې دمسلمان کیدو په حالت کښې صحابي لره لیدلي وي هغه ''تابعي''دې اوچاچې تابعي دغسې لیدلي وي هغه ''تبع تابعي''دې-

ددې ټولو فضیلت په حدیث شریف کښې په خصوصیت سره راغلي دې-ددې ټولو سره محبت او ددې ټولو په باره کښې ښه ګمان ساتل پکاردي-کچرې ددوي په خپل مینځ کښې څه اختلاف په اوریدو کښې راشي نو هغه هیره اومنه، او دهغوي څه بدي مه بیانوه-

په صحابه کرامو رضوان الله علیهم کښې دټولو نه زیات فضیلت والا څلور صحابه دي: دټول نه اول حضرت ابوبکر صدیقؓ دې -حضرت ابوبکرؓ دنبي علیه السلام نه پس دهغه نائب جوړشواو ددین انتظام ئې سنبهال کړو، په دې وجه دوي اول خلیفه وائي-دوي په ټول امت کښې دټولونه افضل دې-

د دوي نه پس حضرت عمرفاروقؓ دې-دې دویم خلیفه دې- ددوي نه پس حضرت عثمان غنيؓ دې، دوي دریم خلیفه دې- ددوي نه پس حضرت عليؓ دې دوي څلورم خلیفه دې-

دصحابي دومره لويه مرتبه ده چې دلوې نه لوې ولي هم په مرتبه کښې د ادنٰي درجې صحابي ته نه شي رسيدې-

## دچا جنتي کيدل:

دکومونو خلقو نومونه چې الله تعالي او رسول الله ﷺ اخستې دي او دهغوي جنتي کيدل ئې ښودلې دي (مثلاً لس لوې صحابه چې هغوي ته "عشره مبشره" وائي) دهغوي نه علاوه دبل چا جنتي کيدلو يقيني حکم نه شي لګولې، البته ښه نښو کتلو سره ښه ګمان ساتل او دالله تعالي درحمت نه ښه اميد ساتل ضروري دي-

## اهل بيت:

د رسول الله ﷺ اولاد او پاکې بيبيانې رضي الله عنهن د دوي ''اهل بيت ''دي- دا ټول پاکې هستئ دتعظيم لائق دي-په اولاد کښې دټولو نه لويه مرتبه دحضرت فاطمة الزهرا رضي الله عنهاده او په بيبيانو کښې دحضرت خديجه رضي الله عنها او دحضرت عائشه رضي الله عنها ده-

## دقبر حالات:

کله چې سړې مړ شي کچرې هغه لره خخ کړې شي نو دخخولو نه پس،او کچرې دخخ نه کړې شي نوپه کوم حال کښې چې وي نو هغه ته دوه فرښتې چې يوه پکښې "منکر" دويمې "نکير"وائي راځي او تپوس کوي چې ستاپروردګار څوک دې؟ ستا دين څه دې؟ دحضرت محمد ﷺ په باره کښې تپوس کوي چې داڅوک دې؟ په صحيح جواب ورکولو باندې بيا دهغه دپاره هرقسمه آرام او سکون دې-دجنت طرفته

کهړکۍ کهلاؤهلې شي چې دهغې نه يخه يخه هوا او خوشبويانې راځي او هغه په مزې سره اوده وي-او کچرې ايماندار نه وي نو دټولو خبرو په جواب کښې همدا وائي چې ماته څه پته نشته دې، بيا په هغه باندې ترقيامته پورې ډيره سختي او اوعذاب وي -

دا ټول خبرې په مړي تيريږي،خو مونږ خلق ئې نه وينو لکه اوده کس چې په خوب کښې هرڅه ويني او ويخ کس هغه سره خواکښې بې خبره ناست وي-

دمرګ نه پس هره سحر اومابښام په وخت کښې مړي دهغه ټهکانه خودلې شي، جنتي ته دجنت ښودلو سره زيرېورکولې شي او دوزخي ته دوزخ ښودلو سره ئې غم وافسوس زياتولې شي.-

## دقيامت علامات:

نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلې دي کله چې په دنيا کښې ګناهونه زيات شي خلق دخپل مورپلار نافرمانۍ او په هغوي باندې سختيانې شروع شي اوپه امانت کښې خيانت شروع شي-او ډول سرنا او ګډاګانې زياتې شي او مخکښني بزرګانو ته بدرد وئيل شروع شي-بې علمه او کم علم والاخلق دمشران شي،شپونکي وغيره دکمې درجې خلق لوې لوې محلونه جوړول شروع کړي،ناقابله خلقو ته لوې لوې عهدې ملاؤ شي نو پوهه چې قيامت نزدې راغې!

الله تعالي او دهغه رسولﷺ دقيامت څومره نښې چې ښودلې دي ټول ضرور پوره کيدو والادي-قيامت ته نزدې به حضرت مهدي ښکاره شي او ښه په انصاف سره به حکومت کوي،دجال به راوځي او

په دنیا کښې به فساد خوروي-دهغه دقتلولو دپاره حضرت عیسیٰ علیه السلام به د آسمان نه راکوزیږي او هغه لره به مړ کوي-یاجوج ماجوج ډیر فسادیان خلق دي، هغوي به په ټوله زمکه کښې خواره شي اوډیر فساد به خوروي بیا به دالله تعالي په حکم سره هلاک شي-یو عجیبه قسم څناور به د زمکې نه راوځي او خلقو سره به خبرې کوي-

نمر به دمغرب طرفنه راوځي-قرآن مجید به اوچت کړې شي او په لږو ورځو کښې به ټول مسلمانان مړه شي، ټوله دنیا به د کافرانو نه ډکه شي، ددې نه علاوه به نورې ډیرې خبرې وي-بیا به قیامت راځي-

## قیامت به کله راځي:

قیامت راتلونکې دې خو ددې صحیح وخت دالله تعالي نه سوا بل چاته نه دې معلوم-دومره معلوم دې چې دجمعې په ورځ او د محرم لسم تاریخ به وي او نبي علیه السلام چې دقیامت کومې نښې ښودلې دي هغې نښو ته کتو سره دقیامت نزدې راتلل معلومیږي-

## دقیامت ابتداء:

کله چې ټولې نښې پوره شي نوقیامت به شروع شي- حضرت اسرافیل علیه السلام به دالله تعالي په حکم سره شپیلۍ اووهي- شپیلۍ د ښکر په شان یو څیزدې-په شپیلۍ وهلو سره به زمکه او آسمان اوچوي او ټکړې ټکړې به شي-ټول مخلوقات به مړه شي او کوم چې مړه شوې دي، دهغوي روحونه به بې هوشه شي،مګر الله تعالي ته چې دچا روحونه بچ کول منظور وي هغوي به په خپل حال باندې وي- یوه موده به په داسې کیفیت کښې تیره شي -

## دقیامت ورځ:

بیا کله چې الله تعالي ته منظوره وي چې ټول مخلوقات بیا پیدا شي نو په دویم ځل به شپیلۍ اووهلې شي-په دې سره به بیا ټول مخلوقات پیدا شي-مړي به ژوندي شي او د حشر میدان کښې به راجمع شي او هلته به دتکلیفونو نه یریږي نمبر په نمبر به ټولو پیغمبرانو ته دسفارش کولو دپاره لاړ شي-آخر به زمونږ پیغمبر ﷺ سفارش کوي-تله به اودرولې شي، ښه اوبد عمل به اوتللې شي، دهغې حساب به وي- بعضې خلق به بغیر دحساب نه جنت ته لاړشي-د نیکانو خلقو اعمال نامه به په ښي لاس کښې او دبدعمله خلقو اعمال نامه به په ګس لاس کښې ورکړې شي- زمونږ پیغمبر ﷺ به خپل امت باندې د حوض کوثر اوبه اوڅکوي چې دپیو نه به زیاتې سپینې او دشاتو نه به زیاتې خوږې وي، په پلِ صراط باندې به تیریدل وي، چې کوم نیکان خلق وي هغه به په دې باندې تیریدو سره جنت ته اورسي-چې کوم بد دي هغه به دوزخ ته پریوځي -

## جنت:

جنت پیدا شوې دې او په هغې کښې قسماقسم دآرام او سکون اسباب او نعمتونه دي-جنتیانو ته به هیڅ قسمه یره او غم نه وي اوپه هغې کښې به همیشه اوسیږي، نه به دهغې نه اووځي اونه به هلته مرګ وي-

## د الله تعالی دیدار:

په جنت کښې دټولو نه لوې نعمت دالله تعالي دیدار دې چې جنتیانو ته به نصیب کیږي. ددې دخوند په مقابله کښې ټول نعمتونه به بې حیثیته معلومیږي-

البته په دنیا کښې دبیدارئ په حالت کښې الله تعالي لره په دې سترګوباندې چا نه دې لیدلې او نه ئې څوک لیدلې شي-

## دوزخ:

دوزخ پیدا شوې دې، په دې کښې ماران، لړمانان او قسما قسم عذابونه دي-په دوزخیانو کښې چې په چاکښې هم ذره برابر ایمان وي هغه دخپلو اعمالو سزا خوړلو نه پس به دپیغمبرانو او نیکانو خلقو په سفارش سره راوځي اوجنت ته به داخل شي، خواه څومره هم زیات ګناهګار وي او کوم چې کافران او مشرکان وي هغه به پکښې همیشه وي او هغوي ته به مرګ هم نه راځي-

## ایصال ثواب:

مړي ته دبدني او مالي عبادت ثواب رسیږي-یعني ژوندي خلق که څه نیک کار اوکړي مثلاً قرآن شریف یا درود شریف اولولي، دالله تعالي په لاره کښې صدقه خیرات ورکړي، په چا اوږي باندې خوراک اوخوروي، نوددې کارونو ثواب دالله تعالي دطرف نه هغه ته ملاویږي-خو الله تعالي په خپل رحمت سره دومره هم اختیار ورکړې دې چې کچرې دا نیک کار کونکې خپل ثواب کوم مړي ته رسول غواړي نو دالله تعالي نه دې دعا اوغواړي چې اې الله ددې کار ثواب ما فلاني سړي ته اوبخښلو نو الله تعالي هغه مړي ته ددې ثواب رسوي!

داسې ثواب رسولو دپاره دڅه خاص ځیزیا خاص وخت یاخاص صورت دخپل طرف نه تخصیص نه دې کول پکار بلکه چې کوم ځیز څه وخت هم میسر وي نو هغه دالله تعالي دپاره چا مستحق ته ورکول او دهغې ثواب بخښل پکار دي د رسم دپابندئ او دخودلو یا نوم اوشهرت دپاره لوې لوې دعوتونه کول یا دخپل وس نه زیات قرض اخستلو سره رسم پوره کول ډیر بد عمل دې-

## خاتمه:

ټول عمر څوک څومره هم ښه، یابد وي خو چې په کوم حالت ئې خاتمه اوشوه دهغې مطابق به اوچتیږي هغه ته ښه یا بده بدله ملاویږي -

## توبه:

چې کوم ګناهونه داسې دي چې دیو بنده هغې سره تعلق نشته دې یعني حقوق الله دي، صرف دالله تعالي حق دې چې هغه دنافرمانۍ کولو په وجه سره سزا ورکړي، داسې ټول ګناهونه په توبې سره معاف کیدې شي، تردې چې دکفراوشرک ګناه هم په رښتوني توبه سره په دنیا کښې معاف کیږي-

خو چې کومه ګناه داسې ده چې دهغې تعلق دبنده سره دې-مثلاً دچایتیم مال خوړل یاپه چاتهمت لګول یا ظلم کول، داسې ګناهونوته حقوق العباد وائي-داصرف په توبه سره نه معاف کیږي بلکه ددې دمعافۍ دپاره ضروري دي چې ړومبې دهغه سړی حق ادا کړی یا په هغه باندې معاف کړی، ددې نه پس دالله تعالي په حضور کښې توبه اوکړی نوبیا د معافۍ امید کیدې شي!

ها سوا د کافراو مشرک نه به باقي ټول ګناهګار دخپل ګناهونو سزا خوړلو نه پس جنت ته ځي-او داهم ممکنه ده چې الله تعالي دکفروشرک نه علاوه باقي ګناهونه بغیردسزا خوړلو نه پس دچا په شفاعت سره یابغیرد شفاعت نه اوبخښي!

## دګناهونوبیان:

دکفراوشرک اوبدعت نه علاوه نور هم ډیر ګناهونه دي لکه:
دروغ وئیل، مونځ پریخودل، روژه نه نیول، زکوة نه ورکول، باوجود دمال او دطاقت د موجودکیدو حج نه کول، شراب څکل، غلا کول،

زناکول، غیبت کول، په دروغه ګواهي ورکول، دچاحق وهل، تکلیف ورکول، چغلي کول دهوکه ورکول، دمورپلار نافرماني کول، په خپل کورونو او کمرو کښې تصویران اویزاندول، په امانت کښې خیانت کول، خلقو لره سپک اوذلیل ګنڼل، جواري کول، کنځل کول، ګډا کتل، سود اخستل او ورکول، ګیره خریل، دګیټهونه لاندې پرتوګ اغوستل، فضول خرچي کول، لوبې تماشې ناټکونو، سینماګانو ته تلل، اوددې نه علاوه نورهم ډیر ګناهونه دي-

## دایمان شعبې:

رسول اللهﷺفرمائیلي دي : د ایمان د اویاؤ (70) نه څه زیاتې شعبې دي، په دې کښې دټولو نه لویه کلمه طیبه " لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ" ده او ټولونه وړه خبره داده چې دلارې نه څه ازغې، لرګې، کانړي پروت وي چې په هغې سره تلونکو ته تکلیف وي هغه لرې کښې، او شرم اوحیا هم دایمان په شعبوکښې یو اهمه شعبه ده-

ددې ارشاد نه معلومه شوه چې کله دومره خبرې دایمان سره تعلق لري نو پوره مسلمان به هغه وي په چاکښې چې ټولې خبرې وي اوچاکښې کومه یوه خبره وي دویمه نه وي، هغه نمیګړې مسلمان دې-داخو معلومه ده چې مسلمان ته پوره مسلمان کیدل ضروري دي، په دې وجه په هریو مسلمان لازم دي چې دې ټولو خبرو لره په ځان کښې پیدا کړي او کوشش اوکړي چې دکومې خبرې کسر پاتې نه شي- لاندې دایمان دشعبو تفصیل لیکلې شي-هغه ټولې اوؤه اویا (77) دي :

## دیرش د زړه سره متعلق دي:

1. په الله تعالیٰ باندې ایمان راوړل۔
2. دا عقیده ساتل چې دالله تعالي نه سوا ټول څیزونه مخکښې موجود نه وو، بیا دالله تعالي په پیدا کولو سره پیدا شو۔
3. دا یقین کول چې فرښتې موجودې دي۔
4. دا یقین کول چې الله تعالي څومره کتابونه په پیغمبرانو نازل کړي دي هغه ټول رښتوني دي ، اوس چونکه دقرآن مجید نه سوا نورکتابونه په اصلي حالت کښې محفوظ نه دي، په دې وجه په هغې عمل پاتې نه شو۔
5. دا یقین ساتل چې ټول پیغمبران رښتوني دي، البته اوس صرف د رسول الله ﷺ په طریقو باندې دتللو حکم دې۔
6. دا یقین ساتل چې الله تعالي ته دټولو خبرو دمخکښې نه علم دې او څه چې هغه ته منظوره وي هغه کیږي۔
7. دا یقین ساتل چې قیامت راتلونکې دې۔
8. جنت منل۔
9. دوزخ منل۔
10. الله تعالیٰ سره محبت ساتل ۔
11. رسوله الله ﷺ سره محبت کول۔
12. چاسره چې هم که محبت یادشمني کوې نودالله تعالي دپاره ئې کوه۔
13. په هر کار کښې دالله تعالي درضا نیت کول۔
14. په ګناهونو ښپیمانه کیدل۔

15. د الله تعالي نه یریدل۔
16. دالله تعالي د رحمت نه امید ساتل۔
17. شرم وحیا کول۔
18. د نعمت شکر ادا کول۔
19. صبر کول۔
20. وعده پوره کول۔
21. خپل ځان د نورو نه کم ګڼړل۔
22. په مخلوق رحم کول۔
23. کوم څه چې دالله تعالي د طرفنه وي، په هغې راضي کیدل۔
24. په الله تعالي بهروسه کول۔
25. خپله خوبي په چا نه منل۔
26. چا سره کینه او بغض نه ساتل۔
27. حسد نه کول۔
28. غصه نه کول۔
29. د چا بد نه غوښتل۔
30. دنیا سره محبت نه ساتل۔

## اووه خبرې د ژبې متعلق دي:

1. په ژبې سره کلمه وئیل۔
2. د قرآن شریف تلاوت کول۔
3. علم زده کول۔
4. علم خودل۔

5. دعا کول.
6. د الله تعالي ذکر کول۔
7. لغوه او د ګناه خبره، لکه: دروغ، غیبت، کنځل، ګانې وغیره نه بچ کیدل۔

## څلوښت خبرې د ټول بدن سره متعلق دي:

1. اودس کول، غسل کول، جامې پاکې ساتل۔
2. د مونځ پابند اوسیدل۔
3. زکوة، سرسایه ور کول۔
4. روژه نیول۔
5. حج کول۔
6. اعتکاف کول۔
7. چرته په اوسیدو کښې چې د دین نقصان وي، هلته نه هجرت کول۔
8. نذر پوره کول۔
9. د جائز کارونو قسم پوره کول۔
10. د قسم ماتولو نه پس د هغې کفاره ادا کول۔
11. ستر پټول۔
12. قرباني کول۔
13. د مړي کفن دفن کول۔
14. د قرض داري قرض ادا کول۔
15. په لین دین کښې خلاف شرع خبرو نه ځان ساتل۔
16. د رښتوني ګواهي نه پټول۔
17. کچرې نفس تقاضا کوي نو نکاح کول۔
18. د خپل ماتحتو حق ادا کول۔
19. مور پلار ته آرام رسول۔

20. د اولاد پرورش کول۔
21. رشته دارو سره بدسلوکي نه کول۔
22. د آقاتابعداري کول۔
23. انصاف کول۔
24. دمسلمانانو دجماعت نه ځانله څه طريقه نه راويستل۔
25. په جائز کارونو کښې دحاکم اطاعت کول۔
26. د جهګړا کونکو په مينځ کښې صلح کول۔
27. په نيک کار کښې مدد کول۔
28. دنيکۍ حکم کول۔
29. د بدۍ نه منع کول۔
30. د دين دشمنانو سره جهاد کول۔
31. امانت ادا کول۔
32. ضرورت والا ته قرضه ورکول۔
33. دګاونډي خيال ساتل۔
34. حلال ګټل۔
35. دشريعت مطابق خرچ کول۔
36. د سلام جواب ورکول۔
37. انتروشکي کونکي ته (يَرْحَمُكَ الله) وئيل۔
38. چاته ناحقه تکليف نه ورکول۔
39. دشرع خلاف لوبو تماشو نه ځان ساتل۔
**40**. د لار نه لوټه، کانړې، ازغې لرګې لرې کول

# د طهارت بیان

## نجاست :

دنجاست دوه قسمونه دي: يو هغه چې دهغې نجاست زيات سخت دې،چې لږ هم اولګي نوهم د وينځلو حکم دې، دې ته ''نجاست غليظه'' وائي-دويم هغه چې دهغه نجاست لږ کم او سپک دې ديته ''نجاست خفيفه'' وائي-

## نجاست غليظه :

وينه،دانسان لوې اودس ماتې،متيازې،منی شراب،دسپی، پيشو غُل،متيازې،دخنرير غوښه،دهغه ويښته،هډوکې وغيره، د اس، خر،قچر خاشنړه،دغوا،غوائي،ميښې وغيره سُوتې او د چيلۍ، ګډه پچې،غرض داچې دټولوځناوروغُل ،دچرګې،بطحې او مرغابې غُل اوخر،قچر او د ټولو حرامو ځناورو متيازې ،داټول ثيزونه ''نجاست غليظه''دي-

## نجاست خفيفه:

دحرامو مرغوغل او دحلالو څاروۋ متيازې، لکه چيلۍ، غوا، ميښه وغيره او داس متيازۍ ''نجاست خفيفه'' دي-

## څوثيزونه چې ناپاکه نه دي:

چرګه،بطحه،او دمرغابۍ نه سوا دنورو حلالو مرغو غُل پاک دي لکه : کوتره،چنچړه او خارو وغيره او دښاپيرک متيازې او غُل پاک دي-

## د نجاست غلیظه حکم:

نجاست غلیظه کښې کچرې نرې او بهیدونکې څیزدتلي دخوروالي برابر یاددې نه کم په جامه یا په بدن اولګي نومعاف دي، ددې د وینځلونه بغیر کچرې مونځ اوکړي نو مونځ کیږي، خو نه وینځل اوهم دغسې مونځ کول مکروه او بد دي-کچرې د تلی خوروالی یا ددې نه زیات وي نو معاف نه دي، ددې دوینځلو نه بغیربه مونځ نه کیږي-

کچري په نجاست غلیظه کښې څه پیړ څیز اولګي لکه : غُل او دچرګې وغیره ګندګي، نوکه په وزن کښې دڅلورنیم ماشې (یعني تقریبًا ۴۷۴ـ۴ګرام یا ۳۶رتې)یا ددې نه کم وي نو دهغې د وینځلونه بغیر مونځ صحیح دې اوکچرې ددې نه زیات اولګي نودوینځلونه بغیر مونځ صحیح نه دې-

د نجاست خفیفه حکم :

که ''نجاست خفیفه'' په جامه یا بدن باندې اولګي نوپه کومه حصه چې لګیدلې وي کچرې د هغې دڅلورمې حصې نه کمه وي نومعاف دې اوکه دڅلورمه حصه یا ددې نه زیات وي نو معاف نه دې، یعني که په لستوڼي باندې لګیدلې وي نودلستوڼي دڅلورمې حصې نه کم وي اوکه په .....کښې لګیدلې وي نو دهغې دڅلورمې حصې نه کم وي نو معاف دې-

# د اُوبو بيان

## چې په کوموا اُوبو سره طهارت جائز دې:

د آسمان نه وريدلې اوبه، لختې، ولې، چشمې او دکنوئې، تالاب او دسيندونو اوبو سره اودس او غسل کول صحيح دي، خواه خوږې اوبه وي يا ترخې۔

## کچرې په اوبو کښې څه پاک څيز اوغورزيږي:

ددې دوه صورتونه دي: په اول صورت کښې اودس جائز دې په دويم کښې نه دې:

### اول صورت:

په اوبو کښې څه پاک څيز پريوتلواو داوبو رنګ، خوند يا بوئې کښې څه فرق راغللو خو هغه څيز په اوبو کښې پوخ نه شو، نه د اوبو په نرۍ والې کښې څه فرق راغللو، لکه چې په روانو اوبو کښې چې څه شګه خاوره ګډه شوي وي يا په اوبو کښې څه زعفران (يا کيمکل) پريوتل اوددې لړ غوندې رنګ راغللو، يا صابن پريوتلو، يادغه شان څه څيز (شيمپو، ډيټول) پريوتل نوپه دې ټولو صورتونو کښې اودس او غسل صحيح دې۔

### دويم صورت:

په اوبو کښې څه بل څيز ملاؤ کړې شو يا په اوبو کښې پوخ کړې شو او داسې وه چې په عرف کښې ورته اوبه نه بلکه څه بل نوم ورته ورکولې شي، لکه شربت، شيره، ښوروا، سرکه، عرق ګلاب وغيره، په داسې څيز سره اودس او غسل صحيح نه دې۔

## کچرې په اوبو کښې څه ناپاکه څيز پريوتلو:

په کومو اوبوکښې چې پليتي پريوتله ددې نه اودس او غسل کول صحيح نه دي، خواه هغه پليتي لږه وي يا ډيره، البته کچرې اوبه جاري وي نوهغه په نجاست پريوتلو سره نه ناپاکه کيږي، کله پورې چې ددې رنګ، خونديابوئي کښې فرق رانشي اوکله چې دنجاست په وجه سره رنګ يا خوند بدل شو يا بوئي ترې راغې نو بهيدونکي اوبه به هم ناپاکه شي، ددې نه اودس کول صحيح نه دي۔

# داستنجاء بيان

### استنجاء:

- کچرې نجاست بالکل د اخوا ديخوا نه اوځي او په اوبو سره استنجاء اونکړې بلکه په ټشو پيپر وغيره استنجا اوکړې او دومره ئې اوچ کړی چې نجاست لاړشي او بدن صفاشي نو هم جائز دي، خو داخبره دنظافت خلاف ده۔
- په لوټه (ياټشو) سره داستنجا کولو نه پس په اوبو سره استنجا کول افضل دي،خو که نجاست دتلي د ژوروالي نه زيات خورشي نو داسې وخت کښې په اوبو سره وينځل واجب دي،د وينځلو نه بغير به مونځ نه کيږي۔اوکچرې نجاست خورشوې نه وي نو صرف په لوټه (يا ټشو) سره پاکولو سره هم مونځ صحيح دې خو په اوبو سره پاکي حاصلول بهتر دي۔
- متيازو يا غټ اودس ماتي کولو په وخت قبلې طرفته مخ کول يا شاکول منع دي۔

❁ ماشوم بچي لره قبلې طرفته مخ کولو سره متیازو یا غټې اودس ماتې کولو دپاره کینول هم مکروه اومنع دي۔

# د اودس بیان

## د اودس فرائض:

په اودس کښې صرف څلور څیزونه فرض دي۔

❁ یوځل پوره مخ وینځل۔

❁ یوځل دځنګلو سره دواړه لاسونه وینځل۔

❁ یوځل دسر دڅلورمې حصې مسح کول۔

❁ یوځل دګیټو سره دواړه خپې وینځل۔

❁ په دې کښې کچرې یوڅیز هم پاتې شو یا دویښته برابر ځائې اوچ پاتې شو نو اودس نه کیږي۔

## د اودس سنتونه:

د اودس سنت دادي:

(1)نیت کول (2) اول دمړوندونو پورې دواړه لاسونه وینځل (3)بسم الله وئیل (4)غرغرې کول (5)په پوزه کښې اوبه اچول (6)مسواک کول (7)دپورسر مسح کول (8)هر اندام درې درې ځله وینځل (9) دغوږونو مسح کول (10)د لاسونو او خپو دګوتو خلال کول (11)د ګیرې خلال کول (12)په ترتیب سره اودس کول (13)مسلسل اودس کول چې دیو اندام د اوچیدو نه مخکښې بل اندام وینځی۔

## د اودس کولو طریقه:

اودس کونکي ته پکار دي چې د اودس نه مخکښې په زړه کښې د طهارت نیت اوکړي ''نیت'' نه بغیر به د اودس ثواب نه وي، اګرچه اودس به اوشي۔اودس کولو په وخت قبلې طرفته دې مخ کړی او په اوچت ځائې دې کینی دې دپاره چې څڅکي په پریونځي۔

د اودس شروع کولو په وخت''بسم اللہ الرحمٰن الرحیم''وئیل او د ټولو نه مخکښې درې ځله د مړوندونو پورې دواړه لاسونه وینځل۔بیا درې ځله غرغرې کول(خله کښې اوبه اچول) او مسواک کول۔که مسواک نه وي نو په څه پیړې کپړې سره یا صرف په ګوتې سره خپل غاښونه صفاکول دې دپاره چې خیرې پاتې نه شي۔کچرې روزه دارنه وي نو په غرغره کولو سره په ښه طریقې سره پوره خلې ته اوبه رسول اوکه روژه وي نو غرغره نه کول، ځکه چې په حلق کښې اوبو تللو خطره ده۔

بیا درې ځله په پوزه کښې اوبه اچول او ګس لاس سره داسې صفاکول چې دپوزې نرم هډوکی پورې اوبه اورسي دچا چې روژه وي نو هغه دې د نرم هډوکي پورې اوبه نه رسوي۔

بیا دسر دویښتونه واخله دزنې لاندې پورې او دیو غوږ دنرمې نه تربل غوږ نرمې پورې درې ځله مخ وینځل۔کوشش کول چې چرته څه ځائې اوچ پاتې نه شي۔

بیا درې ځله ښې لاس دځنګلو سره وینځل۔بیا ګس لاس دځنګلو سره درې ځله وینځل او دیو لاس ګوتې په بل لاس کښې

اچولو سره دګوتو خلال کول۔ګوتمه وغیره چې په لاس کښې وي، هغې لره خوزول دي دپاره چې دهغې لاندې ځائې اوچ پاتې نه شي۔

بیا یوځل دپوره سرمسح کول۔بیا دغوږ مسح کول۔د دننه حصې دشهادت په ګوتې سره او دغوږ دپاسه حصه باندې په متهو ګوتو سره مسح کول۔بیا دګوتو په شا سره دځټ مسح کول،خو دمرئ مسح دي نه کوی چه دا بدعت دې۔دغوږ دمسح دپاره نوې اوبو اخستو ضرورت نشته دې، بلکه دسر په مسح سره چې په ګوتو کوم لوندوالې پاتې وي هغه کافي دي۔

په آخر کښې درې ځله ښې خپه د ګیټو سره وینځل،بیا ګسه خپه دګیټو سره درې ځله وینځل او ګس لاس په کچه ګوته سره د خپو دګوتو خلال کول۔د ښې خپې د کچې ګوتې نه به شروع کړې اودګسې خپې په کچه ګوته به ئې ختم کړې۔

## د اودس کولو نه پس به دا دعا اولولې:

اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ۔

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ، وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ

**تنبیه**:په پاس ذکرشوې طریقې سره اودس کول سنت دې۔کچرې کله ددې خلاف اوکړې، مثلاً: دترتیب خلاف اودس ئې اوکړولکه دټولو نه مخکښې دلاس وینځلو په ځائې خپې اوینځلې،بیائې مخ وغیره اوینځلو، یا دیواندام وینځلو نه پس په دویم اندام وینځلو کښې په قصد سره دومره تاخیراوکړي چې اولنې اندام اوچ شي یاد اودس بل یو سنت ئې پریخودلو نو اودس به بیاهم اوشي، خو دسنت مطابق به نه وي او

کچرې څوک د داسې کولو عادت جوړ کړي نو ګناهګار به وي۔

- د اودس په دوران کښې بغير دضرورت نه دې دنياوي خبرې نه کوي۔د ضرورت په خبرو کولو کښې څه حرج نشته دې۔
- اودس څومره هم زياتې وي مثلاً څوک د درياب په غاړه وي بيا به هم اوبه دضرورت نه زياتې نه خرچ کوي او نه به داوبو په استعمال کولو کښې دومره کمې کوي چې اندامونه په ښه طريقه باندې اونه وينځلې شي۔

# اودس ماتونکي څيزونه

## متيازې، غټ اودس ماتې

متيازې،غټ اودس ماتې او هوا چې کومه دغټ اودس ماتي په لار باندې اووځي په دې سره اودس ماتيږي۔

**وينه پيپ وغيره:**

په وينه ويستلو،په پوزه وينه راتللو اودبدن دڅه حصې هم ددانې پُولې يا زخم نه وينه يا پيپ راوتلو سره اودس ماتيږي، البته کچرې وينه يا پيپ د زخم نه مخکښې لاړه نه شي نو اودس نه ماتيږي۔

**التې (قې) راتلل:**

کچرې قې راغلو او په دې کښې روټۍ يا اوبه وغيره راپريوځي نو که په ډکه خله وي نو اودس به مات شي او که په ډکه خله نه وي نو اودس نه دې مات۔

## خوب، بې هوشي او نشه:

په ملاسته سترګې ورغلې یا څه څیزته تیک لګولو سره په ناسته ناسته اوده شو او داسې غفلت شو چې که تیک ئې نه وې لګولې نو پریوتلو نو اودس مات شو اوکه په مانځه کښې په ناسته ناسته یا په ولاړه یا دسجدې په حالت کښې اوده شو نو اودس نه ماتیږي۔

## خندا او قهقه:

کچرې په مونځ کښې دومره په زوره سره خندا اوکړي چې ده او دده سره خوا کښې کسانو هم آواز واوریدو نو اودس مات شو او مونځ هم مات شو۔اوکه پخپله ئې آواز واوریدو مګر خوا کښې ورسره کسانو نه وي اوریدلې،نوپه دې سره به مونځ مات شي خو اودس نه ماتیږي۔که په خندا کښې صرف غاښونه ښکاره شول، آواز ئې بالکل نه دې ویستلې، نو نه اودس مات شو، اونه مونځ مات شو۔

# دغسل بيان

## دغسل مسنون طريقه:

غسل كونكي ته پكار دي چې اول دې د مړوندونو پورې دواړه لاسونه اووينځي، بيا دې استنجا اوكړي، كه په لاس او د استنجاپه ځائې باندې نجاست وي يا نه وي،بيا په بدن باندې چې په كوم ځائې نجاست لګيدلې وي هغه دې پاک كړي بيا دې اودس اوكړي۔ اودس نه دې پس درې ځله په سرباندې اوبه واچوي،بيا درې په ښي اوګه باندې،بيا درې ځله په ګسه اوګه باندې داسې اوبه اچول چې په ټول بدن باندې اوبهيږي۔په پوره بدن باندې ښه لاس وهلو سره اوبه بهيول دې دپاره چې ټول ځايونو ته ښه اوبه اورسي،څه ځائې اوچ پاتې نه شي۔

## دغسل فرائض:

په غسل كښې صرف درې څيزونه فرض دي۔

(1) داسې غرغرې كول چې پوره خلې ته اوبه اورسي۔

(2) د پوزې نرم حصې ته اوبه رسول۔ (3) په پوره بدن اوبه بهيول۔

## دغسل سنتونه:

په غسل كښې دا څيزونه سنت دي۔

- دغسل نيت (اراده ) كول۔
- بسم الله وئيل ۔
- بدن مږل ۔
- د غسل مسنون طريقه چې كومه بيان كړې شوه دهغې مطالق غسل كول۔

## دغسل مستحبات:

- غسل کولو په خت قبلې نه مخ کول۔
- اوبه ډيرې زياتې نه بهيول اونه ډيرې کمې اخستل چې په ښه طريقې سره غسل اونه شي۔
- په داسې ځائې کښې غسل کول چې هلته دچانظر نه پريوځې۔
- دغسل په وخت خبرې نه کول۔
- دغسل نه پس په څه کپړا باندې ځان اوچول۔
- دغسل نه پس په بدن پټولو کښې جلتي کول تردې پورې چې که په اودس کولو کښې ئې خپې نه وي وينځلې نو دغسل دځائې دې اخوا شي خپل بدن دې پټ کړي بيا دې دواړه خپې اووينځي۔
- کچرې ځانله ځائې چې هلته ئې څوک نهويني نو په بربنډه هم لامبل صحيح دي، خواه په ولاړه وي يا په ناست او خواه دغسل خانې چت وي يا پرې نه وي،خو په ناسته لامبل بهتر دي ځکه چې په دې کښې پرده زياته ده۔دنوم نه واخله دکونډئ دلاندې پورې دچا په مخکښې بدن ښکاره کول ناجائزه او ګناه ده۔

## په کوموڅيزونه سره چې غسل فرض کيږي:

داسې ناپاکي چې په هغې سره غسل فرض کيږي هغې ته "حدث اکبر" وائي د''حدث اکبر'' څلور اسباب دي:

1. مني وتل۔
2. کوروالې کول،خواه مني اووځي يا اونه ځي۔
3. دښځې دحيض نه پاکيدل۔
4. دنفاس نه پاک کيدل۔

# اذان او اقامت

دپنځه وخته فرض مونځ دپاره يو ځل اذان وئيل "سنت مؤكده" دي، خواه مسافر وي يا مقيم،دجمع مونځ وي يا ځانله،ادا مونځ وي يا قضا۔د جمعې دمونځ د پاره دوباره اذان وئيل هم سنت مؤكده دي۔

- كوم سړي چې په خپل كور ځانله يا جمع سره مونځ اوكړي دهغ دپاره اذان واقامت دواړه مستحب دي، په شرط ددې چې دمحلې دمسجديا كلي په مسجدكښې اذان واقامت شوې وي،په دې وجه دمحلې اذان دپوره محلې والو دپاره كافي دې۔
- كوم سړي چې اذان واوري،سړې يا ښځه، دپاكې په حالت كښې وي يا دناپاكې په حالت كښ،په هغه باندې (اذان اوريدو سره خاموش كيدل) د اذان جواب وركول مستحب دي او بعضو واجب هم وئيلې دي يعني كوم لفظ چې دمؤذن د خلې نه واورې، هم هغه به وائي خو (حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ) او ( حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ) په جواب كښ به (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ) وائې او د (اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ) په جواب كښ به (صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ) وائې۔د اذان نه پس درودشريف به اووائې اودا دعا به اولولې:
- اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ، اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَنِ الَّذِىْ وَعَدْتَّهٗ، اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ۔

## تنبيه:

بعضې خلق په دعا کښې (وَالدَّرَجَةَ الرَّفِيعَةَ، وَارْزُقْنَا شَفَاعَتَهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ) او د دعا په آخر کښې (يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ) الفاظ زياتوي، حالانکه دا الفاظ په هيڅ حديث کښې نه دي راغلې، په دې وجه مسنون نه دي۔

# د مونځ بيان

## د مونځ شرائط

د مونځ شروع کولو نه مخکښې څو څيزونه ضروري دي:

- کچرې اودس نه وي نو اودس دې اوکړی، د لامبلو ضرورت وي نو غسل دې اوکړی۔
- په بدن يا جامه باندې پليتي لګيدلې وي نو هغه دې پاک کړی۔
- کوم ځائې چې مونځ کوې نو هغه هم پاک کيدل پکار دي۔
- سرې دې کم از کم د نوم نه واخله تر کونډو پورې بدن پټ کړي ورنه مونځ به نه کيږي ښځه دې مخ، دواړه لاسونه او دواړه خپو نه علاوه ټول بدن لره پټ کړي۔
- قبلې ته دې مخ کړی۔
- څوک چې مونځ کول غواړي د هغې نيت يعني په زړه سره اراده اوکړی۔
- د وخت داخليدو دې سره مونځ اوکړی۔
- دا ټول څيزونه د مونځ د پاره شرط دي۔ کچرې په دې کښې يو څيز هم پاتي شي نو مونځ به نه کيږي۔

## د مونځ فرائض:

په مونځ کښې شپږ څیزونه فرض دي:

1. تکبیرتحریمه: د نیت تړلو په وخت ''**الله اکبر**'' وئیل۔
2. قیام :کم ازکم دومره دې ځله ''**سبحان ربی الاعلیٰ**'' دوئیلو برابر اودریدل۔
3. د قرآن مجید نه څه سورت یا کم ازکم یو اوږد آیت لوستل۔
4. رکوع کول۔
5. دواړه سجدې کول۔
6. په آخري قعده کښې یعني د مونځ په آخره کښې ''**التحیات**'' وئیلو په اندازه کیناستل۔

## د مونځ واجبات:

په مونځ کښې څلوارلس څیزونه واجب دي:

1. سورت فاتحه لوستل۔
2. د فاتحې سره څه بل سورت ملاوهل۔
3. د فرائضو ترتیب برقرار ساتل، یعني اول قیام،بیا رکوع،بیا سجده کول۔
4. سورت فاتحه د بل سورت نه مخکښې لوستل۔
5. د دوه رکعته کولو نه پس کیناستل یعني اوله قاعده۔
6. په دواړو قعدو کښې التحیات لوستل۔
7. د وتر په مونځ کښې دعاء قنوت لوستل۔

8. ''السلام علیکم''وئیلو سره مونځ ختمول۔
9. د فرض په ړومبو دوؤ رکعتو کښې دفاتحې سره سورة یا کم از کم یو اوږد آیت یا درې واړه آیتونه لوستل۔
10. هیڅ یو فرض او واجب لره مکرر نه ادا کول۔
11. د ماسپخین او مازیګر په مونځونو کښې په مزه سورة فاتحه او بل سورت لوستل۔
12. په ماښام،ماسخوتن او سحر کښې امام لره په اوچت آواز سره لوستل۔
13. تعدیل ارکان یعني په هرفرض کښې کم ازکم د یو تسبیح"سبحان ربیالاعلیٰ" په اندازه اودریدل۔
14. داختر په مونځ کښې زیاتي تکبیرونه لوستل۔

# د مونځ لوستلو طریقه او ترجمه

د مونځ کولو مسنون طریقه دشروع نه آخر پورې دا ده:

## نیت:

د مونځ نیت کولو سره خپل دواړه لاسونه غوږونو پورې اوچتول ''اَللّٰهُ اَکْبَرُ'' وئیل۔لاسونه داسې اوچتول چې متې ګوتې د غوږونو د نرمو برابر شي او ګوتې کهلاؤ وي۔

## تکبیرِتحریمه:

اَللّٰهُ اَکْبَرُ ''الله ډیر لوې دې''۔

## لاسونه تړل:

بیا لاسونه دنوم دپاسه داسې تړل چې دښي لاس تلې دګس لاس په تلي باندې راشي او دښي لاس دکچې ګوتي او متې ګوتې نه حلقه شان جوړولو سره دګس لاس مړوند نیول۔او باقي درې ګوتې په مړوند باندې خورې ایخودل۔د تکبیرنه پس (ثناء) لوستل:

**ثناء:** سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ

''پاک ئې ته اې الله! اوهم ستادپاره حمد دې او مبارک دې نوم ستا ، او اوچت دې شان ستا ،اونشته دې لائق دعبادت سوا ستانه۔''

## یادې دا دعا اوائي:

اَللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِىْ وَبَيْنَ خَطَايَاىَ كَمَا بَاعَدْتَّ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اَللّٰهُمَّ نَقِّنِىْ مِنْ خَطَايَاىَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْاَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ اَللّٰهُمَّ اغْسِلْنِىْ مِنْ خَطَايَا بِالثَّلْجِ وَالْمَآءِ الْبَرَدِ۔

''اې الله! ځما او ځما دګناهونو په مینځ کښې لرې والې پیدا کړې ځنګه چه تا دمشرق او مغرب په مینځ کښې لرې والې پیدا کړې دې۔اې الله! ما ځما دګناهونو نه صفا کړې ځنګه چې سپینه جامه دخیرې نه صفا کولې شي۔اې الله! ځما نه ځما ګناهونه د واورې اوبو او ګلې سره اووینځې''۔

بیا دې دا تعوّذ اولولې۔۔۔۔

**تعوذ:** اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ''دالله تعالي په پناه کښې راځم دشیطان مردود نه''۔

او بسم الله اووایه ـــــ
تسمیه: بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ "خاص د الله د نوم په مدد سره شروع کوم"۔
بیا سورة فاتحه یعني الحمد دې اولولی۔ـــــ

## سورة الفاتحه:

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّيۡنِ اِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡنَ اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡنَ۔

"د خدائې ټول تعریفونه خاص د الله تعالي دپاره دي، چې د ټول مخلوقاتو پروردګاردې ـچه عام او خاص مهربان دې ـدقیامت دورځې مالک دې۔(اې پروردګاره)مونږ خاص ستا عبادت کوؤ۔او خاص ستانه مدد غواړو۔مونږ په نیغه لاړ باندې مضبوط کړې۔دهغه خلقو لاړ په چاچې تاانعام واحسان کړې دې۔نه دهغه خلقو لاړ په چاچې غضب کړې شوې دې او نه دهغوي چې ګمرا دي۔زمونږه دعا قبوله کړه"۔

## تـأمین:

وَلَا الضَّآلِّيۡنَ نه پس آمین وئیل۔آمِين (اې الله زما دعا قبوله کړه)

بیا په مزه بِسۡمِ اللّٰه وئیلو سره څه سورت یاکم ازکم درې آیتونه لوستل۔

## سورة اخلاص:

قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ اَللّٰهُ الصَّمَدُ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُوۡلَدۡ وَلَمۡ يَكُنۡ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ

اووایه چې الله یودې۔الله بې نیازه دې۔نه دهغه څوک اولاد (نیازبین شته) او نه هغه دچا اولاد دې۔او څوک دهغه همسر نشته۔

## رکوع:

بیا اَللّٰهُ اَکْبَرُ وئیلو سره رکوع ته تلل۔په رکوع کښې خپلې کونډې نیول، ګوتې کهلاؤ ساتل،لاسونه دترخونو نه لرې ساتل، سراو ملا برابر ساتل،چې لاسونه کږه نه وي، پنډۍ سیدها وي او درې،پنځه یا اووه ځله تسبیح وئیل۔

## درکوع تسبیح:

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ۔ ''پاک دې رب ځما چې دلوې شان والا دې''۔

## یاپه رکوع کښې دا الفاظ وئیل:

سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَآئِكَةِ وَالرُّوحِ۔

''ډیر پاکیزه او تقدس والادې او دملائکو او روح پروردګار دې''۔

## یا دا الفاظ وئیل:

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي۔

''زمونږ الله! ستاذات پاک دې، د الوهیت صفات هم ستادپاره دي، اې الله! ما معاف کړه''۔

## تسمیع:

بیا تسمیع وئیلو سره نیغ اودریدل۔

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ۔

''واوریدل الله دهغه چا ،چاچې دهغه تعریف اوکړو ''۔

**تحمید:** بیا تحمید لوستل۔

رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ۔ ''اې زمونږه ربه ستادپاره دې تعریف''۔

## او بیا دا دعا لوستل:

رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ۔

''اې زمونږه ربه ستاد پاره حمد دې، ډير پاکيزه او برکت والا حمد''۔

## سجده:

بيا ''اَللّٰهُ اَكْبَرُ'' وئيلو سره سجدې ته تلل۔ سجدې ته دتللو په وخت ملا بالکل نيغه ساتل، کونډې په زمکه باندې دايخودلو نه مخکښ چې په ملا کښې خم رانشي، بيا په زمکه اول کونډې ايخودل، بيا دغوږونو برابر لاس ايخودل، او ګوتې يوځائې کول قبلې طرفته کول، بيا د دواړو لاسونو په مينځ کښې تندې او پوزه دواړه داسې ايخودل چې دواړه غوږونه دلاسونو برابر راشي خپې ولاړې ساتل او دخپو ګوتې قبلې طرفته وي۔ سجده کښې خيټه د پنډو نه او لاسونه دترخونو نه چې جدا وي، دواړه لاسونه چې دزمکې نه اوچت وي (يعني څنګلې) اوپه سجده کښې درې ځله، پنځه يااووه ځله تسبيحات وئيل۔

**دسجدې تسبيح:** سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى۔

''پاک دې رب زما ډير اوچت''۔

## يا په سجده کښې دا الفاظ وئيل:

سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوْتِ وَالْمَلَكُوْتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ۔

''پاک دې ډيرې غلبې او لوې بادشاهت والا او لوئې او عظمت والا''۔

## يا دا وئيل:

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي۔

''اې زمونږ الله! ستاذات پاک دې۔دالوهيت صفات هم ستادپاره دي۔ياالله! مامعاف کړه''۔

بيا الله اکبر وئيلو سره نيغ به کينې او په جلسه کښې به دا دعا اووائې۔

## دجلسې دعا:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي وَارْحَمْنِي وَارْفَعْنِي وَاجْبُرْنِي وَعَافِنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي ۔

''ياالله! زما خطاګانې معاف کړه،په ما رحم اوکړه،ماته ترقي راکړه،زما کمزوري لرې کړه، ماته عافيت راکړه،ماته هدايت اوکړه،او ماته رزق راکړه''۔

## ياپه جلسې کښې دا اوايه:

رَبِّ اغْفِرْلِي، رَبِّ اغْفِرْلِي۔

''اې زما ربه! زما بخښنه اوکړه۔اې زماربه! زما بخښنه اوکړه''۔

بيا الله اکبروئيلو سره دوباره سجدې ته لاړشه او اولنې سجدې په شان دويمه سجده اوکړه۔

## دويم رکعت:

بيا تکبيروئيلو سره دپنجو په سرنيغ اودريږه،په زمکه باندې ټيک کولوسره مه اودريږه۔بيابسم الله۔۔۔الحمدلله۔۔۔،او سورت لوستلو سره دويم رکعت د ړومبي رکعت په شان پوره کړه۔

## قعده:

د دويم رکعت د دويم سجدې نه پس خپله ښي خپه اودروه او کسه خپه خوره کړه په هغې کينه،دواړه لاسونه په خپلو پنډو باندې کيږده او ګوتې په خپل حال باندې پريږده۔بيا دا (تشهد) اولوله:

## تشهد:

اَلتَّحِيَّا تُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحمَةُاللّٰهِ وَبَرَكَا تُهُ اَلسَّلَامُ عَلَينَا وَعَلٰى عِبَادِاللّٰهِ الصّٰلِحِينَ اَشهَدُ اَن لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبدُهٗ وَرَسُولُهٗ۔

''ټول قولي عباداتونه،بدني عبادتونه او مالي عباداتونه خاص د الله تعالي دپاره دي۔سلام په تا باندې اې نبيﷺ او رحمت د الله تعالي او د هغه برکتونه،سلام دې وي په مونږ باندې او د الله تعالي په نيک بندګانو باندې۔ زه اقرار کوم چې د الله تعالي نه سوا بل څوک د عبادت لائق نه دې او اقرار کوم چې محمدﷺ د الله تعالي بنده او د هغه رسول دې''۔

## اشاره:

کله چې اَشهَدُ اَن لَّآ اِلٰهَ ته اورسې نو مينځمې ګوته او د متې ګوتې نه به حلقه جوړه کړې او د لااله وئيلو په وخت به د شهادت ګوته اوچته کړې او د الاالله د وئيلو په وخت به ئې کيږدې،مګر حلقه به د مونځ آخرپورې وي۔

## دريم او څلورم رکعت:

کچرې څلور رکعت کول وي نو ددې نه زيات نور څه مه وايه بلکه سمدست الله اکبر وئيلو سره پاسه او دوه رکعته نور ادا کړه۔د فرض مونځونو په آخري دوه رکعتونو کښې د الحمد نه پس بل څه سورت مه وايه۔

## اخيري قعده:

كله چې څلورم ركعت مكمل كيدو نه پس كيني نو بيا التحيات لوستلو سره دا درود شريف اووايه :

## درود شريف:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۔ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۔

”اې الله! په حضرت محمد ﷺ باندې او دحضرت محمد ﷺ په آل (پيروكارو) باندې خصوصي رحمتونه نازل كړه څنګه چې تا په ابراهيم عليه السلام او دحضرت ابراهيم عليه السلام په آل باندې خصوصي رحمتونه نازل كړې وو۔بيشكه ته دتعريف لائق او بزرګي والائې۔

اې الله! بركت نازل كړه په حضرت محمد ﷺ باندې او دحضرت محمد ﷺ په آل باندې څنګه چې تا بركت نازل كړې وو په ابراهيم عليه السلام باندې او دحضرت ابراهيم عليه السلام په آل باندې بيشكه هم دتعريف لا ئق اوبزرګي والا ئې“۔

**دعا:** د درود شريف نه پس دا دعا اووايه:

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِى الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ

”اې زمونږ ربه! مونږ ته په دنيا كښې هم د نيكې توفيق راكړې او په آخرت كښې هم دنيكې بدله راكړې او مونږ ددوزخ دعذاب نه بچ كړه“۔

## يا دا اولوله:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظُلْمًا كَثِيْرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ فَاغْفِرْ لِیْ مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِیْ اِنَّكَ اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ۔

''یاالله! ما په خپل ځان باندې ډېر ظلم کړی دی، د ګناهونو ستا نه سوا بل څوک بخښلو والا نشته،بس ما د خپل طرف نه اوبخښه او په ما رحم اوکړه۔بیشکه ته بخښنې والا او مهربانه ئې''۔

## یادا دعا اولوله:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ وَلِوَالِدَیَّ، وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ، وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ ، اَلْاَحْيَاءِ مِنْهُمْ وَالْاَمْوَاتِ۔

یا بله څه دعا اووایه کومه چې په قرآن وحدیث کښې راغلې وي۔

## سلام:

بیا ښي طرفته سلام اوګرځوه

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ اووایه "په تاسو دې د الله سلام او رحمت وي۔"

بیا ګس طرفته سلام ګرځولو سره همدا الفاظ اووایه۔ دسلام ګرځولو په وخت په فرښتوباندې دسلام کولو نیت اوکړه اودمقتدیانو اوامام هم نیت اوکړه۔امام دې دواړو طرفته دمقتدیانو اوپه فرښتو باندې دسلام نیت اوکړي۔

## د ښځو مونځ

1. د ښځو لره دمونځ شروع کولو نه مخکښې ددې خبرې اطمینان کول پکار دي چې د هغې دمخ،لاسونواو خپو نه سوا ټول بدن په جامه کښې پټ وي۔
بعضې ښځې داسې مونځ کوي چې دهغوي ویښته کھلاؤ وي، دبعضو ښځو مړوندښکاري،دبعضو ښځو ویښته کھلاؤ وي بعضې ښځې دومره وړه لوپټه استعمالوي چې دهغې نه لاندې ویښته په نظر راځي دا ټولې طریقې ناجائزه دي کچرې دمونځ په دوران کښې دمخ،لاس اوخپې نه سوا دبدن کوم اندام هم د ځلورمې حصې برابر دومره وخت کھلاؤ پاتې شو چې په هغې کښې درې ځله **سبحان ربي العظیم** وئیلې شي نومونځ نه کیږي۔او که ددې نه کم کھلاؤ پاتې شي نومونځ کیږي خو ګناهګاره ده۔
2. د ښځو دپاره په کوټه کښې مونځ کول په برآمده کښې (دمونځ کولونه) بهتردي اوپه برآمده کښې مونځ کول په صحن دمونځ کولو نه بهتردي۔
3. په رکوع کښې دښځودپاره دسړو په شان ملا لره بالکل نیغول ضروري نه دي ښځو له دسړو په مقابله کښې کم ټیټیدل پکار دي۔
4. په رکوع کښې سړو لره ګوتې په کونډو باندې کھلاؤ ایخودل پکار دي خو ښځو ته دا حکم دې چې هغوي ګوتې یوځائې کړي او کیږدي یعني دګوتو په مینځ کښې فاصله نه وي۔

5. ښځو لره په رکوع کښې خپلې ګوتې بالکل نيغې نه دې ساتل پکار بلکه کونډې لړې مخې ته کږولو سره اودرول پکار دي۔

6. دغه شان د ښځو متې هم په رکوع کښې د ترخونو سره يوکيدل پکار دي۔

7. دغه شان ښځو له خپو يوځائې کولو سره اودريدل پکار دي د خپو په مينځ کښې فاصله نه دي کيدل پکار۔

8. اکثر ښځې د رکوع نه پس نيغ نه اودريږي او صرف د اوريدو اشاره کوي او دبدن دټيټ کيدو په حالت کښې سجدې ته ځي دهغې په ذمه مونځ واپس کول واجب کيږي۔

9. سجدې ته دتلو په وخت کښې ښځو ته دا حکم دې چه سينه مخکښې طرفته ټيټولو سره سجدې ته دې لاړه شي اول خپلې کونډې په زمکه کيږدي، دکونډو نه پس دواړه لاسونه په زمکه کيږدي، بيا پوزه،بيا تندئ۔

10. په سجده کښې به ښځې ښه ځان راغونډوي نو سجده به کوي چه خيټه د کونډو سره بالکل يوځائې وي اومتې دترخونو سره هم يوځائې وي خپې به د اودريدو په ځائې ښي طرفته راوباسي او خوري به ئې کړي ترڅو پورې چه کيدې شي نو دګوتو سرونه به قبلې طرفته اوساتي دارنګه ښځو لره پکار دي چه دڅنګلو سره پوره لاس په زمکه باندې کيږدي۔رسول اللهﷺ د دوه ښځو خواه کښې تير شو چه مونځ ئې کولو نبي عليه السلام هغوي ته اوکتل

او وې فرمائیل: چه کله تاسو سجده کوئ نو دخپل بدن بعضې حصې د زمکې سره اولګوئ په دې وجه چه په دې کښې ښځه دسرې په شان نه ده۔

11. یوې سجدې نه چه اوچته شي نو په اطمینان سره به ښځه کیني بیا به بله سجده اوکړي لګ شان اوچتیدل نیغیدو نه بغیر دویمه سجده کول ګناه ده او دغه شان کولو سره به مونځ واپس کول واجب وي۔

12. د ښځو دپاره د دواړه سجدو په مینځ کښې د کیناستلو او په قعده کښې دکیناستلو طریقه داده چه دواړه خپې به ښي طرفته اوباسي او ښې پنډۍ به په ګس پنډۍ باندې کیږدي او دواړه لاسونه به په پتونانو باندې کیږدي او ګوتې به یوځائې ساتي۔

13. دناستې په وخت نظر په غیږ باندې ساتل پکار دي۔

14. د سجدې نه اوچتیدو په وخت به اول تندئ دزمکې نه اوچت کړي بیا پوزه، بیا لاس، بیا کونډې۔

15. د دویمې سجدې نه د اوچتیدو په وخت به په زمکه سهاره نه اخلي بلکه په کونډو به لاسونه ایخودلو سره سهارا واخلي او اودریږي به البته که بدن دروند وي یا بیماري یا د بوډاوالي د وجې نه مشکل وي نو سهارا اخستل هم جائز دي۔

16. ښځه به دسلام ګرځولو په وخت ښي اوګس طرفته فرښتو ته دسلام نیت کوي۔

## مفسدات يعني دمونځ ماتونکي څيزونه

په څو څيزونو سره مونځ ماتيږي۔زيات مشهور دوه دي:

(1) په مونځ کښې خبرې کول يا بلاضرورته آواز راوستل :

- په قصد يا په هيره په خبرو سره مونځ ماتيږي۔
- په مانځه کښې ''آه''يا''اُف''يا''اوه''يا''هائے''وئيلو يا په زوره ژاړه سره مونځ ماتيږي،البته که دجنت،دوزخ په ياديدو سره زړه راډک شي او په زور سره آواز يا''آه''يا''اُف''وغيره اوځي نو مونځ نه ماتيږي۔
- بغيرضرورته ټوخې کول او غاړه صفا کولو سره چه کله يو نيم حرف هم پيدا شي نو مونځ ماتيږي، البته دضرورت اومجبورۍ په وخت غاړه صفاکولو سره مونځ نه ماتيږي۔

(2) د مونځ په دوران کښې څه څيز خوړل څکل:

په مونځ کښې ئې څه څيز اوخوړلو يائې اوڅکلو نو مونځ مات شو،تردې پورې چه يوه دانه يا ديو چلکې ټکړه ئې اوچته کړه او وې خوړله نوهم به مونځ مات شي،او که څه څيز په غاښونو کښې انختې وي او هغه ئې تير کړو خو که هغه دچنې نه کم وي نو مونځ اوشو اوکه دچنې برابريا زيات وي نو مونځ مات شو۔

## د وتر مونځ

د وتر مونځ واجب دې او د واجب مرتبه فرضو ته نزدې ده۔په پريخودلو سره لويه ګناه کيږي۔که کله پاتې شي نو کله چه

موقع ملاؤشي نو سمدست کول پکار دي۔

د وترو درې رکعته دي۔دو رکعته اوکړه بیاکینه او په دویم رکعت کښې "اَلتَّحِیَّاتُ" اولوله، درودشریف مه لوله بلکه د التحیات لوستلو نه پس سمدست اودریږه او "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ" او سورت اولوله د غوږونو پورې لاسونه اوچت کړه "اَللّٰهُ اَکْبَرُ" اووایه او بیا لاسونه اوتړه، بیا دعائې قنوت اولوله او رکوع اوکړه او په دریم رکعت کینه "التحیات" درودشریف او دعا اولوله سلام اوګرځوه۔

## دعائې قنوت:

د وترو په دریم رکعت کښې دقرأت نه پس غوږونو پورې لاس اوچتولو سره الله اکبر اووایه بیا لاسونه اوتړه او دا دعا اووایه۔

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَ نَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَ نَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْرَ ط وَ نَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ ط اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَ نَسْجُدُ وَ اِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْا رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ۔

"اې الله! مونږ ستانه مدد غواړو او ستانه بخښنه غواړو۔په تاباندې ایمان لرو او ستا ډېره ښه تعریف کوو۔ستاشکرګذار یو ستاناشکري نه کوو۔مونږ بیزاره کیږو او هغوي لره پرېږدو کوم چه ستانافرماني کوي۔اې الله مونږستاعبادت کوو او ستادپاره مونځ کوو او هم تاته خپل تندئ لګوم او هم تاطرفته درمنډه کوو او په تیزئ سره راځواوستا درحمت امید کوو او ستا دعذاب نه یریږو اوستا عذاب ناشکرو لره رانیونکې دې۔"

## یا دا دعا اولوله:

اَللّٰهُمَّ اهْدِنِی فِیمَنْ هَدَیتَ وَعَافِنِی فِیمَنْ عَافَیتَ وَتَوَلَّنِی فِیمَنْ تَوَلَّیتَ وَبَارِكْ لِی فِیمَا أَعْطَیتَ وَقِنِی شَرَّ مَا قَضَیتَ فَإِنَّكَ تَقْضِی وَلَا یقْضٰی عَلَیكَ إِنَّهُ لَا یذِلُّ مَنْ وَالَیتَ وَلَا یعِزُّ مَنْ عَادَیتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَیتَ، لَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَیكَ۔

”یاالله! ماته په هغه خلقو کښ هدایت راکړې چاته چه تا هدایت کړې دې، او مالره په هغه خلقو کښ په عافیت کښ اوساتئ چاته چه تا عافیت ورکړې دې، او په هغه خلقو کښ زما کارسازي اوکړې دچاچه تاکارسازي کړې ده، کوم څیزچه تا ماته راکړې دې، مادپاره په هغې کښ برکت واچوې، ما دهغه څیز دشرنه اوساتې دکوم چه تافیصله کړې ده، بیشکه ته فیصله کوې اوپه تاباندې څوک فیصله نه شي کولې، چاسره چه ته دوستي کوې هغه لره څوک ذلیله کولې نه شي اوچاسره چه ته دشمني کوې هغه ته څوک عزت نه شي ورکولې-اې زمونږه ربه! ته برکت والا او اوچت ئې- ستادعذاب نه صرف تاسره دپناه ځاې شته“۔

کچرې په دریم رکعت کښ دعائې قنوت هیرشي او رکوع ته دتلو نه پس رایادشي نو اوس به دعائې قنوت نه وائې بلکه دمونځ په آخر کښ به سجده سهوه اوکړې-کچرې رکوع دې پریخوده او نیغ اودریدې او دعائې قنوت دې اولوستلو نو بیاهم مونځ اوشو، خو داسې نه دي کول پکار او سجده سهوه کول په دې صورت کښ هم واجب ده۔

چاته چه دعائې قنوت یاد نه وي هغه دې دیادولو کوشش اوکړي في الحال دې دا وائي :

رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْیا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ۔

يا دې درې ځله دا ووائي(اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی)يا درې ځله (يا رَبِّ) اووايه نو به هم مونځ اوشي۔

# قضا مونځ

دچاچه کوم مونځ پاتې شوې وي نو کله چه رايادشي سمدست دې دهغې قضا اوکړي، بغيردڅه عذر نه په قضا کولو کښې تاخيرکول ګناه ده۔دچاچه کوم مونځ قضاشوې وي او هغه سمدست ددې قضا اونکړه،بل وخت،يابله ورځ باندې ئې پريخودلو چه په فلانئ ورځ به ئې اوکړم او دهغې ورځې نه مخکښې ورله مرګ راغې نو ډېر ګناه شوه۔يو دمونځ قضا کولو او بل دقضاسمدست نه کولو ۔

کچرې دچا څو مونځونه قضا شوې وي نو څو پورې چه کيدې شى زر دې دټولو قضا اوکړي که کيدې شي نو همت دې اوکړي په يو وخت کښې دې دټولو قضا اوکړي۔دا ضروري نه ده چه دماسپخين قضادماسپخين په وخت کښې اوکړې اودمازيګر قضا دمازيګر په وخت کښې او که ډيرزيات مونځونه دڅو مياشتويا څو کالونو قضاشوې وي نو په دې قضاکښې هم ترڅو پورې چه کيږي نو جلتي پکار ده۔په يو وخت کښې دوه دوه،څلورڅلور قضامونځونه دې اوکړې شي۔که څه عذر وي نو په يو وخت کښې يو مونځ دې اوکړي۔

دقضاد اداکولو څه وخت مقرر نه دې،کله چه فارغ وي اودس دې اوکړي او مونځ دې اوکړي البته دومره خيال ساتل چه مکروه وخت يعني دطلوع،غروب او زوال وخت نه وي۔
قضاصرف دفرض مونځونو او وتر کولې شي، دسنتو قضا نشته دې۔

# سجده سهو

په مونځ کښې چه څو مره څیزونه واجب دي په هغې کښې یو یا زیات کچرې په هیره سره پاتې شي، مثلاً یو فرض یا واجب لره دخپل اصلي ځائې نه مخکښې روستو کول، یاپه کښې کمې بیشې اوکړو، یایو فرض واجب لره دوه ځله اوکړو نو سجده سهوه کول واجب دي ددې په کولو سره مونځ صحیح کیږي، کچرې سجده سهوه ئې اونکړه نو مونځ به دوباره کوي۔

کچرې په هیره سره ''فرض'' پاتې شي نو سجده سهوه کولو سره مونځ نه صحیح کیږي، دوباره به کول وي۔

## دسجده سهو طریقه:

دسجده سهوه کولو طریقه داده چه په آخري رکعت کښې التحیات اووائې ښي طرفته به سلام واړوې دوه سجدې به اوکړې، بیابه کینې او التحیات، درودشریف او دعا به اولولې دواړو طرفته به سلام اوګرځوې مونځ به ختم کړې۔

# سجده د تلاوت

## دسجده تلاوت تعداد:

قرآن کښې څوارلس سجدې دتلاوت دي۔په قرآن مجید کښې چرته دصفحو په غاړه باندې ''سجده'' لیکلې شوې وي، د دغه ځائې آیت لوستلو سره به سجده کول واجبیږي او هغې ته ''سجده دتلاوت'' وائي۔

## دسجده تلاوت طريقه:

دسجده تلاوت طريقه داده چه ''اللّٰه اکبر''به اووائي اوسجده به اوکړي ـد الله اکبر دوئيلو په وخت به لاس نه اوچتوي۔په سجده کښ به کم ازکم درې ځله''سبحان ربي الاعلیٰ''وئيلو سره الله اکبر به اووائې سر به اوچت کړي۔ بس دتلاوت سجده ادا شوه۔

بهتره داده چه اودريږي او مخکښ الله اکبر اووائي اوسجدې ته لاړشي بيا به الله اکبر اووائي او اوبه دريږي۔او که په ناسته الله اکبر اووائي او سجدې ته لاړشي، بيا الله اکبر اووائي او کيني او اونه دريږي نو بيا هم صحيح ده۔

## دسفر مونځ:

کچرې څوک شرعي سفر (اته څلويښت ميله=۷۷،۸۷کلوميټره) نه کم مسافت باندې سفر اوکړي نو په دې سفر سره دشريعت څه حکم نه بدليږي او شرعاداسې سړي ته مسافر نه شي وئيلې۔

دې به مونځ وغيره هغه شان ادا کوي څنګه چه به ئې په کور کښ ادا کول: مثلاً څلورركعت والا مونځ به څلور رکعته ادا کوي او دڅرمنې موزه اغوستونکې به يوه ورځ او يوه شپه مسح کوي،ددې نه پس بيا د سر نه خپو وينځلو نه بغير مسح کول صحيح نه دي۔

کوم سړې چه دشرعي سفر په ارادې سره اووځي هغه دشريعت په رو سره مسافردې۔کله چه دخپل ښار د آبادئ نه بهر اووځي نو شرعًا مسافرجوړشو ـ کله پورې چه په آبادئ کښ دننه وي نو ترهغې پورې مسافر نه دې۔

شرعي مسافت طې کولو سره چه چرته اورسيدو نو که دپنځلس ورځوپاتې کيدو نيت ئې وي نو بيا هم مسافر نه دې، لهذا مونځونه به پوره کوي۔اوکه چرې نه ئې کورخپل دې اونه ئې دپنځلس ورځو پاتې کيدو نيت دې نو هلته په رسيدو سر به هم مسافر وی، دڅلور رکعتو فرضو په ځائې به دوه رکعته کوي۔

## دسفردمونځ قضا:

کچرې دچا مونځونه په سفرکښ قضاشوې وو نو کورته رسيدو سره دې دماسپخين،مازيګراوماسخوتن دې دوه دوه رکعته اوکړي ،اوکه دسفرنه مخکښې په حضرکښ دماسپخين مونځ قضاشوې وي نو په حالت دسفرکښ به څلوررکعته پوره قضاراګرځوي۔

# د جمعې مونځ

## دجمعې آداب:

- دجمعې په ورځ به غسل اوکړې، دسر ويښته او بدن به ښه صفاکړې، نوکونه به کټ کړې اوپه دغه ورځ دمسواک کولو هم ډيرفضيلت دې او ښه جامې به واغوندې او خوشبو به اولګوې۔
- جامع مسجدته به زرلاړشې، کوم سړې چه څومره مخکښ لاړشي هغه ته به دومره ډيرثواب ملاويږي۔دجمعې په ورځ دمونځ نه مخکښ يا روستو سورة کهف لوستلوسره ډيرثواب ملاويږي۔
- دجمعې په ورځ درودشريف لوستلو باندې دنورو ورځو په نسبت زيات ثواب ملاويږي۔

۞ دجمعې په ورځ دخطبې په وخت او دمازيګرنه ترمابنامه پورې ډيرقيمتي او ددعاګانو دقبوليت وخت دي-په دغه وخت کښ په خصوصي طور سره په ذکر ودعا او درود شريف کښ مشغوليدل پکاردي-

## دجمعې د مونځ کولو طريقه:

د جمعې په ورځ د ړومبي آذان نه پس دخطبې د آذان نه مخکښ څلور رکعته سنت کول- بيا دخطبې نه پس دوه رکعته فرض امام سره کول، بيا څلور رکعته سنت کول،دا سنت هم مؤکده دي، بيا دوه رکعته سنت کول-د دوه رکعته هم دبعضو حضراتو په نزد مؤکد دي-

## دخطبې آداب:

د خطبې ډيرزيات اهميت دې-دخطبې په دوران کښ ددې خبرو خيال ساتل پکار دي:

۞ کله چه امام خطبې دپاره اودريږي هغه وخت هيڅ يو مونځ کول په خپل مينځ کښ خبرې ا ترې کول مکروه تحری مي دي-

۞ کله چه خطبه شروع شي نوټولو حاضرينو دپاره ددې اوريدل واجب دي،خواه امام سره نزدې وي يا لرې وي،څه داسې کار چه دخطبې په اوريدو کښ حائل وي،مکروه تحريمي دې-

۞ د دواړو خطبو په مينځ کښ د ناستې په دوران کښ دامام يا مقتدي لاس اوچتول دعا غوښتل مکروتحريمي دي، البته دلاس اوچتولو نه بغيرکه په زړه زړه کښ دعا اوغواړي نو جائز دي، په شرط ددې چه په ژبه څه نه وائي،نه په مزه او نه په زوره سره-

❁ د نبی کریمﷺ نوم مبارک که په خطبه کښې راشي نو مقتديانو له په زړه کښې مختصر درود شريف لوستل جائز دي۔

## د اختر مونځ

د اختر دمياشتې اول تاريخ ته وړوکي اختر او د ذي الحجې لسم تاريخ ته عيدالاضحي (لوئ اختر) وائي۔د دواړه ورځې په اسلام کښې د اختر او خوشحالې ورځې دي اوپه دې دواړو ورځو کښې په طور دشکرانې دوه رکعته مونځ کول واجب دي۔

## د اختر سنت:

د عيدالفطر په ورځ دولس څيزونه مسنون دي:

1. غسل کول
2. مسواک کول
3. دخپل طاقت مطابق ښه جامې اغوستل
4. خوشبو لګول
5. سحر وختي پاسيدل
6. عيدګاه ته ډير وختي تلل
7. عيدګاه ته دتلو نه مخکښې څه خوږ څيز ،مثلاً کجهوره وغيره خوړل۔
8. عيدګاته دتلو نه مخکښې صدقه فطر(سرسايه) ورکول
9. داختر مونځ عيدګاه کښې کول بغير دعذر نه دمحلې په جماعت کښې نه کول
10. په کومه لار چه لاړې واپس په هغه لار نه راتلل
11. پيدل تلل

12. په لاره کښې اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ په مزه آواز سره لوستل او تلل۔

## د اختر د مونځ طريقه:

د اختر د مونځ طريقه دا ده چه په زړه کښې دا نيت اوکړې چه:

"زه د شپږو تکبيرونو سره د اختر د دوه رکعته واجب مونځ نيت کوم"۔

د نيت مذکوره الفاظ په ژبې سره وئيل ضروري نه دي، په زړه کښې اراده کول هم کافي دي۔نيت کولو سره لاسونه تړل او د سبحانك اللّٰهم نه تر آخره پورې لوستل بيا درې ځله الله اکبر وئيل، هر ځل د تکبيرتحريمې په شان دواړه لاسونه غوږونو پورې اوچتول،دتکبيرنه پس لاسونه زوړندلو،د دوؤ تکبيرونو په مينځ کښې دومره ساعت اودريدل چه په کښې درې ځله سبحان الله اووئيلې شي۔د دريم تکبيرنه پس به لاسونه اوتړې او اعوذ بالله اوبسم الله به اووائې سورة فاتحه او بل يو سورت به اولولې رکوع اوسجده به اوکړې او اودريږې به۔په دويم رکعت کښې به اول سورة فاتحه او يوبل سورت اولولې، ددې نه پس به درې تکبيرونه اووائې او لاسونه به نه تړې بلکه زوړند به وي او بيا به په څلورم تکبير وئيلو سره رکوع ته لاړشې۔

## تکبير تشريق:

هرفرض مونځ نه پس يوځل " تکبيرتشريق "يعني اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ لوستل واجب دي۔دا تکبيرونه د مفتیٰ به قول مطابق په هر هغه سړي باندې واجب دي په چاچې مونځ فرض دې، خواه سړې وي يا ښځه، مقيم وي يامسافر، دښار اوسيدونکې وي يا د کلي وي، په جمع سره مونځ کوي ياځانله۔

دا تکبیر، دعرفې په ورځ یعني نهم تاریخ دسحر نه د دیارلسم تاریخ د مازیګر پورې وئیل پکار دي، دا ټول درویشت (۲۳)مونځونه دي،چه دهغې نه پس تکبیرد سړو دپاره په اوچت آواز سره وئیل او دښځو دپاره په مزه آواز کښې وئیل واجب دي۔

# دجنازې مونځ

د جنازې دمونځ دپاره مسلمان کیدل شرط دي لهذا د کافر او مرتد جنازه صحیح نه ده۔دکوم نابالغه بچی مور یاپلار چه مسلمان وی نو هغه به مسلمان ګڼړلې شي او په هغې به مونځ کولې شي۔

## د جنازې د مونځ حکم:

دجنازې مونځ فرض کفایه دې۔که په یو کلي کښې بعضې خلق دجنازې مونځ اوکړي او بعضې اونکړي نو دټولو د ذمې نه فرض ادا شو، خو که دکلي یو سړي هم جنازې مونځ اونکړو نو ټول ګناهګار دي۔خو دعلم کیدلو نه پس هرمسلمان ته که څه عذرنه وي نو شریک کیدل پکار دي، که علم نه وي نو په هغوي څه ګناه نشته دې

۔

**د جنازې دمونځ فرائض**: په جنازه کښې دوه ارکان فرض دي:

(1) څلور ځله تکبیر(الله اکبر) وئیل۔په جنازه کښې هرتکبیر دیو رکعت قائم مقام دې۔

(2) قیام(په ولاړه جنازه کول)

غرض داچه د جنازې ارکان تکبیرات او قیام دې۔

**دجنازې سنت**: په جنازه کښې درې سنت دي:

(1) ثناء یعني دالله تعالي حمد کول۔

(2) په نبي ﷺ باندې درود وئیل۔

(3) دمړي دپاره دعا کول۔

## دجنازې دمونځ طریقه:

دجنازې دمونځ طریقه داده چه اودس کیدو سره به دټولو نه اول صفونه برابرکړې ددې نه پس به امام اومقتدي دا نیت اوکړي چه دجنازې مونځ دالله دپاره او دعا دمړي دپاره کوم۔ په ژبه سره څه مخصوص الفاظ وئیل ضروري نه دي۔

بیابه امام په اوچت آواز سره او مقتدي په مزه آواز سره **اَللّٰهُ اَکْبَر**اووائي او دواړه لاسونه به غوږونو پورې اوچت کړي او داسې به ئې اوتړي څنګه چه ئې په عام مونځونو کښې تړي۔ بیا څنګه چه ثناء(**سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ۔۔۔الخ**)په مانځه کښې وائي، امام اومقتدي به ثناء اووائي۔د ثناء وئیلو نه پس به بغیرد لاس اوچتولو نه امام په زوره سره او مقتدي په مزه آواز سره دویم تکبیر (الله اکبر) اووائي او درود ابراهیمی به اووائي کوم چه په مانځه کښې وائي۔بیابه دواړه دریم تکبیر اووائي۔ که چرې مړې بالغ سړې یابالغه ښځه وي نو امام اومقتدي دواړه به دا دعا اووائي:

**اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَیِّنَا وَمَیِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِیْرِنَا وَکَبِیْرِنَا وَذَکَرِنَا وَاُنْثَانَا۔ اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْیَیْتَهٗ مِنَّا فَاَحْیِهٖ عَلَی الْاِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّیْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَی الْاِیْمَانِ۔ اَللّٰهُمَّ لَاتَحْرِمْنَا اَجْرَهٗ**

وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ۔

**ترجمه** :اې الله! زمونږ ژوندولره،زمونږه مړو لره،زمونږ حاضرو لره، زمونږغائبو لره،زمونږ وړو لره،زمونږ مشرانو لره، زمونږ سړو لره او زمونږ ښځو لره اوبخښې۔اې الله! په مونږه کښې چالره چه ژوندې ساتې هغه په اسلام باندې ژوندې اوساته، او چاته چه مرګ ورکوې هغه ته دايمان سره مرګ ورکړې۔اې الله! ته ددې د اجر نه مونږه محرومه مه کړې او ددې نه پس مونږ ګمراه نه کړې۔

ددې نه علاوه نوره دعاګانې هم په احاديثو کښې نقل دي هغه هم وئيلې شې لکه :

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ وَعَافِهٖ وَاعْفُ عَنْهُ وَاَکْرِمْ نُزُلَهٗ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهٗ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَايَا کَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْاَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهٖ وَاَهْلًا خَيْرًا مِنْ اَهْلِهٖ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهٖ وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَاَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ۔(مسلم)

”يا الله! ده لره معاف کړې، په ده رحم اوکړې،ده لره په عافيت کښې اوساتې،ده ته معافي اوکړې،دده بهترينه ميلمستيا اوکړې،اودده قبر فراخه کړې،دده (ګناهونه) په اوبو،ګلې، او واورې سره اووينځې، او ده لره دګناهونو داسې صفا کړې،څنګه چه تا سپينه جامه دخيرې نه صفا کړې ده،ده ته ددې (دنيا والا) کور نه بهترين کور ددنيا د اهل وعيال نه بهتراهل وعيال اوددې د جوړې نه بهتره جوړه ورکړې ده لره په جنّت کښې داخل کړه او د فتنې د قبر،عذاب دقبر اوعذاب د دوزخ نه بچ کړې“۔

## اوکه نابالغه هلك وي نو دا دعا اووايه:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا۔

**ترجمه**: اې الله! دې هلك لره زمونږ د مغفرت دپاره ذريعه جوړه کړه او دې زمونږ دپاره اجر او دآخرت سامان جوړ کړه او دې زمونږ دپاره سفارشي جوړکړه۔او دې داسې سفارشي جوړ کړه چه سفارش ئې قبول کړې شي۔

## اوکچرې نابالغه جينۍ وي نو دا دعا اووايه:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا اَجْرًا وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً۔

**ترجمه**:اې الله! دې جينۍ لره زمونږ دبخښنې ذريعه جوړه کړه او دې لره زمونږ دپاره اجر او ذخيره دآخرت جوړه کړه او دې لره زمونږ دپاره سفارشي جوړه کړه او داسې سفارشي چه دچا سفارش قبول وي۔

ددې دعا نه پس بغيردلاس اوچتولو نه امام په اوچت آواز سره او مقتدي په مزه څلورم تکبيربه اووائي دواړه طرفته به سلام اوګرځوي۔

- په دې مونځ کښې التحيات او دقرآن مجيد تلاوت نشته دې۔ ددې نه پس اجتماعي دعا ثابته نه ده۔
- کچرې يو کس ته د جنازې دمونځ مسنون دعا ياده نه وي نو هغه دپاره صرف اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وئيل کافي دي۔کچرې دا هم نه شي کيدې او صرف په څلور تکبيرونو باندې اکتفاء اوکړي نو بيابه هم مونځ اوشي، چه دعا فرض نه ده بلکه مسنون ده دغه شان درود شريف هم فرض نه دې۔

❁ دجنازې په مونځ کښې مستحب دي چه حاضرين درې صفونه جوړ کړي، تردې پورې که صرف اووه کسان وي نو يو سړې به په دوي کښې امام جوړشي او په اول صف کښې به درې سړي اودروي، او په دويم صف کښې به دوه کسان او په دريم کښې به يو کس۔

# دزکوة بيان

## د زکوة نصاب:

❁ دچاسره چه دوه نيم پنځوس توله چاندي(612.35گرام يعني تقريبا ۶۱۲گرام)چاندي يا اووه تولې(87.479گرام يعني تقريباً 87 گرام)سره زر وي (يا612گرام دچاندئ دقيمت برابر نقدې پيسې وي)او يوکال پورې باقي وي نو هغه صاحب نصاف دې او په کال تيريدو باندې ددې زکوة ورکول واجب دي او که ددې مقدار نه کم وي نو په ده باندې زکوة واجب نه دې۔

❁ چاسره دنصاب مال ځلور،شپږ مياشتو پورې وي، بياهغه کمې شي او دوه درې مياشتې پس بيا ملاؤ شي بياهم زکوة ورکول واجب دي۔غرض داچه کله چه دکال په اول او آخر کښې مالدار شي او دکال په مينځ کښې څه ورځې ددې مقدار نه کم پاتې شي نوبيابه هم زکوة واجب کيږي۔په مينځ کښې لږې ورځې کم کيدو سره زکوة نه معاف کيږي، البته که ټول مال ختم شي او کال پس بيا ملاؤ شي نوکله چه بيا ملاؤ شي، نو هغه وخت به دکال حساب کولې شي۔

- دچاسره دوه نيم پنځوس توله (612.35گرام)دچاندئ قيمت دې اوهم ددومره رقم هغه قرضدارې دې نو بيا هم زکوة واجب نه دې۔
- دکورسامان لکه دخوراک څکاک لوښي،داوسيدو دپاره کور،داغستو جامې،دملغلرو،هار(کالي) وغيره په دې ټولو څيزونوکښ زکوة واجب نه دې، خواه څومره وي او په روزمره استعمال کښ راځي يانه راځي،په هيڅ طريقه هم زکوة واجب به نه وي،البته کچرې دا د سوداګرئ سامان وي نوبياپه دې کښ زکوة واجب دې۔

## د زکوة مقدار:

- دزکوة قابل مال کښې ځلويښتمه حصه دوه نيم فيصده (2.50%)په زکوة کښ ورکول واجب دي۔

## دزمکې دپيداوار زکوة:

کچرې پټې ته اوبه ورکول نه وي،دباران په اوبو سره پيداوار وي،يادلختي او درياب په غاړه څه څيز اوکرې او د اوبو ورکولو نه بغيرپيدا شو،نو دداسې پيداوار لسمه حصه(لس في صده) خيرات کول واجب دي، يعني لس منه کښ يو من او په لس سيره کښ يوسير۔

اوکچرې پټې لره د ټيوب ويل په ذريعې سره ياپه بل څه طريقې سره ورته اوبه ورکولې شي چه په هغې خرچه راځي نو دپيداوار شلمه حصه (پنځم في صد) به خيرات کړې يعني شل منه کښ يو من او په شل سيره کښ يو سير۔

اوهمدا حكم دباغ هم دې-په داسې زمکه څومره هم کم پيداوار شوې وي،بهرحال ددې عشر ورکول واجب دي، په کم او زيات کيدو کښې څه فرق نشته دې۔

## د زکوة مستحقين:

- دچاسره چه دوه نيم پنځوس تولې چاندي يا اووه تولې سره زر(612گرام چاندي يا 87گرام سره زر)يا د دومره قيمت سامان دسوداګرئ وي، ده ته په شريعت کښې "مالدار" وائي۔داسې سړي ته زکوة ورکول صحيح نه دي اودده دپاره زکوة اخستل او خوړل حلال نه دي۔
- هم دغه شان دچاسره چه د دومره قيمت څه مال وي،چه سامان دتجارت خو نه وي،خو دضرورت نه زيات دې هغه هم مالدار دې، داسې سړي ته زکوة ورکول صحيح نه دي،اګرچه پخپله په داسې قسم مالداربانديې زکوة واجب نه دې۔
- دچاسره چه په پاس ذکر شوي څيزونوکښې دهرڅيز ځانله نصاب خو نشته يعني هرڅيز دوه نيم پنځوس تولې چاندئ قيمت ته خو نه شي رسيدلې خو داڅيزونه (سره زر، چاندي، نقدې پيسې،دتجارت او دضرورت نه د زياتي سامان) مجموعه ياپه دې کښې دبعضو مجموعه نصاب ته رسي،نوداسې سړې هم دشريعت په رُو سره مالدار دې،چه هغه ته زکوة،صدقه فطراو عشر وغيره ورکول جائزنه دي۔
- دچاسره چه دنصاب په مقدار مال نه وي،دنصاب نه کم دې

ياڅه ورسره هم نشته ديو ورځ دګزارې دپاره ورسره هم څه نشته،نوده ته غريب وائي۔داسې خلقو ته زكوة وركول صحيح دې او ددې خلقودپاره زكوة اخستل هم جائزدي۔

## صدقه فطر(سرسايه)

- چه كوم مسلمان دومره مالدار وي چه په هغه باندې زكوة واجب وي،ياپه هغه باندې زكوة واجب نه وي، خو ده سره دنصاب په قدر دضرورت نه زيات سامان دې، نوپه هغې باندې صدقه فطر واجب ده،خواه هغه دتجارت مال وي، يا دتجارت نه وي اوخواه كال پرې تيرشوې وي يا نه وي تيرشوې۔
- دچاسره دضرورت نه زيات سامان دې،خو هغه قرضدارې هم دې نو قرضه به ترې منفي كړي او كتلې به شي، چه ددومره قيمت سامان پاتې شوپه څومره كښې چه زكوة ياصدقه واجب كيږي نو صدقه فطر واجب ده، كه ددې نه كم پاتې نو صدقه فطر واجب نه ده۔

## دصدقه فطر مقدار:

په صدقه فطر كښې كه غنم وركړي نو پاؤ كم دوه سيره نه نيمه چهټاكې زيات،بلكه احتياطًا پوره دوه سيره يادديې نه هم څه زيات وركول پكاردي،ځكه چه په زيات وركولو كښې څه حرج نشته او كه اوربشې، كهجورې يااُوسكې وركول غواړي نوددې دوه ګنا يعني څلورسيره وركول پكار دي۔

# د روژے بيان

۞ د رمضان شريف روژې په هرمسلمان چه ليونې او نابالغه نه وي، فرض دي، کله پورې چه څه عذرنه وي نو روژې نه نيول صحيح نه دي۔دغه شان که څوک دروژې نذر اومني نو په نذر منلو سره روژه فرض کيږي۔دقضا اوکفارې روژې هم فرض دي اوددې نه علاوه ټولې روژې نفل دي، که اونيسي نو ثواب دې او که نه نيسي نو څه ګناه نشته، البته دوړوکي اختراو لوې اختر اوددې نه پس درې ورځې روژې نيول حرام دي۔

۞ کله چه هلک ياجينئ دروژې نيولو قابل شي نوهغه ته د روژې نيولو ترغيب ورکړې او کله چه دلسو کالو شي نو په باقاعدګئ سره پرې روژې اونيسې۔کچرې ټولې روژې نه شي نيولې نوڅومره چه نيولې شي نو اونيسې پرې۔

## د روژې وخت:

د روژې وخت دصبح صادق د وخت نه شروع کيږي، په دې وجه کله چه سحر شوې نه وي نو خوراک څکاک وغيره ټول جائز دي۔

بعضې خلق زر پشمنې اوخوري او نيت اوکړي دعا اواوئي او اوده شي او دا ګڼړي چه اوس دنيت کولو نه پس څه خوراک څکاک نه دي کول پکار،دا خيال غلط دې،ترڅو پورې چه صبح صادق نه وي نو خوراک څکاک کولې شې خواه نيت ئې کړې وي يا نه وي کړې۔

او بعضې خلق دپشمنې احتياطي وخت ختميدو نه پس هم خوراک څکاک کوي۔دا هم غلط دي،دپشمنې وخت ختميدو سره (د آذان کيدل دوخت ختميدو علامت دې) خوراک څکاک بندول پکار دي۔

## په کوم څيزونو سره چه روژه ماتيږي:

د روژې په حالت کښې خوراک، څکاک او جنسي خواهش پوره کولو سره روژه ماتيږي۔

## په کومڅيزونو سره چه روژه نه ماتيږي:

- کچرې روژه دار په هيره سره خوراک څکاک اوکړي نو دهغه روژه نه ماتيږي۔
- عطر، ګلاب ګل وغيره او خوشبو بويول چه په هغې کښې لوګې نه وي صحيح دي۔
- په لاړو تيرولو سره روژه نه ماتيږي۔
- پخپله قې راتلو سره خو روژه نه ماتيږي، خواه لږ قې وي يا زيات، البته کچرې پخپل اختيار سره په ډک خُله قې اوکړي نو روژه ماتيږي اوکه ددې نه کمې وي نوپخپله کولو سره هم روژه نه ماتيږي خو داسې نه دي کول پکار۔
- د ورځې اوده شو او داسې خوب ئې اوليدو چه په هغې سر د لامبلو ضرورت شو نو روژه نه ماتيږي۔
- دشپې دلامبلو ضرورت شوخو غسل ئې اونکړو، د ورځې ئې اولامبل نوبياهم روژه اوشوه بلکه که په ورځ ئې اونه لامبل نو بيابه هم روژه نه ماتيږي، البته ددې تاخير ګناه به ئې کيږي۔
- په غابنونو کښې د غوښې ريشه انختلې وه يادچهاليه ټکړه يا څه بل څيز وو، هغه ئې په ژبې سره ياپه خلال سره اوويستله خو دخُلې بهر راونه وتله، هغه پخپله حلق ته لاړه، نو که هغه څيز دچنې ددانې نه

کم وو نوبیا خو روژه نه ماتیږي، او که دچنې ددانې برابر وه یاددې نه زیاته وه نو روژه ماته شوه، البته که دخُلې نه ئې بهر راویستلې وه ددې نه پس ئې تیره کړه نو په هرحال کښې روژه ماتیږي، خواه هغه څیزدچنې ددانې برابر وي یا ددې نه هم کمه وي د دواړو یو حکم دې۔

## دکومو وجوهاتو په وجه سره چه روژه ماتول جائز دي:

سمدست داسې بیمارشو که روژه نه ماتوي نو مري یا ئې بیماري زیاتیږي نو روژه ماتول صحیح دي، لکه سمدست ئې په خیټه کښې داسې درد شو چه بې قراره شو نو په داسې حالت کښې دوائي خوړل او روژه ماتول صحیح دي۔همداسې کچرې داسې لوږه یا تنده اولګي چه دمړ کیدو خطره ده نوبیا هم روژه ماتول صحیح دي۔

# دحج بيان

## دحج فرضيت:

- دکوم سړي سره چه دمکې مکرمې پورې دتلو راتلو متوسط خرچه دضرورت نه زياته موجود وي، دهغه په ذمه حج فرض دې يعني دحج داخراجاتو سره سره دکور دکوم خلقو خرچه چه دده په ذمه ده دهغوي هم مناسب انتظام کول ضروري دي۔
- په ټول عمر کښ يوځل حج کول فرض دي۔کچرې څو حجونه ئې کړې وي نو يوځل فرض شو اوباقي ټول نفل دي اوددې هم دير ثواب دې۔
- دبالغ کيدو نه مخکښ کچرې څوک حج کوي نو په دې سره فرض نه اداکيږي، خو دا مطلب نه چه ثواب هم نه ملاويږي بلکه دنفل حج ثواب به ملاويږي۔کچرې مالدار دې نو په هغه باندې دبالغ کيدو نه پس بياحج کول فرض دي اوکوم چه ئې په وړوکوالي کښ کړې دې هغه نفل دې۔

## دښځې سره محرم ضروري دې:

- دښځې دپاره دحج سفر کښ خپل خاوند ياڅوک محرم ورسره کيدل ضروري دي،بغيرددې نه دحج دپاره تلل صحيح نه دي،البته کچرې دمکې مکرمې نه په دومره فاصله باندې اوسيږي چه ددې دکور نه دمکې مکرمې پورې فاصله (تقريبًا ۷۸کلوميټره) نه وي نو د خاوند اومحر نه بغيرهم تلل صحيح دي۔

❁ او کوم محرم چه دحج کولو دپاره ځان سره بوځي دهغه خرچه هم په دې ښځه باندې ده۔کچرې محرم خپله خرچه پخپله کوی نوورته اختيار دې، زيات ثواب به ورته ملاويږي۔

# دنکاح بيان

## د ښځې انتخاب:

په حديث شريف کښې دي: "ښځې سره ياخو ددې د دين دوجې نه نکاح کولې شي يادهغې دمال دوجې نه اوياددې دحُسن د وجې نه،لهذا ته دين والا حاصله کړه،ستالاس دې په خاوره ککړ شي"۔دا آخري جمله ديو عربي محاورې ده،چه په مختلف موقعو باندې استعماليږي،دلته ددې ديندارې ښځې سره دنکاح کولو ترغيب مراد دې۔

کچرې مال دداسې خلقو سره وي چه بداخلاقه دي،ديندراه او شريف نه دي نو اولادبه هم دهغوي په شان وي۔او که ښځه دښه خاندان ده نو اولاد به هم ښه اوديندراه وي۔

## د نکاح منعقد کيدل:

❁ د ايجاب او قبول په دوه لفظونوسره نکاح کيږي، لکه چا دګواهانو په مخکښې اووئيل : "چه مادخپلې لور نکاح تاسره اوکړه"۔هغه اووئيل: ما قبول کړه۔بس نکاح اوشوه،البته کچرې دده ډيرې لونړه وې نو صرف په دومره وئيلوسره نکاح به نه کيږي،بلکه نوم به اخلي مثلاً داسې به وائي چه دخپلې لور زينب نکاح تاسره اوکړه،هغه اووائي ماقبوله کړه۔

- یوځل ایجاب وقبول کول کافي دي،دوه یادرې ځله وئیلو څه ضرورت نشته دې۔
- دنکاح صحیح کیدو دپاره دا شرط دې چه دکم نه کم د دوه سړو یایوسړي او دوؤ ښځو په مخکښې اوکړې او داخلق خپل غوږونو سره دا لفظ واوري نو بیابه نکاح کیږي۔کچرې په تنهائۍ کښې یو اووئیل چه ما دخپلې لور نکاح تاسره اوکړه" دویم اووئیل : "ماقبوله کړه" نو نکاح نه دې شوې۔همداسې کچرې صرف دیو سړي په مخکښې نکاح ئې اوکړه نوبیاهم نکاح نه دې شوې۔
- بهتره داده چه په لویه ګنړه کښې نکاح اوکړې شي، لکه دجمعې دمونځ نه پس په جامع مسجدکښې یاپه بله ګنړه کښې چه دنکاح تشهیراوشي۔په پټ پټه نکاح نه دي کول پکار۔

## د نکاح دحرام کیدو اسباب:

که لاندیني اته وجوهاتو کښې کومه وجه اوموندلې شوه نو شرعًانکاح نه شي کیدلې:

1. قرابت(نسبي رشته داري) لکه: لور،نمسې(دلورُ لُور او د ځوي لُور) مور، دواړه نیاګانې،خور، دواړه تروریانې، واریره، خورزه۔
2. مصاهرت (دسخروالې رشته داري) لکه خواښې، اینګور۔
3. رضاعت (پئ ورکول) لکه : رضاعي خور،رضاعي رور،رضاعي دواړه تروریانې،وغیره سره هم نکاح حرامه ده۔
4. په خپل مینځ کښې دمحرم ښځو په نکاح کښې یوځاې کول لکه:

دوه خوياندې،تروراو واريره،تروراوخورزه په خپل مينځ کښې جمع کول(په نکاح سره)۔

5. ديوې ښځې د مخکښې نه دبل چا په نکاح کښې کيدل۔

6. دښځې په عدت کښې کيدل۔

7. په يو وخت کښې دڅلورو نه زياتو ښځو سره نکاح کول۔

8. دڅه آسماني دين قائل نه کيدل۔لکه هندؤ ،سيکهوغيره۔

## دطلاق بيان

طلاق صرف دضرورت په رُو سره جائز کړې شوې دې، بغير د ضرورت نه طلاق ورکول ډيره بده خبره ده،په دې وجه چه نکاح پخپل مينځ کښې دمينې محبّت اوښځې خاوند د راحت دپاره وي اوطلاق سره ددې نيک مقاصدو لاړ بنده شي۔ لهذا دښځې خاوند يوبل لره برداشت کول پکار دي۔

البته که پخپل مينځ کښې داسې نفرت پيداشي چه ديوبل حقوق ضائع کولو انديښنه پيداشي او زغملو څه ممکن صورت پاتې نه شي نو په داسې حالت کښې دطلاق ورکولواجازت دې۔

### دطلاق ورکولو طريقه:

که په څه ضرورت سره طلاق ورکول شي نو ددې درې طريقې دي:

يوه ډيره ښه،دويمه ښه، او دريمه بدعت او حرامه۔

1. دټولو نه ښه طريقه داده چه سړې ښځې ته په داسې حالت کښې چه دحيض وغيره نه ښځه پاکه وي يو طلاق ورکړي۔ورسره داهم شرط چه دپاکې په دې ټوله موده کښې ئې ورسره کوروالې نه وي کړې او

عدت تيريدو پورې ورته بل طلاق ورنکړي۔په عدت تيريدو سره به نکاح پخپله ختمه شي۔يو نه زيات طلاق ورکولو ضرورت نشته،په دې وجه طلاق دسخت مجبورې په حالت کښې جائز کړې شوې دې،لهذا په قدر د ضرورت کافي دې،دڅو طلاقو ضرورت نشته۔

2. ښه طريقه داده چه دې دپاکې په دريو زمانوکښې درې طلاقه ورکړي اوپه دې موده کښې دپاکې باوجود هم صحبت اونکړي۔

3. بدعت اوحرامه طريقه داده چه ددې دواړو صورتونو خلاف وي مثلاً درې طلاقه په يوځاې ورکړي يادحيض په حالت کښې طلاق ورکړي،ياپه کومه پاکې کښې ورسره کوروالې کړې وي په هغې کښې طلاق ورکړي۔ په دې ټولو صورتونوکښې اګرچه طلاق به واقع شي خو ګناهګار به وي۔

## دطلاق عدت:

کچرې خاوندطلاق ورکړي نو درې حيضو راتلو پورې به د خاوند په کور کښې وي په کوم کور کښې چه ئې طلاق ورکړې دې۔ددې کور نه به بهرنه اووځي،نه د ورځې او نه دشپې، نه به بل چاسره نکاح کوي۔کله پورې چه درې حيضه ختم شي نو عدت پوره شو او دکور نه دوتلو او دنکاح کولو پابندي ختمه شوه۔که سړي يوطلاق ورکړې وي يادوه،درې طلاقه ورکړې وي،او که طلاق بائن ئې ورکړې وي يارجعي،دټولو دعدت هم يو حکم دې۔

کچرې دچاحمل دې اوپه دې زمانه کښې طلاق اوشو نو بچي پيدا کيدو پورې به ناسته وي،همدا ددې عدت دې۔کله چه ماشوم پيدا شي نو عدت به ختم شي۔دطلاق نه لږ ساعت پس که ماشوم پيدا شو نوبياهم عدت ختم شو۔

# دمعاملاتو بيان

په حديث کښې دي:

حلال مال تلاش کول فرض دي دنورو فرضو نه پس۔

(مشکوٰة:۲۷۸۱)

مطلب دادې چه نورو فرضو يعني مونځ،روژه،زکوة وغيره داسلام دارکانو نه پس حلاله روزي تلاش کول فرض دي۔

## دبيعې(اخستلوخرڅولو ) اصول:

### وُجود:

دخرڅونکې څيز دخرڅولو په وخت موجود کيدل پکار دي۔لهذا چه کوم څيز اوسه پوره په وجود کښې نه وي راغلې هغه لره نه شي خرڅولې۔کچرې ديو غيرموجود څيز بيع اوکړې شوه اګرچه په خپل مينځ کښې په رضامندئ سره وي،دا بيع شرعًا به باطله وي۔

مثال: "زيد" دخپلې غوا بچې چه اوسه پورې پيداشوې نه دې په "عمر" باندې خرڅ کړو،دا خرڅول باطل دي۔

### ملکيت:

خرڅونکي څيزدبيع په وخت د(خرڅونکي) په ملکيت کښې وي۔لهذا چه کوم څيزدخرڅونکي په ملکيت کښې نه دې،هغې لره نه شي خرڅولې۔کچرې ددې ملکيت حاصلولو نه مخکښې هغې لره خرڅوي نو بيع به باطله وي۔

مثال: ''زید''په''عمر''باندې یو موټر خرڅوي چه في الحال د''بکر''په ملکیت کښې دې،خو دهغه امید دې چه هغه موټر به هغه د''بکر'' نه واخلي او روستو به ئې''عمر'' ته حواله کړي، دا بیع باطله ده،په دې وجه موټر د بیع په وخت د''زید''په ملکیت کښې نه وو۔

**قبضه:**

د بیع په وخت خرڅونکي څیز دخرڅونکي په حسّي یامعنوي قبضه کښې وي۔د''معنوي، قبضې نه مراد داسې صورت حال دې چه په هغې کښې قبضه کونکي هغه څیزپه ظاهري طورپه خپل تحویل کښې نه دې اخستې،خو دده په قدرت کښې راغې اودهغې ټول حقوق او ذمه دارۍ دده طرفته منتقل شوې چه په کښې ددې څیزد ضائع کیدو خطره هم شامل ده،یعني که داڅیزضائع شو نو دابه ګڼړلې شي چه دا د اخستونکي ضائع شو۔

**مثال۱:**

''زید'' د''عمر''نه یو موټر واخستو''عمر'' اوسه پورې موټر د''زید''یادهغه وکیل ته نه دې حواله کړې نو''زید''دا موټرپه ''بکر''باندې نه شي خرڅولې۔کچرې هغه په دې باندې دقبضه کولو نه مخکښې دې لره خرڅوي نو بیع به صحیح نه وي۔

**مثال۲:**

''زید''د''عمر''نه یوموټر واخستلو''عمر''ددې موټر دتعیین او نښه نښانې خودلو نه پس هغې لره په یوګیراج کښې اودروي چرته چه د''زید'' په آزاده رسیدل کیږي او''عمر'' هغه ته اجازت ورکوي چه هغه ګاډې دهلته نه چه چرته غواړې بوتلې شي۔دګاډي رِسک''زید''طرف ته

منتقل شوې دې۔اوس ګاډې دده په معنوي قبضه کښې دې اوس که''زید'' په دې باندې دظاهري او حسي قبضې کولو نه بغیر دې لره خرڅوي نو بیع به صحیح وي۔

## خلاصه دا راوتله چه هیڅ یوکس داسې څیز لره نه شي خرڅولې چه

1. اوسه پورې په وجود کښې نه دې راغلې۔
2. د خرڅونکي په ملکیت کښې نه وي۔
3. دخرڅونکي په حسي یامعنوي قبضه کښې نه وي۔

## معلوم کیدل:

دکوم څیزچه بیع شروع وي نو هغه په واضح طور باندې معلوم کیدل پکار دي او اخستونکي ته دهغې شناخت کول پکار دي۔

دخرڅونکي څیز تعیین په اشاره کولو سره هم کیدې شي او داسې تفصیلي وضاحت سره هم کیدې شي چه په هغې سره هغه څیز ددې څیزونو نه ممتازه شي چه دکوم بیع کول مقصود نه ده۔

### مثال:

یوبلډنګ دې چه په هغې کښې په یوه اندازه سره جوړ شوې څو اپارټمنټ دي زیدچه دبلډنګ مالک دې،''عمر''ته وائي چه ''زه د دې اپارټمنټس نه یو خرڅوم۔ ''عمر''ئې هم قبولوي،نو بیع به صحیح نه وي،ترڅوپورې چه د ژبې په وضاحت سره یااشاره کولو سره دیو اپارټمنټ تعیین اونکړي۔

### دقيمت تعيين:

دقيمت تعيين هم دبيع دصحيح کيدو دپاره ضروري شرط دې۔کچرې قيمت متعين نه دې نوبيع به صحيح نه وي۔

**مثال:** ''زيد''''عمر''ته وائي چه که ادائيګي په يوه مياشت کښې کوې نو قيمت به پنځوس روپې وي اوکه دوه مياشتې پس کوې نو پنځه پنځوس روپې به وي۔''عمر''هم په دې سره متفق شو،نو چونکه قيمت غيرمتعين دې،په دې وجه بيع صحيح به نه وي،خو داچه په دوه متبادل قيمتونوکښې ديو تعيين دبيع په وخت کښې اوکړې شي۔

## دشرط فاسد نه خالي کيدل:

په بيع کښې څه اضافي شرط نه دي کيدل پکار،په کومه بيع کښې چه څه شرط اولګولې شي نو هغه به فاسد وي، خو دا چه هغه شرط په کاروباري عرف کښې مروّج وي او دهغې عام چلن وي۔

**مثالونه:**

- ''زيد''د''عمر''نه يو موټر په دې شرط اخلي چه هغه به دده ځوي لره په خپل فرم کښې نوکر ساتي۔بيع چونکه مشروطه ده په دې وجه به فاسده وي۔
- ''زيد''د''عمر''نه يو فريج په دې شرط اخلي چه''عمر'' به دوه کاله پورې ددې دمفت سروس ذمه دار وي۔دا شرط چونکه دداسې معاملې دحصې په طور باندې متعارف دې په دې وجه صحيح دې او بيع هم صحيح ده۔

## د قرض په وجه سره په قیمت کښې اضافه:

- دقرض په صورت کښې قیمت دنقدو نه زیات هم کیدې شي،خو دمعاملې کولو په وخت ددې تعیین کیدل ضروري دي۔
- یوځل چه کوم قیمت متعین شو،په هغې کښې دوخت نه مخکښې ادائیګئ په وجه سره کمي کول یا په ادائیګئ کښې تاخیر کولو سره اضافه کول صحیح نه دي۔

## بیع باطل:

کومه بیع چه په شریعت کښې بالکل غیرمعتبره او لغوه وي او داسې اوګڼړلې شي چه هغه بالکل اخستې نه دې اوهغه خرڅ کړې نه دې دې ته ''بیع باطل'' وائي۔ددې حکم دادې چه اخستونکي ددې څیزمالک نه شو،هغه څیزاوسه پورې دهغه خرڅونکي په ملکیت کښې دې،په دې وجه د اخستونکي دپاره نه خو ددې خوړل جائز دي او نه چاته ورکول، بلکه په څه طریقه هم په خپل کار کښې راوستل صحیح نه دي۔

## بیع فاسد:

بیع شوې ده خوپه دې کښې څه خرابي راغله، دې ته''بیع فاسد'' وائي۔ددې حکم دادې چه ترڅوپورې اخستونکي څیز داخستونکي په قبض کښې رانه شي،هغې وخته پورې هغه څیزدده په ملکیت کښې نه راځي اوکله چه پرې قبضه اوکړي نو په ملکیت کښې راغلو، خو حلال طیب نه دې۔

په دې وجه خوراک څښاک په بل څه طريقه سره په خپل استعمال کښې راوستل صحيح نه دي، بلکه داسې بيعې لره ختمول واجب دي۔که اغستل وي نودوباره دنوې سرنه دې بيع اوکړي۔اوکه دابيع نه ماتوي، بلکه هغه څيز دبل چا په لاس خرڅ ئې کړو نو ګناه ئې اوشوه البته دبل اخستونکي دپاره ددې خوړل څکل اواستعمالول جائز دي او دا دويمه بيع صحيح شوه۔

که اولني مالک داڅيز په ګټه خرڅ کړې وي نو ګټې لره صدقه کول واجب دي، په خپل استعمال کښې راوستل صحيح نه دي۔

زمکه او کور وغيره(يعني غيرمنقوله څيزونو نه علاوه چه نور څومره څيزونه دي(يعني ټول منقوله څيزونه) ددې د اخستونه پس ترڅوپورې چه په دې قبضه نه وي کړې نو هغې پورې دې لره مخکښې خرڅول صحيح نه دي۔

په کومه زمانه کښې په سل روپې لس کلو غنم ملاويدل، هغه وخت تا پنځه کلو غنم قرض اخستې وو، بيا غنم ارزان شول، او په سل روپې شل کلو ملاويدل نوته به هم هغه پنځه کلو ورکوې۔دغه رنګه که ګران شو نوبيابه هم هم دومره ورکول وي۔

څنګه غنم چه تاورکړې وو مقروض (پخپله) ددې نه ښه غنم ورکړل نو دهغې اخستل جائزدي، دا سود نه دې البته په وزن کښې زيات کيدل نه دي پکارخو دقرض اخستلو په وخت دا وئيل صحيح نه دي چه مونږ به ددې نه ښه اخلو۔

# سودي لين دين

دسودي لين دين ګناه ډېره سخته ده۔په قرآن مجيد اوحديث شريف کښې په دې باندې سخت وعيدونه راغلی دي اوددې نه دبچ کيدو ډيرتاکيد کړې شوې دې۔

رسول اللهﷺ دسود ورکونکي،اخستونکي، سودي دستاويز ليکونکي اوپه سودي معامله باندې ګواه جوړيدونکي باندې لعنت فرمائيلې دې او فرمائيلې ئې دي چه داټول په ګناه کښې شريک دي، په دې وجه ددې نه دلرې اوسيدو زيات اهتمام کول پکار دي۔

## سود:

سود کله خو په قرض کښې وي او کله دڅيزونو په لين دين کښې:

## په قرض کښې سود:

دقرضو په ورکولو کښې چه کوم سود وي دهغې تعريف دادې:

په قرض باندې مشروطه اضافه يعني د قرض ورکولو په وخت شرط لګول سره اضافي رقم اخستل۔کچرې شرط ئې اونه لګوؤ، خو عام"عرف" او رواج همدا دې چه په اضافه سره قرض واپس کولې شي هم داسې نه،نوداهم دشرط په شان دې او حرام دې۔

البته که اضافه صراحةً مشروط ياعرفًا مروّج نه وه، بلکه مقروض دخپل طرف نه بغيردڅه سابقه معاهدې،شرط يا دعرف ورواج هم داسې څه څيز قرض ورکونکي ته دخپل طرف نه هديه کښې ورکړلو نودا سود نه دې۔

## په لين دين کښې سود:

د څيزونو په لين دين کښې دسود تعريف به داسې وي:

''د هم جنس څيزونو په ناپ يا تول سره په تبادله کښې اضافه ياقرض''۔

يعني کله چه داسې دهم جنس څيزونو لين دين کولې شي چه په وزن سره تول شي (نه چه په شمارولوسر) ياپه پيمانې سره( نه چه په گزسره) ناپ کولوسر خرڅيږي نوپه دې کښې به نه ديو طرف نه اضافه کولې او نه د قرض څه گنجائش شته،بلکه په يوشان مقدار سره لاس په لاس اخستل ورکول ضروري به وي۔

اگرچه يو څيزښه او عمده او بل ناقص او دکم درجې وي۔کچرې اضافه اوکړې شوه نو هغې ته "حقيقي ربا" وائي او کچرې قرض اوکړې شو نو دې ته "حکمي ربا" وائي۔ دا دواړه قسمونه د ربا حرام او ناجائز دي۔

## د سره زرو او سپينو زرو اخستل او خرڅول:

د سرو سپينو زرو داغستلو څو صورته دي :

يوخودادې چه سپين زر دې په سپين زرو سره اوسره زره دې په سرو زرو سره واخستلې شي،يعني دواړه طرفته يو قسم څيز دې،نوپه دې صورت کښې دوه خبرې واجب دي :

يو داچه دواړه طرفته چاندي(سپين زر) يادواړه طرفته سره زر وي۔

دویم داچه دجدا کیدو نه مخکښ مخکښ دواړه طرفته پوره لین دین اوشي، څه قرض باقي پاتې نه شي۔ کچرې په دې دواړو خبرو کښ دڅه خبرې خلاف ئې اوکړل نو''سود''شو۔

مثلاً: یوه توله سپین زرئې و اخستل نودهغې په بدله کښ یوه توله سپین زر ورکول واجب دي، ددې نه کم یا زیات کول سود دې۔هم دغه شان کچرې یوسپین زر ورکړل، دویم په دې مجلس کښ ورنکړل، روستو ئې د ورکولو وعده اوکړه نو داهم جائز نه دي۔

دویم صورت دادې چه دواړه طرفته یوقسم څیز نه دې، بلکه یو طرفته چاندي اوبل طرفته سره زره دي۔ددې حکم دادې چه وزن برابرکیدل ضروري نه دي، دیوې تولې چاندئ په بدله کښ چه څومره غواړې سره زره واخله، جائز دي۔هم دغه شان د یو تولې سره زرو په بدله کښ څومره چه غواړې چاندي واخله، جائز دي، خو د جدا کیدو نه مخکښ مخکښ دواړو طرفته لین دین پوره وي، یو طرفته هم قرض نه وي۔

په موجوده رائج وختي کاغذي نوټونو سره سره زر سپین زر په نقد او یا په قرض سره اخستل جائز دي ۔ نقد په هرصورت کښ جائز دي، او قرض باندې هغه وخت جائز دی چه په دواړو عوضونو(پیسې اوسره زر، سپین زر) کښ (کم ازکم) په یو باندې هم په دې مجلس کښ قبضه وي۔

# اخلاقیات

(ښه او بد عادتونه)

## اخلاق:

په یوانسان کښې دننه چې کوم ښه صفات کیدل پکاردي لکه: رښتونوالې، امانت داري، سخاوت وغیره او د کومو بدو عادتونو بچ کیدل پکاردي لکه: دروغ، غیبت، حسد وغیره) دې ته اخلاق وائي۔

ښه اخلاق خپلول او بدعادتونو پریخودلو سره دانسان اصلاح کیږي۔

## ښه اخلاق:

دلته څو ښه اخلاق بیانولې شي۔

لس ښه اخلاق او دهغې دحاصلولو طریقه داده:

### 1. دالله تعالي یره:

الله تعالي خپل بندګانوته حکم کړې دې چې زما نه اویریږئ۔د الله تعالي یره داسې ښه عادت دې چې سړې ددې په وجه سره دګناهونو نه بچ کیږي۔ددې طریقه داده چې دالله تعالي دعظمت او عذاب سوچ اوکړې شي، په دې سره دالله تعالي یره پیدا کیږي۔

### 2. دالله تعالیٰ نه امید:

الله تعالي فرمائیلی دي چه تاسو دالله تعالي درحمت نه مه ناامیده کیږئ۔امید داسې څیزدې، چې په هغې سره دنیک کارکولو او دتوبه کولو همت زیاتیږي۔ددې طریقه دا ده چې دالله تعالي رحمت لره یاد کړی او سوچ ئې اوکړی۔

3. **صبر:**

خپل نفس لره د دين دخبرو پابند كول او د دين خلاف دې څه كار ته نه پرې خودل، دې ته "صبر" وائي۔

چې ددې څو موقعې دي۔يوه موقعه دا ده چه سړې د امن وسلامتۍ په حالت كښې وي،الله تعالي صحت وركړې دې،مال ودولت،عزت،آل اولاد ،كور،سازوسامان وركړې دې،دداسې وخت صبردادې چه سړې دمال ودولت دوجې نه خراب نه شي،الله تعالي هير نه كړي،غريبانانو لره سپک اونه ګڼړي،دهغوي سره دنرمۍ او حسن سلوک معامله كوي۔

دويمه موقعه دعبادت وخت دې چه هغه وخت نفس سستي يا كنجوسي كوي لكه دمونځ دپاره پاسيدل يا زكوة وخيرات وركولو كښې، نو په داسې موقعه باندې درې قسمه صبر پكار دې۔

يو دعبات نه مخكښې چې نيت صحيح اوساتې۔دالله تعالي دپاره هغه كار اوكړې،دنفس دڅه غرض دپاره نه وي۔

بل دعبادت په وخت،چه كم همتي نه وي۔څنګه چه ددې عبادت حق دې،هغه شان ئې ادا كړې۔دريم دعبادت نه پس چه دچاپه مخكښې ددې ذكربطور رياء اونكړې۔

دريمه موقعه دګناه وخت دې۔دهغه وخت صبر دادې چه نفس دګناه نه اوساتې۔

څلورمه موقعه هغه وخت دې چه كله څوک انسان هغه ته تكليف اورسوي، بدرد ورته اووائي۔دهغه وخت صبردادې چه په بدله اخستوسره ،خاموشه شي۔

پنځمه موقعه دمصيبت،بيمارۍ اومال دنقصان يا دكوم نزدې رشته دار دمرګ ده۔د هغه وخت صبردادې چه دژبې نه خلاف شرع

څه خبره اونه ځي-په چغو چغو دې نه ژاړي-

دصبر دحاصلولو طریقه داده چه په دې ټولو موقعو کښې دې د صبرثواب یاد کړي اودا سوچ دې اوکړي چه په بې صبرۍ سره تقدیرنه بدلیږي،نوبیا ثواب ولې ضائع کړې شي-

## 4. شکر:

مونږ له په هرحال کښې دالله تعالي شکر ادا کول پکار دي-

د شکر یوه طریقه داده چه په هرنعمت باندې ''الحمدلله'' اووئیلې شي-

رسول اللهﷺ فرمائیلی دي:

بهتر ینه دعا''الحمد لله'' ده-

کله چه هم څه دخوشحالۍ یا دفائدې خبره وي نو ''الحمدلله'' ضرور وائې-

د الله تعالي په نعمتونو سره خوشحالیدو سره دهغه محبت په زړه کښې پیدا کیدل اوپه دې محبت سره دا شوق کیدل چه کله الله تعالي مونږ ته داسې نعمتونه راکوي نو دهغه ښه عبادت دې اوکړې شي اودداسې نعمت ورکونکي نافرماني لویه ناشکري ده-دا دشکر خلاصه ده-

## 5. توکل:

دا هرمسلمان ته معلومه ده چه دالله تعالي د ارادې نه بغیر نه څه نفع حاصلیدې شي او نه نقصان رسیدې شي،په دې وجه لاژم دي چه په کوم یو کار کښې هم په ''تدبیر'' بهروسه اونکړي او تدبیرهم کوي،ځکه چه تدبیرکول دالله پاک حکم دې،خو دې لره مستقل مه ګڼړه،بلکه یقین ساته چه کار پوره کول دالله تعالي په قبضه کښې

دي۔کچرې هغه اوغواړي نو تدبیربه اثر اوکړي، ورنه نه کوي۔نظر په الله ساتل او هیڅ یو مخلوق نه هم امید نه ساتل، نه دچانه زیات یریدل۔دا ګنړل چه دالله تعالي د ارادې نه بغیرڅوک څه هم نه شي کولې۔دیته بهروسه او ''توکل'' وائي۔ددې طریقه همدا ده چه دالله تعالي قدرت اوحکمت لره ښه سوچ اوکړی او ښه یاد کړی۔

### 6. الله تعالٰی سره محبت:

الله تعالي طرفته د زړه راخکل اودالله تعالي خبرو(یعني دالله تعالي د دین خبرو) لره اوریدل او دهغه کارونو ته کتلو سره مزه راتلل، دا محبت دې۔

ددې طریقه داده چه دالله تعالي دنوم په کثرت سره ذکر اوکړې،او دهغه دکمال صفات یاد کړې،او دالله تعالي چه بندګانو سره کوم محبت دې په هغې کښې غور اوکړې۔

### 7. دالله تعالٰی په فیصلوبا ندې راضي کیدل:

کله چې مسلمان ته دا معلومه ده چه دالله تعالي دطرفنه څه چې هم کیږي،په دې کښ دانسان فائده او خیردې نو بیاپه هرخبره راضي کیدل پکار دي او دڅه قسم شکوه وشکایت نه دي کول پکار۔

ددې طریقه داده چه ددې خبرې سوچ اوکړې شي چې دالله تعالي کومه فیصله هم وي، په دې کښې خیر وي۔

### 8. خالص نیت:

کوم سړې چې ددین کار کوي نوپه دې کښ ددنیا هیڅ مفاد نه وي،نه خودل (ریاء) وي او نه څه بل مطلب وي۔

د ''خالص نيت '' طريقه داده چه د كار كولو نه مخكښ ښه سوچ اوكړې شي چه په نيت كښې دالله تعالي درضا نه علاوه دڅه بل څيز شبهه وي نو زړه دهغې نه صفا كړي۔

### 9. دمشرانو عزت:

په اسلامي تعليماتو كښې دكم عمر والا ته دا حكم وركړې شوې دې چه هغه دخپل مشرانو عزت اوكړي۔

رسول اللهﷺ هم دا ارشاد فرمائيلې دې:

هغه سړې زمونږ نه نه دې چه زمونږ په كشرانو رحم نه كوي او زمونږ دمشرانو عزت نه كوي۔(ابوداؤد)

د نبي كريمﷺ معمول وو چه كچرې په څه وفد كښې به كوم دكم عمر كس د مشرانو نه مخكښ خبره شروع كوله نو نبي عليه السلام به ددې تاكيد فرمائيلو چه ''مشران مخكښ وئيلو ته پرېږده ''۔(بخاري)

لهذا دخپلو مشرانو عزت او دهغوي احترام كول پكار دي۔

### 10. رښتيا:

كومه چه په ژبې سره وائې هغه په زړه كښې هم وي او په حقيقت كښې هم داسې وي دې ته ''رښتيا '' وائي۔

په انساني خوبيانو كښې يوه خوبي داده چه انسان هميشه رښتيا وائي ـپه دې وجه په هرحال كښې د رښتياؤ وئيلو عادت جوړول پكار دې۔

رسول اللهﷺ فرمائيلې دي:

''رښتيا خبره وايه'' په دې وجه چه رښتيا دنيكئ لاره ښائي او

نیکي جنت ته رسول کوي او سړې همیشه د رښتیاء وئیلو په وجه سره په صدیقینو (رښتینو) کښې لیکلې شي۔"

رسول الله ﷺ به همیشه رښتیا وئیل۔

رسول الله ﷺ د نبوت ملاویدو نه مخکښ دصادق (رښتوني) او امین (امانتدار) په نوم سره یادیدلو۔مونږ لره هم پکار دي چه همیشه رښتیا وایو۔

**د رښتیاؤ فائدې:**

1. د الله تعالي اودهغه د رسول ﷺ محبوب جوړیدو دپاره رښتیا وئیل ضروري دي۔
2. رښتیا دایمان نښه ده۔
3. رښتیاؤ کښې برکت دې۔
4. په رښتیاؤ کښ اطمینان دې۔
5. په رښتیاؤ کښ نجات دې۔
6. په رښتیا وئیلو والاباندې خلق اعتماد او بهروسه کوي۔

# بداخلاق

1۔ دروغ:

په ژبه داسې خبره کول چه په حقیقت کښ نه وي هغې ته "دروغ" وائي۔

دروغ وئیل،بدعادت دې،دروغ وئیل الله تعالي ته ناخوښه دي،په دې وجه ددې نه بچ کیدل پکاردي۔په قرآن کریم کښې الله تعالي فرمائي :"او د دروغو نه ځان ساتئ"۔

رسول الله ﷺ په مذاق کښې هم د دورغ وئیلو نه منع فرمائیلې ده۔

## د دروغو نقصانات:

دروغ ويونکې د الله تعالي د رحمت نه لرې وي۔
په دروغ وئيلو سره خُله بدبوداره کيږي۔
رسول اللهﷺ فرمائيلې دي :
"بنده چه کله دروغ وائي نو دهغه دخُلې نه داسې بدبُو راوځي چه دهغې په وجه سره د رحمت فرښتې دده نه يو ميل لرې تختي"۔
دروغ وئيلو سره اطمينان ختميږي او دورغ وئيلو والا په دې يره کښې مبتلا کيږي چه چرته زما دروغ چاته معلوم نه شي۔
د دورغ ويونکي نه دخلقو اعتماد اوچتيږي،بياکه لږ رښتيا هم وائي نوبيا هم خلق دده په خبره اعتماد نه کوي۔

2۔ **غصه:**

په غصه کښې عقل په ځائې نه پاتې کيږي او دانجام د سوچ هوش نه وي،په دې وجه د ژبې نه بې موقعه خبره راوځي او دلاس نه هم زياتې کيږي، په دې وجه غصه په قابو کښې ساتل پکار دي۔
د غصې د منع کولو طريقه داده چه چاته غصه شوې ئې د هغه دمخې نه اخواه شه۔بيا داسوچ اوکړه چه څنګه دا کس زما قصووار دې ددې نه زيات زه د الله تعالي قصور وار يم او زه غواړم چه الله تعالي زما خطا معاف کړي، داسې ماله هم پکار دي چې زه دې کس لره معاف کړم۔د غصې په حالت کښې د ژبې نه (اعوذبالله) باربار وئيل او اوبه څکل يا اودس کول،په دې سره غصه يخيږي۔

3۔ **حسد:**

چالره په خوراک څکاک ياپه مزو کښ ليدل او هغوي ته سوزيدل او دهغوي نه په دې نعمت اخستلو باندې خوشحاليدل، دې ته ''حسد'' وائي، دا ډير بد څيزدې۔په دې کښ گناه هم ده، او دداسې سړي ټول ژوند په تکليف کښ تيريږي۔ غرض دده دنيا او دين دواړه بې مزې وي، په دې وجه ددې مصيبت نه ځان خلاصولو دپاره ډير کوشش کول پکار دي۔

ددې علاج دادې چه اول دا سوچ اوکړې چه زما په حسد سره هم زما نقصان دې چه زما نيکئ برباديږي، او دهغه څه نقصان دې؟ ځکه چه په حديث کښ دي چه حسد نيکو لره داسې خوري لکه اُور چه لرگي خوري۔

غرض داچه حسد ډيره لويه گناه ده او دحاسد نقصان دادې چه هميشه په غم اوتکليف کښ وي اوپه چاچه ئې حسدکړې دې دهغه څه نقصان نشته،ځکه چه په حسد سره هغه نعمت نه ختميږي،بلکه ده ته به دافائده وي چه دحسد کونکي نيکئ هغه ته ځي۔ددې سوچ کولو نه پس په خپل زړه باندې په زوره چه کوم سړي ته حسد پيدا شوې دې په ژبه سره دنورو خلقو په مخکښ دهغه تعريف کوه او دا وايه چه دالله تعالي شکر دې چه دهغه سره داسې نعمتونه دي، الله تعالي دې ورته نور هم زيات کړي۔

4۔ **دمال محبت:**

د دنيا او دمال محبت داسې بد څيز دې کله چه په زړه کښ راشي نو دالله تعالي ياد او محبت په دې کښ نه راځي، ځکه چې داسې سړي ته هروخت همدا فکر وي چه مال به څنگه راځي او څنگه به جمع شي؟ دومره

دومره څيزونه شي، داسې کور جوړول پکار دي۔

کله چې شپه او ورځ زړه په دې کښې اولګي نو دالله تعالي د یادولو موقعه کله ملاویږي؟

یوه بله بدي په دې کښې دا ده چه کله سړې په مال جمع کولو پسې شي، نو دده بیا دحلال وحرام څه خیال نه وي، دخپل او پردي په حق کښې فرق وي، نه د دروغو او دهوکې پروه کوي، بس همدا نیت ئې وي چه دچرته نه راشي او مونږ ئې جمع کړو۔په حدیث کښې راغلې دي چه ددنیا محبت دټولو ګناهونو جرړه ده۔

## 5۔ کنجوسي:

ډیرحقونه،دکوم ادا کول چې فرض او واجب دي، لکه زکوة، قرباني،دچامحتاج مددکول، دخپل غریب رشته دارسره ښه سلوک کول،په کنجوسۍ کښې دا حقونه نه ادا کیږي، دا ګناه ده چه دیني نقصان دې او کنجوس سړې دټولو په نظر کښې ذلیل وبې قدر وي دا د دنیا نقصان دې۔

ددې یو علاج خو دادې چه دمال او ددنیا محبت د زړه نه اوباسي۔کله چه ددې محبت پاتې نه شي نو کنجوسي په هیڅ شان نه شی کیدې۔دویم علاج دادې چه کوم څیز دخپل ضرورت نه زیات وي،په طبیعت باندې زور اچولو سره چاله دې ورکوی۔

## 6۔ شهرت پسندي:

کله چه دسړي په زړه کښې د شهرت پسندۍ خواهش راشي نو دبل په نوم اوتعریف سره سوزي او حسد کوي۔ دبل سړي بدي او ذلت اوریدو

سره خوشحاليږي۔ دا هم دلوئې ګناه خبره ده چه سړې دبل چا بد غواړي اوپه دې کښې بدي دا هم ده چه کله په ناجائزه طريقو سره نوم پيدا کولې شي،مثلاً د شهرت دپاره واده وغيره کښې ډير مال ئې والوزولو،فضول خرچي ئې اوکړه اوهغه مال ئې کله په رشوت سره جمع کړې وو،کله ئې سودي قرض اخستې وه،دا ټول ګناه ددې شهرت دشوق دوجې اوشوه۔ددنيانقصان په دې کښې دادې چه دداسې سړي حاسد او دشمنان ډير وي اوهميشه د ده په ذليل کولو اوبدنام کولوکښې اوده دنقصان رسولو او تکليف رسولو په فکر کښې وي۔

## 7۔ غروروتکبر:

غرور او تکبر دې ته وائي چه سړې خپل ځان په علم، دينداريځ، حسب ونسب،مال وحيثيت او عقل وغيره کښې دنورو نه لوې اوګنړي او نورولره دخپل ځان نه سپک ګنړي،دا لويه ګناه ده۔په حديث کښې دي چه دچا په زړه کښې د اُوري د دانې برابر هم تکبّر وي هغه به جنت ته نه ځي۔په دنيا کښې هم خلق دداسې سړي نه نفرت کوي اودده دشمنان جوړيږي، اګرچه د يرې دوجې نه په ظاهري طور باندې ښکته پورته کيږي۔

يوه ګناه دا هم ده چه داسې سړې دچا نصيحت هم نه مني،حقه خبره دچا په وينه سره نه قبلوي،بلکه بده ئې ګنړي،او نصيحت کونکي ته تکليف رسوي۔

ددې علاج دادې چه په خپل حقيقت باندې غور اوکړې چه زه دخاورې او ناپاکه اوبو نه پيدا شوې يم۔ټولې خوبې دالله تعالي راکړې شوې دي،کچرې هغه اوغواړي نواوس به ټولې واخلي۔ بيا کبرپه څه خبره اوکړم۔

### 8- خود پسندي:

کچرې څوک خپل ځان لره ښه ګنړي، اګرچه نورو لره بد او کم نه ګنړي نودا هم بده خبره ده۔دیته "عجب" وائي۔

په حدیث کښې راغلي دي چه دا خصلت دین لره بربادوي اودا خبره هم ده چه داسې سړې دخپلې اصلاح فکر نه کوي ځکه چه هغه خپل ځان ښه ګنړي نوده ته خپلې بدې کله هم په نظر نه راځي۔ددې علاج دا دې چه په خپلو خامو سوچ اوکړي او ورته اوګوری او دا اوګنړي چه ماکښې دننه کومې خوبې دي دا دالله تعالي نعمت دې۔

### 9- دزياتو خبرو كولو عادت:

نفس ته په زياتو خبرو كولو كښې مزه راځي او هغه په دې سره په څو ګناهونو کښې اخته شي۔دروغ وئيل، چاته پيغور ورکول، خپله لوئي خودل خامخا چاسره بحث ومباحثه كول، دمالدارو خوشامد كول، داسې مذاق كول چه په هغې سره دچا زړه آزارشي، ددې ټولو آفتونو نه بچ کیدل هله ممکن دي چه دژبې حفاظت اوکړې شي۔

اوددې دحفاظت طريقه داده چه کومه خبره کول وي هغه ذهن ته راتلو سره نه دي وئيل پکار، بلکه ښه سوچ كول چه په دې کښې ګناه ده یاثواب، یاداچه نه ګناه ده او نه ثواب؟ کچرې هغه خبره داسې ده چه په هغې کښې ګناه ده نوبالکل خپله ژبه بنده ساته۔کچرې دننه نه نفس تقاضا کوله نو هغه په دې طريقه پوهه کړه چه اوس ستالږ صبر کول آسان دي، خو د دوزخ عذاب ډير سخت دې۔کچرې هغه خبره دثواب وي نو اوئې وایه۔

## 10۔ د زیات خوړلو حرص:

ډیرزیات ګناهونه د خیټې ډکولو د وجې نه کیږي۔په دې کښې د څو خبرو خیال ساتل پکار دي: د خوندور خوراک عادت مه جوړوه۔دحرام روزۍ نه بچ شه۔د حدنه زیات خیټه مه ډکوه بلکه د دوه څلورو نمړو لوږه اوساته خوراک پریږده۔په دې کښې ډیرې فائدې دي، مثلاً: زړه صفاپاتې کیږي، چه په هغې سره دالله تعالي دنعمتونو قدر راځي او په دې سره دالله تعالي محبت پیدا کیږي۔په زړه کښې نرمي او رقّت وي،چه په هغې سره په دعا او ذکرکښې خوند معلومیږي۔په نفس کښې لوئي او سرکشي نه پیدا کیږي۔نفس ته لږ شان تکلیف رسي او تکلیف ته کتو سره دالله تعالي عذاب رایادیږي۔په دې وجه نفس دګناهونو نه بچ کیږي۔دګناه رغبت کمیږي۔طبیعت سپک وي۔خوب کم راځي۔په تهجد او نور عبادتونو کښې سستي نه وي۔

# د احادیث مبارکه اهمیت وفضیلت

دحدیث لغوی معنی دخبرو کولو ده۔حدیث ته حدیث په دې وجه وائی چه دنبی کریمﷺ خبرې دی۔

په اصل کښ حدیث دنبی کریمﷺ قول،فعل او تقریرته وائی۔حدیث په شریعت اسلامی کښې دقرآن نه پس دویم لوې او اهم ماخذ دې۔دا د وحی دویم قسم دې چه ورته وحی خفی یاوحی غیرمتلو وئیلې شی۔په دې اعتبارسره احادیث مبارکه دقرآن پاک تفسیردې۔ځنګه چه دقرآن پاک آیتونو لره منل لازمی دی هم دغه شان حدیثو لره منل هم انتهائی ضروری دی په قرآن پاک کښې دالله تعالی ارشاد دې:

وَمَآ اٰتٰکُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَھٰکُمْ عَنْهُ فَانْتَھُوْا۔ [سورۃ حشر:۷]

''بس کوم ځیزچه تاسو ته پیغمبرﷺ درکړی هغه واخلې او دکوم ځیزنه منع اوکړی (ددې نه) منع شئ۔''

په بل ځاې کښ ارشاد دې:

وَمَا یَنْطِقُ عَنِ الْھَوٰی۔ اِنْ ھُوَ اِلَّا وَحْیٌ یُّوْحٰی۔ [سورۃ نجم:۳،۴]

یعنی دا پیغمبرپه خواهش نفس سره خو دخُلې نه خبره هم نه راوباسی۔دا خوحکم دخداې دې چه دهغه دطرف نه لیږلې شی۔

علم حدیث یعنی دحدیثوخودلو او نورو ته دزده کولو او لوستلو او زده کولوفضیلت دپاره هم داخبره کافی ده چه په علم حدیث کښ مشغول سړی دپاره نبی کریمﷺ دعا فرمائیلې ده۔

ځنګه چه ارشادمبارک دې: نَضَّرَ اللهُ عَبْدًا سَمِعَ مَقَالَتِیْ فَحَفِظَھَا وَوَعَاھَا وَاَدَّاھَا کَمَا سَمِعَھَا [مشکاۃ المصابیح کتاب العلم الفصل الثانی رقم ۲۲۸(۳۱)]

''الله تعالی دې هغه بنده لره تروتازه اولری یعنی هغه لره دې دقدرومنزلت او دین او دنیا خوشحالوسره اولری چاچه زما څه خبره(حدیث) واوریده او هغه ئې یادکړه او همیشه ئې یاد اوساتله اوهغه ئې چه څنګه اوریدلې وه هم هغسې ئې خلقو ته اورسوله ''۔

په یو بل روایت کښې دی اګرچه دهغې په صحت کښې کلام دې خو حافظ ابن حجرؒ وئیلې دی چه دا روایت د دریالس صحابه کرامو نه نقل دې چه :

مَنْ حَفِظَ عَلٰی اُمَّتِیْ اَرْبَعِیْنَ حَدِیْثًا فِیْ اَمْرِ دِیْنِهَا بَعَثَهُ اللّٰهُ فَقِیْهًا وَکُنْتُ لَهٗ یَوْمَ الْقِیَامَةِ شَافِعًا وَّشَهِیْدًا۔ [شعب الایمان: رقم ۱۵۹۷-مشکاة المصابیح کتاب العلم الفصل الثالث رقم۲۵۸]

''کوم سړې چه زما امت ته دهغوی دفائدې دپاره دین سره د متعلقه کارځلویښت احادیث یادکړی نو الله تعالی به هغه دقیامت په ورځ فقیه پاسوی او دقیامت په ورځ کښې به د هغه شفاعت کونکې او (دهغه په اطاعت باندې) ګواه جوړیږم''۔

## په نیت باندې دارومدار

① قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : اِنَّمَا یُبْعَثُ النَّاسُ عَلٰی نِیَّاتِهِمْ۔ (ابن ماجہ)

**ترجمه**:نبی کریم ﷺ ارشادفرمائیلې دې:(دقیامت په ورځ) به خلق دهغوی دنیتونو مطابق پاسولې شی۔

## قرآن او حدیث

② قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : اَلَا اِنِّیْ اُوْتِیْتُ الْقُرْاٰنَ وَمِثْلَهٗ مَعَهٗ۔ (ابوداؤد)

**ترجمه**:د رسول الله ﷺ ارشاد دې: چه خبردار ماته قرآن راکړې شوې دې او د هغې سره دهغې په شان څیز(حدیث) هم۔

## هم قرآن د عزت او ذلت سبب دې

③ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اِنَّ اللّٰهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهٖ اٰخَرِيْنَ۔ (مسلم)

**ترجمه**: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دې: بيشکه الله تعالی د دې قرآن په ذريعې سره بعضې قومونو ته عزت ورکوی او بعضو لره ذليل کوی۔

## سنت رسول ﷺ او سنت خلفائې راشدين

④ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءَ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ۔

(احمد، ابوداؤد، ترمذی)

**ترجمه**: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دې چه: په تاسو باندې زما د سنتو او د خلفاء راشدينو د سنتو تابعداری لازمه ده۔

## د شرک نه ځان ساتل

⑤ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : مَنْ لَقِيَ اللّٰهُ لَا يُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا يُصَلِّي الْخَمْسَ وَيَصُوْمُ رَمَضَانَ غُفِرَ لَهُ۔ (الحديث)

**ترجمه**: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دې: چه کوم سړې الله تعالی په داسې حال کښې مِلاؤ شی چه هغه سره ئې ځوک شريک کړې نه وی، پنځه وخته مونځ کوی او د رمضان روژې نيسی، د هغه مغفرت به اوکړې شی۔

## ارکان اسلام

⑥ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : بُنِيَ الْاِسْلَامُ عَلٰی خَمْسٍ شَهَادَةُ أَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَاءِ الزَّكٰوةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ۔ (متفق عليه)

**ترجمه**: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دې: د سلام بنياد په پنځو

ستنو باندې قائم کړې شوې دې د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ ګواهي ورکول يعنې ددې حقيقت ګواهي ورکول چه دالله تعالى نه سيوا څوک دعبادت لائق نشته اومحمد ﷺ دالله تعالى بنده او رسول دې، مونځ قائمول، زکوة ورکول، حج کول، او د رمضان روژې نيول۔

## اودس او مونځ

⑦ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ۔ (احمد)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلې دې: دجنت کنجي مونځ دې او د مونځ کنجي اودس دې۔

## دمسواک کولو فائدې

⑧ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَلسِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِّلْفَمِ وَ مَرْضَاةٌ لِّلرَّبِّ۔ (احمد)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ فرمائيلې دى: مسواک خُلې لره پاکونکې او د رب راضى کونکې څيزدې۔

## داذان ورکولو فضيلت

⑨ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : اَلْمُؤَذِّنُوْنَ اَطْوَلُ النَّاسِ اَعْنَاقًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ۔ (مسلم)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ فرمائى چه: مؤذن به دقيامت په ورځ د ټولو نه اوږد څټ والا (يعنى عزت) والا به وى۔

## دمؤذن جواب

⑩ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُوْلُوْا مِثْلَ مَا يَقُوْلُ ثُمَّ صَلُّوْا عَلَيَّ۔ (مسلم)

**ترجمه:** د رسول الله ﷺ ارشاد دې۔کله چه تاسو دمؤذن آذان واورې نو په جواب کښې ورته هغه الفاظ اووايه کوم چه هغه وائى اوبيا په ما باندې درود اوليږې۔

# دمونځ پريښودلو نقصان

⑪ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَنْ فَاتَتْهُ الصَّلَاةُ، فَكَأَنَّمَا وُتِرَ اَهْلُهٗ وَمَالُهٗ۔ (ابن حبان)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي: دکوم سړي چه يو مونځ هم فوت شو هغه داسې دې ګوياچه دهغه دکور خلق او مال ودولت ټول دهغه نه په زوره واخستلې شو۔

# مقبول دعا

⑫ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ! اَيُّ الدُّعَاءِ اَسْمَعُ ؟ قَالَ: جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرِ وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوْبَاتِ۔ (ترمذی)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو، اې دالله رسوله! دکوم وخت دعا زياته قبليږی؟ نبی عليه السلام ارشاد اوفرمائيلو: د شپې په آخری حصه کښې او دفرض مونځ نه پس۔

# د امام پوره اقتدا دې اوکړې شی

⑬ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اِنَّمَا جُعِلَ الْاِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهٖ فَاِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوْا وَاِذَا قَرَأَ فَانْصِتُوْا۔ (ابوداود)

**ترجمه:** امام په دې وجه مقرر کړې شوې دې چه دهغه پوره اقتدار اوکړې شی بس کله چه هغه تکبير اووائی نوتاسو هم تکبير وائې اوکله چه هغه قرأت کوی نو تاسو چپ اوسئ۔

# صف سيدها ساتل

⑭ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ فَاِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوْفِ مِنْ اِقَامَةِ الصَّلٰوةِ۔ (بخاری)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي: خپل صفونه نيغ کړئ ځکه چه د مونځ په ښه طريقه سره اداکولو کښې دصفونو نيغول شامل دی۔

## جماعتونه دالله تعالی خوښ ځایونه

⑮ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَى اللهِ تَعَالٰى مَسَاجِدُهَا وَاَبْغَضُ الْبِلَادِ اِلَى اللهِ اَسْوَاقُهَا۔ (مسلم)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دي: الله تعالی ته په ټولو ځایونوکښ زیات خوښ جماعتونه دی اود ټولو نه ناخوښه ځایونه بازارونه دی۔

## صدقه د دوزخ نه دبچ کیدو ذریعه

⑯ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْبِشِقِّ تَمْرَةٍ۔ (بخاری)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دی : د دوزخ د اُور نه ځان بچ کړئ اګرچه د اوچې کهجورې په ټکړه (صدقه کولو) په ذریعه سره ولې نه وی۔

## دعالم فضیلت

⑰ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِيْ عَلٰى اَدْنَاكُمْ۔ (ترمذی)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دي: دعالم فضیلت داسې دې لکه زما فضیلت په تاسو کښ په یومعمولی کس باندې۔

## دمسلمان خیرخواهی

⑱ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ" ثَلَاثًا قُلْنَا لِمَنْ قَالَ: لِلّٰهِ وَلِكِتَابِهٖ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِاَئِمَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ وَعَامَّتِهِمْ۔ (مسلم)

**ترجمه:** نبی کریم ﷺ درې ځله فرمائیلې دې چه :دین خیرخواهی ده۔صحابو ؓ عرض اوکړو چه دچادپاره بنیګړه او خیرخواهی۔نبی علیه السلام اوفرمائیل دالله تعالی،دالله تعالی دکتاب،اودالله تعالی درسول،اودمسلمانانو د امامانو، اودعام مسلمانانو۔

# دنورو په کار راتلل

(۱۹) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَنْ كَانَ فِيْ حَاجَةِ أَخِيْهِ كَانَ اللهُ فِيْ حَاجَتِهِ۔ (ابوداؤد)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلي دي: څوک چه دخپل رور حاجت پوره کوی الله تعالی دهغه حاجت پوره کوی۔

# داهل وعیال سره حُسن سلوک

(۲۰) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي۔ (ابن حبان)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلي دي: په تاسو کښې بهتره هغه سړي دي چه دخپل کور والو دپاره دټولو نه ښه وی اوزه په تاسو ټولو کښې دخپل کوروالو دپاره زیات ښه یم۔

# په بغاوت باندي نه آماده کول

(۲۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلٰى زَوْجِهَا أَوْ عَبْدًا عَلٰى سَيِّدِهٖ۔ (ابوداؤد)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلي دي: کوم سړي چه یوې ښځې لره دهغې دخاوند خلاف یا یو غلام لره دهغه دآقا خلاف راوچت کړی هغه زمونږ نه نه دي۔

# اعلانیه ګناه

(۲۲) قال رسول الله ﷺ: كُلُّ أُمَّتِيْ مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِيْنَ۔ (بخاری)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ اوفرمائیل: زما ټول امت به معاف کړې شی خو په ښکاره ګناه کونکو لره نه۔

## مومن هغه چه دهغه نه خلق په امن وي

(۴۳) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اَلْمُؤْمِنُ مَنْ اَمِنَهُ النَّاسُ، عَلَى دِمَائِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ۔ (نسائی)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي: مؤمن هغه دي چه د هغه نه دخلقو ځانونه او مالونه په امن کښې وي۔

## د اولاد د پاره بهتره تحفه

(۴۴) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدًا مِنْ نَحْلٍ اَفْضَلَ مِنْ اَدَبٍ حَسَنٍ۔ (ترمذی)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي: هيڅ يو پلار خپل اولاد ته دښه تعليم وتربيت نه بهتره څه تحفه نه ده ورکړې۔

## مشوره نوم دي د اعتماد

(۴۵) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اَلْمُسْتَشَارُ مُؤْتَمَنٌ۔ (ترمذی)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي: چاسره چه په څه معامله کښې مشوره اوکړې شوه، په دې معامله کښې په هغه باندې بهروسه اوکړې شوه۔

## د ګاونډي حق

(۴۶) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اَوَّلُ خَصْمَيْنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ جَارَانِ۔ (احمد)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي: دقيامت په ورځ (په جهګړا کونکو کښې) به دټولو مخکښې دوه جهګړا کونکي ګاونډيان پيش شي (يعنې دبندګانو په حقوقو کښې به دټولو نه اول معامله د دوؤ ګاونډيانو پيش شي)۔

## په مسلمان باندې وسله اوچتول

(۴۷) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السَّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا۔ (مسلم)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي: کوم سړې چه په مونږ (مسلمان) باندې وسله اوچته کړي هغه زمونږ نه نه دې۔

# حسن اخلاق، مقصد نبوت

(۲۸) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ: بُعِثْتُ لِاُتَمِّمَ حُسْنَ الْاَخْلَاقِ۔ (مؤطا)

**ترجمه:** نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی: زه د حسن اخلاق د تکمیل دپاره لیږلې شوې یم۔

# بد اخلاق

(۲۹) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ: لَا یَدْخُلُ الْجَنَّةَ خَبٌّ وَلَا بَخِیْلٌ وَلَا مَنَّانٌ۔ (ترمذی)

**ترجمه:** رسول اللّٰہ ﷺ ارشاد فرمائیلې دې: دهوکه باز، بخیل او احسان زباطلو والا به جنت ته نه ځی۔

# نرم مزاجی

(۳۰) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ: مَنْ یُحْرَمِ الرِّفْقَ، یُحْرَمِ الْخَیْرَ۔ (مسلم)

**ترجمه:** نبی کریم ﷺ ارشاد فرمائیلې دې: کوم سړې چه د نرمۍ د صفت نه محرومه پاتې شو هغه (د ټولې) ښیګړې نه محرومه پاتې شو۔

# په سلام کښې وړاندوالې

(۳۱) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ: اِنَّ اَوْلَی النَّاسِ بِاللّٰہِ تَعَالٰی مَنْ بَدَاَھُمْ بِالسَّلَامِ۔ (ابوداؤد)

**ترجمه:** رسول اللّٰہ ﷺ ارشاد فرمائیلې دې: په خلقو کښې د اللّٰہ تعالی د قرب زیات مستحق هغه دې چه په سلام کښې وړاندوالې کوی۔

# شکرګزاری

(۳۲) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ: مَنْ لَا یَشْکُرِ النَّاسَ لَا یَشْکُرِ اللّٰہَ۔ (ترمذی)

**ترجمه:** رسول اللّٰہ ﷺ ارشاد فرمائیلې دې: څوک چه د خلقو شکرګزار نه وی، هغه د اللّٰہ تعالی هم شکر نه شی ادا کولې۔

# حسد نه بچ شئ

(۳۳) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ۔ (ابوداؤد)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي: خپل ځان دحسد نه بچ کړئ۔ بيشکه حسد نيکو لره داسې خوري اوختموی لکه اُور چه لرګو لره ختموی۔

# دتکبر قباحت

(۳۴) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ (مسلم)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي: هغه سړې جنت ته به نه ځی دچا په زړه کښ چه د ذرې برابر هم کبر وی۔

# دبې پردګئ خطرې

(۳۵) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: لَايَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطٰنُ (ترمذی)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ فرمائيلي دی: هيڅ يو سړې ديوې ښځې سره په يواځوالی کښ نه ملاويږی، خو دريم دهغوی سره شيطان کيږی۔

# دوه لوئ نعمتونه

(۳۶) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: نِعْمَتَانِ مَغْبُوْنٌ فِيْهِمَا كَثِيْرٌ مِنَ النَّاسِ الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ۔ (البخاری)

**ترجمه:** درسول الله ﷺ ارشاد مبارک دي: دوه نعمتونه دی چه دهغې بې قدری کولو سره ډير خلق په خساره اونقصان کښ دی۔ يودې صحت، او بل فراغت۔

# دقبر منظر

(۳۷) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلَّا وَالْقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ۔ (ترمذی)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دې چه: ماهيڅ يو منظرلره دقبر دمنظر نه زيات يرونکی نه دې ليدلې۔

## قیامت به په بد وخت کښې راځی

(۳۸) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى لَا يُقَالَ فِي الْاَرْضِ اَللهُ اَللهُ۔ (مسلم)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دي: دقیامت ورځ هغه وخته پورې به نه راځی، کله پورې (داسې بد وخت رانشی چه) په دنیاکښې الله، الله وئیلو والا یعنی د الله نوم اخستونکی بالکل پاتې نه شی۔

## د جنت قدرو قیمت

(۳۹) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا۔ (بخاری)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دي: چه په جنت کښې د یو کوړې هومره ځاې یعنی کم نه کم ځاې هم ددنیا اوڅه چه په دنیا کښې دی، ددې نه بهتر (او زیات قیمتی دې۔

## خاتمه

(۴۰) قال رسول الله ﷺ: يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلٰى مَا مَاتَ عَلَيْهِ۔ (مسلم)

**ترجمه:** رسول الله ﷺ فرمائیلې دی: اوچتولې به شی هر سړې په هغه حالت باندې په کوم چه مړ شوې وی

# سیرت النبیﷺ

## سیرت:

د نبی کریمﷺ د ژوند حالاتو ته سیرت وئیلې شی یعنی دنبی علیه السلام دپیدائش نه واخله تر وفات پورې چه څومره هم حالات دی هغې ته سیرت وائی۔

## مکی او مدنی دور:

عام طور باندې دنبی کریمﷺ سیرت لره علماء او سیرت نګارو په دوه حصو کښ تقسیموی۔یوې حصې ته مکی دور وئیلې کیږی او دویمې حصې ته مدنی دور وائی۔په مکه کښ نبی علیه السلام دخپل ژوند **53** کاله تیرکړل او په مدینه کښ ئې لس کاله تیرکړل۔

## سبق: 1

## زمونږ نبی حضرت محمد ﷺ

- الله تعالی په دې دنیاکښ دخپل بندګانو دهدایت او لار خودلو دپاره ډیرنبیان رالیږلې دی۔
- په دې پیغمبرانوکښ یو زمونږ نبیﷺ هم دې چه دهغوی نوم حضرت محمدﷺ دې۔
- کومو خلقوته چه نبی لیږلې شی هغې خلقو ته ددې نبی امت وئیلې شی۔

- مونږ دحضرت محمد ﷺ امت یو۔
- الله تعالی دټولو انبیاؤ په آخرکښې حضرت محمد ﷺ لره خپل نبی جوړکړو راوي لیږلو۔
- زمونږ دنبی ﷺ نه پس به هیڅ یو نبی نه راځی۔
- نبی علیه السلام دعربو په مشهور ښار مکه مکرمه کښې، دربیع الاوّل په میاشت کښې دګل په ورځ پیدا شو۔
- مونږ له دنبی علیه السلام سره ډیرمحبت کول پکار دی اونبی علیه السلام چه کومې خبرې خودلې دی هغې لره منل پکار دی او دنبی علیه السلام دسنتو تابعداری پکارده۔
- څوک چه هم دنبی علیه السلام خودلو شوؤ خبرو لره اومنی اوپه هغې عمل اوکړی، الله تعالی به دهغه نه راضی شی او هغه به جنت ته داخل کړی۔
- زمونږنبی ﷺ ته دڅلویښت کالو په عمر کښې نبوت ملاؤشو۔
- نبی ﷺ۶۳ کاله ژوند تیرکړو۔
- زمونږنبی ﷺ په مکه مکرمه کښې تقریبًا ۵۳کاله وو، هغې دور ته مکی دور وائی۔
- په مدینه منوره کښې تقریبًا لس کاله وو۔دې دور ته مدنی دور وائی۔
- دنبی ﷺ وفات په مدینه منوره کښې اوشو، او په مدینه منور کښې دنبیﷺ روضه مبارکه ده۔
- کله چه هم زمونږ دنبیﷺ نوم واخستلې شی نو درود شریف وئیل پکار دی یعنی نبیﷺ باندې دې دالله تعالی رحمت وی۔
- کله چه دبل یو نبی نوم راشی نو ''علیه السلام'' ]دالله رحمت او

سلام دې وي او ئيل پکار دي۔

## سبق: 2

# پرورش(پالنه) او خاندان

- زمونږ نبی ﷺ دعربو په مشهور ښار مکه مکرمه کښې پیدا شو۔
- دنبی ﷺ تعلق دقریشو قبیلې شاخ بنوهاشم سره وو۔
- داخاندان په دې لحاظ سره ممتازه وو چه دخانه کعبې ذمه داری دهغوی سره وه۔
- دنبی ﷺ غرنیکه به دحج په میاشت کښې دحاجیانو دپآره دخوراک څکاک انتظام کولو۔
- په عربو کښې به دنبی ﷺ خاندان ته دعزت او احترام په نظر سره کتلې شو۔
- دنبی کریم ﷺ شجره نسب دادې: حضرت محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصی بن کلاب بن مره بن کعب بن لوی بن غالب بن فهربن مالک بن نضر بن کنانه بن خزیمه بن مدرکه بن الیاس بن مضربن معد بن عدنان۔
- دنبی ﷺ دپلارنوم حضرت عبدالله او دموربی بی نوم ئې حضرت آمنه وو۔
- الله تعالی خپل آخری کتاب "قرآن مجید" په نبی ﷺ باندې نازل کړو۔
- زمونږ دخوږپیغمبر ﷺ دپیدائش نه څو میاشتې مخکښې دنبی علیه السلام والدصاحب وفات شوې وو۔
- دنبی ﷺ پرورش اوپالنه دنبی علیه السلام مورصاحبې اوکړه۔
- کله چه نبی علیه السلام دشپږو کالو شو نو موربی بی ئې هم

وفات شوه۔

- د مور دوفات نه پس دنبی علیه السلام پرورش دهغوی نیکه عبدالمطلب اوکړو۔
- خوکله چه دنبی علیه السلام عمر آته کاله او دوه میاشتې شو نودهغوی نیکه جناب عبدالمطلب صاحب هم ددنیانه لاړو۔
- د نیکه دوفات نه پس نبی علیه السلام خپل تره ابوطالب خپل ځان سره اوساتلو۔
- نبی علیه السلام ته دنبوت ملاویدو نه پس ابوطالب په هر مشکل کښې دنبی علیه السلام سره وو۔

## سبق: 3

## دنبی ﷺ وطن

- زمونږ نبی حضرت محمد ﷺ دعربو په مشهور ښارمکه مکرمه کښې پیدا شو۔
- مکه مکرمه ددنیا زوړ او مبارک ښاردې۔
- په قرآن کریم کښې دمکې مکرمې پنځه نومونه ذکر دی:
  (۱)مکه (۲)بکة (۳)ام القرىٰ (۴)البلد (۵)قریه
- دې ښار لره الله تعالی دامن والاښارجوړ کړې دې۔
- دلته دالله تعالی کور دې چه هغې ته "خانه کعبه" وائی۔
- د پوره دنیامسلمانان خانه کعبې طرفته مخ کولو سره مونځ کوی او هرکال په لکهونو تعدادکښې مسلمانان ددنیاد ګوټ ګوټ نه دحج کولودپاره دلته راځی۔

## دخانه كعبې تعمير (جوړول):

- دالله تعالى ددې كور په مختلف زمانوكښې تعميرشوې دې.
- دټولو نه اول دالله تعالى نبى سيّدنا حضرت آدم عليه السلام دالله تعالى په حكم سره بيت الله جوړ كړو.
- په دويم ځل دالله تعالى دوه پيغمبرانو حضرت ابراهيم او حضرت اسماعيل عليهما السلام د آدم عليه السلام په اچولې شوې بنيادونو باندې په دويم ځله جوړه كړه.
- په دريم ځل دمكې خلقو[قريشو] نبى كريمﷺ دنبوت نه مخكښې دجاهليت په زمانه كښې دې لره دنوې سر نه جوړ كړو.
- په څلورم ځل سيّدنا عبد الله بن زبير په خپل دور حكومت كښې ددې نوې تعمير اوكړو، په پنځم ځل حجاج بن يوسف دې لره جوړه كړه.

## سبق: 4

# دنبىﷺ ښكلې تدبير

- دمكې خلقو چه كله د خانه كعبې تعميرمكمل كړو نوهلته جنتى كاڼړې دې چه هغې ته حجر اسود[توركاڼړې] وائى هغې لره په خپل ځاې باندې ايخودلو كښې دټولو اختلاف شو.
- يوې قبيلې وئيل چه دا كاڼړې به مونږ ايږدو او دويمې قبيلې وئيل چه نه دا به مونږ ايږدو.
- هرې قبيلې دا غوښتل چه دا مبارك كاڼړې په خپل ځاې باندې

دلګولو سعادت مونږ حاصل کړو۔

- دا اختلاف دومره زیات شو چه دجنګ نوبت راغلو، نزدې وه چه توري چلیدلې وې۔
- خو دقوم څو پوهه خلقو دافیصله اوکړه چه کوم سړې سحر دټولو نه مخکښې مسجدحرام ته داخل شو،هغه به ددې جهګړې فیصله کوی۔
- دالله تعالی قدرت ته ګوره چه بله ورځ دټولو نه ړومبې زمونږ خوږپیغمبرﷺ مسجدحرام ته داخل شو۔
- ټولو چه نبیﷺ لره مسجدحرام ته راننوتو سره اولیدو نو وې وئیل صادق راغلو،آمین راغلو، مونږبه دده په فیصله باندې راضی یو۔
- په دې موقعه باندې نبیﷺ یو دسوچ نه ډکه فیصله اوفرمائیله۔
- نبیﷺ حجراسودلره په یوڅادرباندې کیخودلو او بیائې اوفرمائیل:
- دهرقبیلې یوسړې دې دڅادر یوګوټ اونیسی۔
- ټولو دې فیصلې لره خوښه کړه۔همداسې اوکړې شوه۔
- هغه خلقو داڅادر اوچت کړو او هغه ځاې ته ئې یوړلو چرته چه حجراسودلګول وو۔
- بیانبی علیه السلام په خپل لاس مبارک باندې حجراسود لره ددې په مطلوبه ځاې باندې اولګولو۔
- دغه شان دنبی علیه السلام په ښکلې تدبیرسره په خپل مینځ

کښې د جنګ خطره ختمه شوه۔

## سبق: 5

# دنبی کريم ﷺ ښکلي اخلاق

- اخلاق د انسان پيژند ګلو ده۔
- دچاچه اخلاق ښه وی، خلق هغه سره محبت کوی او دعزت په نظر سره ورته ګوری۔دچاچه اخلاق خراب وی، ټول خلق دهغه نه نفرت کوی۔
- زمونږنبی ﷺ په وړوکولی کښې دډيرښواخلاقو مالک وو،چه دهغې په وجه سره ټولو لويو واړو به دهغه احترام کولو۔
- زمونږنبی ﷺ د وړوکوالی نه ډيرنيک او پوهه وو۔
- زمونږ د نبی ﷺ اخلاق دومره ښه وو چه الله تعالی په قرآن کريم کښې دهغې ذکر کړې دې :وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ
  ''اې زماپيغمبره! تاسو داخلاقو په اعلی مرتبه باندې ئې''۔
- زمونږ نبی ﷺ ډيرامانتدار وو۔
- زمونږنبی ﷺ ډيرمحنت کونکې وو۔
- زمونږ نبی ﷺ ډيرزيات ميلمه دوست او دغريبانانو سره مدد اوتعاون کونکې وو۔
- نبی عليه السلام به دمظلومانو حمايت کولو او ظالمان به ئې دظلم نه منع کول۔
- زمونږنبی ﷺ به په وړوکوالی کښې دبدو خبرو،جنګ جهګړو،پوچ

وینا او بدکارونو نه ځان لرې ساتلو۔

- زمونږ نبیﷺ په وړوکوالی کښې په رښتینوالی او امانتدارئ کښې مشهور وو۔
- نبی علیه السلام به په صادق او آمین سره بللې کیدو۔ټولو خلقو به دنبی علیه السلام د رښتینوالی تعریف کولو۔
- نبی علیه السلام ډیرزیات رحم کونکې وو۔
- زمونږ دنبی ﷺ په طبیعت کښې ډیره زیاته نرمی او شفقت وو۔
- زمونږنبیﷺ کله هم دچا زړه نه وو آزار کړې۔
- زمونږنبیﷺ کله هم په امانت کښې خیانت نه وو کړې۔
- زمونږ نبی ﷺ به د کمزورو او ګوانډیانو مدد کولو۔
- نبی علیه السلام به د کمﷺزورو او بوډاګانو مدد کولو۔دهغوی دپاره به ئې سودا وغیره راوړله۔
- دنبی علیه السلام اخلاق ډیرښه وو، نبی علیه السلام به خپل دشمن سره هم ښه سلوک کولو۔

## سبق: 6

# د نبی کریم ﷺ واده او اولاد

- زمونږنبیﷺډیر امانتدار ووخلقوبه خپل امانتونه هغوی سره ایخودل،دنبی علیه السلام دایماندارئ نه متاثرکیدو سره دمکې یوې مالدارې ښځې حضرت خدیجه نبی علیه السلام ته د واده پیغام ورکړو۔

- نبی علیه السلام دکوروالو په مشوره سره داپیغام قبول کړو او دارنګه دنبی علیه السلام واده دحضرت خدیجهؓ سره اوشو۔نبی علیه السلام دحضرت خدیجهؓ په ژوند بل یوې ښځې سره واده اونکړو۔
- دنبی علیه السلام درې ځامن اوشلور لونړه وې۔چه نومونه ئې دادی:

1. عبدالله رضی الله عنه،دهغه نوم طاهر اوطیب هم خودلې شی۔
2. قاسم رضی اللہ عنه
3. ابراهیم رضی الله عنه

[په بعضې روایاتوکښ دنبی علیه السلام دځامنو تعداد دوه خودلې شوې دې]

- د لونړو نومونه ئې دادی:

(1)سیده زینب رضی الله عنها (2)سیده رقیه رضی الله عنها۔
(3)سیده ام کلثوم رضی الله عنها۔ (4)سیده فاطمه رضی الله عنها۔

## سبق: 7

# ازواج مطهرات (دنبی ﷺ بیبیانې)

- زمونږ نبیﷺ ښځوته ددین احکام زده کولو او د اسلام تعلیم ورکولو دپاره دالله تعالی په اجازت سره یوولس وادونه کړې وو۔یعنی د نبی علیه السلام یوولس بیبیانې وې،چه هغوی ته ازواج مطهرات (یعنی پاکې بیبیانې) وئیلې شی۔
- نبی کریمﷺ بیبیانولره الله تعالی د امت میاندې ګرځولې

دی۔په قرآن پاک کښ ارشاد دي" وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُكُمْ "اودنبی علیه السلام بیبیانې ستاسو میاندې دی۔لهذا په مونږ باندې ددې ټولو احترام لازم دې۔

❁ دټولو نه اول واده نبی علیه السلام نبوت نه مخکښ دسیده خدیجة الکبری رضی الله عنها سره اوکړو۔دهغې په ژوند کښې نبی علیه السلام بل واده اونکړو۔

❁ کله چه نبی علیه السلام ددنیانه تشریف اوړلو نودنبی علیه السلام (۹) بیبیانې ژوندې وې او دوه،سیده خدیجة الکبری او بله سیده زینب رضی الله عنهما وفات شوې وې۔

❁ دازواج مطهرات نومونه دادی:

(1)حضرت خدیجه رضی الله عنها (2)حضرت سوده رضی الله عنها (3)حضرت عائشه رضی الله عنها (4)حضرت ام سلمه رضی الله عنها (5)حضرت جویریه رضی الله عنها (6)حضرت ام حبیبه رضی الله عنها (7)حضرت حفصه رضی الله عنها (8)حضرت میمونه رضی الله عنها (9)حضرت صفیه رضی الله عنها (10)حضرت زینب بنت حجش رضی الله عنها (11)حضرت زینب بنت حارث رضی الله عنها

## سبق:8

# نبوت ملاويدل

- زمونږ نبي حضرت محمد ﷺ دنبوت ملاويدو نه مخکښ به هر ورځ مکې سره نزدې يو غر ته تللو او هلته "حرا"نومې يو غار کښ به ئې دالله تعالى عبادت کولو۔
- يو ورځ نبي عليه السلام په دې غارکښ ناست ووچه د الله تعالى يوفرښته حضرت جبرائيل عليه السلام نبي عليه السلام ته تشريف راوړو،او نبي عليه السلام ته ئې دنبي کيدو زيرې ورکړو اودسورة العلق ابتدائى پنځه آيتونه ئې اولوستل۔
- په نبي عليه السلام باندې ددې واقعې يره او بې سکوني خوره شوه،نبي عليه السلام کور ته تشريف يوړلو او سيده خديجه رضى الله عنها ته ئې اووئيل په ماکمبل واچوه۔
- نبي عليه السلام حالت کتلو سره سيده خديجه رضى الله عنها نبي عليه السلام ته تسلي ورکړه چه الله تعالى به تا نه ضائع کوي۔
- دسيده خديجه رضى الله عنها د تره زوې"ورقه بن نوفل" چه د تورات اوانجيل ډيرلوې عالم وو،نبي عليه السلام ئې هغه له بوتلو او ټوله واقعه ئې ورته بيان کړه۔
- حضرت ورقه بن نوفل ټولې خبرې واوريدې وې وئيل چه الله تعالى تاته نبوت درکړو او دا هم هغه فرښته ده چه موسى عليه السلام ته به راتله۔
- ددې نه علاوه نورې هم ډيرې خبرې ئې ورته اوکړې او نبي عليه السلام ته ئې دنبي کيدو مبارکي ورکړه چه په هغې سره نبي عليه السلام مطمئن کيدو سره واپس شو۔

سبق:9

# د اسلام د دعوت شروع

- زمونږ نبی حضرت محمد ﷺ د نبوت ملاویدو نه پس د توحید ورسالت دعوت ورکول شروع کړل چه"الله یو دې، د هغه نه سوا بل څوک معبود نشته او زه [محمد ﷺ] د الله تعالی رسول یم"۔
- دعرب د ملک ددې کفروشرک په ماحول کښې نبی علیه السلام په شروع شروع کښې به یو یو کس سره ملاویدلو او د اسلام دعوت به ئې ورکولو او دغه شان د اسلام د تبلیغ شروع اوشوه۔
- په سړو کښې د ټولو اول حضرت ابوبکرصدیق اسلام قبول کړو۔
- په ښځو کښې د ټولو اول حضرت خدیجه اسلام قبول کړو۔
- په ماشومانو کښې د ټولو اول حضرت علی اسلام قبول کړو۔
- او په غلامانو کښې د ټولو نه اول د نبی علیه السلام آزاد کړې شوې غلام او متبنی (ساتلې ځوی) حضرت زید بن حارثه اسلام قبول کړو۔
- دریو کالو پورې به نبی علیه السلام په پټه باندې د اسلام دعوت ورکولو، په دې دریو کالو کښې تقریبًا څلویښت کسانو اسلام قبول کړو۔
- درې کاله پس د الله تعالی په حکم سره په ښکاره د اسلام دعوت ورکول ئې شروع کړل۔
- نبی علیه السلام د خانه کعبې سره خواه کښې په صفا غر باندې اوختلو د قریشتو ټولو قبیلو ته ئې آواز ورکړو د قریشو ټولې قبیلې ئې جمع کړې د الله تعالی پیغام ئې ورته واورلو:

- اې خلقو! لااله الا الله اووایئ، کامیاب به شئ۔
- ددې اعلان سره نبی علیه السلام دتوحید او دخپل رسالت تبلیغ په ښکاره شروع کړو اوخلق په اسلام کښې داخلیدل شروع شو۔

سبق: 10

# د اسلام ددشمنانو رد عمل

- دمکې کافرانو چه کله اوکتل چه نبی کریمﷺ زمونږ د دروغژن خدایانو په مقابله کښې صرف د یو الله تعالی د توحید وعبادت طرفته رابلی نوهغوی دنبی علیه السلام مخالف شول او دنبی علیه السلام په لاره کښې ئې رکاوټونه اچول شروع کړل۔
- دنبی علیه السلام ملګرو ته ئې تکلیفونه رسول شروع کړل۔په ګرمه شګه به ئې څملول او په سینه به ئې ورته کانړې کیخودل او قسما قسم عذابونه به ئې ورکول۔
- نبی علیه السلام او دهغوی ملګرو صحابه کرامو تکلیفونه برداشت کړل خو په دین باندې قائم پاتې شول۔
- یوه ورځ ټول کافران جمع شول دنبی علیه السلام تره ابوطالب ته راغلل او د رسول اللهﷺ شکایت ئې ورته اوکړو چه دې زمونږ خدایانوته ردبد وائی۔
- ابوطالب نبی علیه السلام راوغوښتلو نصیحت ئې ورته اوکړو نو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل چه : کاکاجانه! کچرې داکافران زما په یو لاس کښې نمر اوپه بل لاس کښې سپوږمئ راوړی او کیږدی

نوبیابه هم زه دخپلې خبرې نه نه روستو کیږم اوکه زما د وجې نه تاسو ته تکلیف رسی نو زه به لاړ شم، دې وئیلو سره روان شو۔

- دابوطالب نه برداشت نه شوه او نبی علیه السلام ئې راوغوښتلو چې اې زما وراره! څه چه ستاپه زړه کښې راځی کوه داخلق ستا وینښته هم نه شی آزارولې۔
- اوکافرانو ته ئې اووئیل چه ځې تاسو څه کولې شې اوکړئ، زه دخپل وراره سره یم۔ترڅو پورې چه زه ژوندې یم محمد ﷺ ته څوک څه نه شی وئیلې۔
- ابوطالب نه مایوسه کیدو سره کافرانو په مسلمانانو باندې ظلم وستم شروع کړو۔

سبق:11

# دحبشې هجرت

## هجرت:

د دین دخاطره خپل کور او وطن پریخودل بل ځاې ته تللو ته هجرت وائی۔

- کله چه دکافرانو دطرف نه په نبی علیه السلام اودهغه په ملګرو باندې تکلیفونو او مصیبتونوکښې زیاتوالې شروع شونو نبی علیه السلام مسلمانانو ته دمکې دپریخودلو اوحبشې ته دهجرت کولو اجازت ورکړو دې دپاره چه هلته په امن وسکون سره اوسی۔نو څو مسلمانانو سړو او زنانو د حبشې ملک طرفته هجرت اوکړو۔

۞ کافرانوته چه کله پته اولګيده چه مسلمانانو مکه پريخودله او حبشې ته لاړل نو هغوی څه تحفې وغيره واغستلې حبشې ته ئې اوليږلې چه دهغه ځاې باچا نجاشی د مسلمانانو خلاف راوچت کړی اوهغه باچا ئې دخپل ملک نه اوباسی۔

۞ خو هغه يو نيک،زړه خوږې او همدرد انسان وو،په دې وجه ئې داسې اونکړل بلکه مسلمانان ئې دربارته راوغوښتل اودهغوی نه ئې دهغوی دعقيدې په حقله تپوس اوکړونو دمسلمانانو دطرف نه حضرت جعفر په دربارکښ د باچا په مخکښ تقرير اوفرمائيلو:

۞ اې باچا صاحب! مونږ مخکښ بالکل جاهل وو،دبتانو عبادت به مو کولو،مردارې به مو خوړلې اوپه خپل مينځ کښ به جنګيدو۔

۞ الله تعالی په مونږ باندې رحم اوکړو او زمونږ په مينځ کښ ئې يو رسول راوليږلو چه هغه مونږ دبد کارونو نه منع کړواو يو الله طرفته ئې راوبللو۔مونږپه هغه باندې ايمان راوړو،چه دهغې په وجه سره مکې والازمونږ دشمنان شول۔

۞ باچا [نجاشی] چه دحضرت جعفر تقرير واوريدو ډيرخوشحاله شو او وې وئيل:

۞ تاسودلته په امن وامان سره اوسې،دې وئيلو سره نجاشی دکافرانو هغه تحفې هغوی ته واپس کړې او د دربار نه ئې اوويستل۔

## سبق: 12

# دغم کال

- دانسان په ژوندکښ کله خوشحالی اوکله غم راځی دانسان ژوند دمختلف حادثاتو نه عبارت دي۔خوبعضې غم داسې وی چه انسان ته ډیرتکلیف ورکوی۔
- د نبوت په لسم کال زمونږ دخوږ نبیﷺخوږ تره ابوطالب ددنیانه رخصت شو نونبی علیه السلام ډیرغمژن شو۔اوس نبی علیه السلام داغم له هیرکړې نه وو چه دنبی علیه السلام غمخواره،وفاداره او قربانیدونکې بی بی حضرت خدیجهؓ هم وفات شوه۔
- په دې دواړو واقعاتو سره نبی علیه السلام ته سخت درد اورسیدو او زمونږ پیغمبرﷺ دې کال لره عام الحزن یعنی دغم کال اوګرځولو۔
- دابوطالب دوفات نه پس دمکې مکرمې مشرکانو نبی علیه السلام او مسلمانانوته ډیرتکلیفونه رسول شروع کړل۔

سبق: 13

# د طائف سفر

- د دین اسلام د دعوت او تبلیغ دپاره زمونږ نبیﷺ هر ممکن کوشش اوکړو، چرته چه موقع ملاؤ شوې ده خلق ئې اسلام طرفته راوبلل، یو یو کس پسې تلې دې، تردې پورې چه د مکې نه بهر نورو ښارونو ته ئې هم تشریف اوړلې دې، او هلته ئې هم خلقو ته د اسلام او د توحید دعوت ورکړو۔
- طائف د مکې مکرمې نه تقریباً 65 کلومیټره فاصله باندې د یو ښار نوم دې دلته د بنوثقیف د قبیلې خلق آباد وو۔
- نبی علیه السلام یو اځې حضرت زیدؓ سره هلته تشریف یوړلو د هغه ځاې نوابانو او سردارانو ته د حق دین دعوت ورکړو، اسلام ته ئې راوبلل۔
- خو افسوس د هغه ځاې خلقو نبی علیه السلام سره بدسلوک اوکړو، د خپل ښارنه ئې اوویستلو او څو بدتمیزه او بدمعاشان هلکان ئې ورپسې کړل چه هغوی نبی علیه السلام ته بد رد اووئیل او په کاڼوئې ویشتلو ویشتلو سره په وینو رنګ کړو۔ د نبی علیه السلام خپې مبارکې زخمی شوې او وینه ترې اوبهیدله۔
- نبی علیه السلام واپس شو نو یوه فرښته راغله او عرض ئې اوکړو چه که تاسو غواړې نو زه دې ښار والا لره په دې دواړو غرونو کښې چخنړی کړم۔

❁ زمونږ مهربان اوشفقت والا نبی ﷺ اوفرمائيل نه،زه دا نه غواړم،زه خو رحمت يم،دوی مانه پيژنی په دې وجه داسې کوی۔ان شاءالله ، الله تعالی به ددوی په اولاد کښې الله منونکی پيدا کړی۔

## سبق:14

# د معراج واقعه

❁ دمسلسل تکليفونو نه پس دالله تعالی دطرف نه په نبی عليه السلام باندې يو انعام اوشو اودمعرج عظيم الشان واقعه راپيښه شوه۔

❁ يوه شپه زمونږه نبی ﷺ دخپل تره دلور ام هانیؓ کره آرام فرمائيلو چه جبرائيل عليه السلام راغې او دمعراج زيرې ئې ورکړو۔

❁ يوتيزرفتاره سورلی[چه دهغې نوم براق وو] باندې سور شو او دبيدارئ په حالت کښې نبی عليه السلام دمکې مکرمې نه بيت المقدس ته لاړو،بياهلته نه ئې داووم آسمان سيل اوکړو اوجنت او جهنم ئې اوليدل بيادالله تعالی په بارګاه کښې حاضرشو۔دمعراج په شپه نبی عليه السلام ته دپنځه مونځونو تحفه ملاؤشوه بيانبی عليه السلام په براق سور شو هم په هغه شپه ئې مکې مکرمې ته تشريف راوړلو۔

سبق: 15

# مدينه منوره

- مدينه منوره  دمکې مکرمې په شان دعرب يومشهور،لوئ او زوړ ښاردئ،چه دمکې نه تقريبًا 450 کلوميټره فاصله باندې آباد دې۔
- ددې ښار زوړ نوم يثرب ووخو کله چه نبی عليه السلام دالله تعالی په حکم سره هجرت اوکړو دلته ئې تشريف راوړو نو نبی عليه السلام ددې نوم بدل کړو مدينه منوره  نوم ئې ورله کيخودلو۔
- دمدينې نورهم ډيرنومونه دی۔طَابَه، طَيِّبَه، مُحَرَّمَه، مَحْفُوْظَه، مُبَارَکَه۔
- دمدينې په اوسيدونکو خلقو کښې ياخو يهوديان وو يابت پرست مشرکان۔
- دمشرکانو،بت پرستو اوس اوخزرج نومې دوه لوئ خاندانونه دلته آباد وو دوی دبتانو عبادت کولو۔
- بياپه  دوی کښې دخزرج څه خلق دحج دپاره مکې ته راغلل۔ د نبی کريمﷺ په دعوت سره مسلمانان شول نو مدينې ته واپس راتلو سره ئې داسلام تبليغ شروع کړو،چه دهغې په وجه سره دهجرت نه مخکښې دلته ډيرخلق مسلمانان شوې وو۔
- په مکه کښې دکافرانو دطرف نه روزانه په تکليفونوکښې او مصيبتونوکښې زياتوالی کيدو سره زمونږ نبیﷺ خپل صحابه کرامؓته دمکې نه مدينې منورې ته دتللو اجازت ورکړلو۔
- لهذاصحابه کرام رضی الله عنهم خپل کور،وطن اومال حال پريخوستل دالله تعالی درضادپاره او مدينې منورې ته دهجرت په نيت سره روان شول۔

سبق: 16

# دنبی کریم ﷺ هجرت

- دمسلمانانو مدينې ته دتلو نه پس په مکه کښ دنبی عليه السلام او ابوبکرصديقؓاو دسيدناعلیؓ نه علاوه هغه مسلمانان پاتې شول چه دتلونه عاجزه وويا دهغوی څه مجبوری اوعذرووـ
- دمسلمانانو مدينې منورې ته دتللو نه پس کافران يوه شپه راجمع شول زمونږ دنبیﷺ دقتلولو منصوبه ئې جوړه کړهـ [نعوذ بالله]
- خو الله تعالی هغوی ناکامئ سره مخ کړل اونبی عليه السلام ته ئې دهجرت حکم اوکړوـ
- نبی عليه السلام پخپله بستره باندې حضرت علیؓ لره څملولودې دپاره چه هغه دنبی عليه السلام سره ايخودلې شوې امانتونه خلقو ته اورسوی اوپخپله نبی عليه السلام دکور نه اووتلوـ
- دهجرت په شپه کله چه نبی عليه دخپل کورنه وتلو نو دالله تعالی په حکم سره ئې لږه شان خاوره اوچته کړه هغه کافرانو طرفته ئې اوويشتله چه دنبی عليه السلام دکور نه ګيرچاپيره راتاؤ شوې ووـ
- نبی عليه السلام خاوره اوچته کړه هغوی طرفته ئې اوويشتله چه په هغې سره دهغوی په سترګوباندې پرده شوه او نبی عليه السلام دهغوی دمينځ نه اووتلوـ
- چه سحرشو نو هغوی حيران شول چه داڅنګه اوشوه چه مونږ خو ټوله شپه ويخ ووـ

- بیانبی علیه السلام ځنګه ګیره ماته کړه او اووتلو۔ هغوی اخوا دیخوا تلاش دپاره منډې تررې شروع کړې خو اوس وخت تیرشوې وواو نبی علیه السلام دهغوی د رسد نه ډیر لرې وتلې وو۔
- نبی علیه السلام ابوبکرؓ سره دمکې دښار نه بهر یوغر کښې موجود ثورنوم باندې غار کښې درې ورځې پاتې شو او بیا مدینې منورې ته روان شو۔

سبق:17

# په مدینه کښې دنبی علیه السلام استقبال

- مدینې والو ته چه کله دنبی علیه السلام دتشریف راوړلو خبر اوشو نوهغوی ډیرخوشحاله شو او روزانه به دمدینې نه بهر دنبی علیه السلام داستقبال دپاره راوتل۔
- ماشومانو جینکو به سندرو وئیلو سره دخوشحالۍ اظهار کولو۔
- ماشومان دخوشحالۍ نه په کوڅو کښې ګرځیدل چه زمونږ نبی ﷺ راروان دې۔
- کله چه نبی علیه السلام مدینې منورې ته راورسیدو نو خلق د لار په دواړه طرفونو ولاړ وو دنبی علیه السلام استقبال به ئې کولو۔
- دهریوخواهش ووچه نبی علیه السلام دهغوی په کور کښې قیام اوفرمائی۔
- زمونږدنبی علیه السلام اوښه په تلوتلوکښې دحضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه دکورمخې ته کیناسته،په دې وجه نبی علیه السلام دهغوی په کور کښې قیام اوفرمائیلو۔

سبق:18

# د مهاجرو او د انصارو رورولی

## مهاجر:

ددې معنی ده هجرت کونکی، یعنی هغه خلق چه د الله تعالی د رضا دپاره خپل ټول هرڅه پرېږدی او بل وطن ته لاړشی۔ دلته ددې نه مراددمکې نه مدينې طرفته هجرت کونکی هغه مسلمانان دی ۔چاچه دمهاجرينومددا وکړو۔

## انصار:

ددې معنی ده مددکونکې يعنی هغه خلق چه دهجرت کونکو رونړو سره تعاون اومدد کوی۔ دلته ددې نه مراد د مدينې اوسيدونکی مسلمان دی۔

مهاجرين ددين دخاطره دمکې مکرمې نه مدينې منورې ته خالی لاس لاړل، دهغوی څه سهارا نه وه، زمونږنبی ﷺ دمهاجرينو او انصارو په مينځ کښې رورولی قائم کړه، او یو مهاجر اويو انصاری ئې رونړه اوګرځول۔صحابه کرامو هم دمثالی رورلې مظاهر اوکړه او د سکه رونړو نه زيات ئې دې رورولې لره قائم اوساتله۔

سبق:19

# دمديني منورې حالات

- زمونږنبیﷺ مدينې منورې ته رسيدو سره دټولونه مخکښې دالله تعالى د عبادت او مونځ دپاره مسجدجوړکړو،چه دهغې نوم ''مسجدقُبا''دې- اوبيائې په مدينه ښارکښې مسجدنبوی جوړکړو۔
- زمونږ نبیﷺ مدينې منورې ته د رسيدو نه مخکښې هلته دوه مشهور او لوې قبيلې اوس او خزرج اوسيدل۔
- دا دواړه قبيلې هميشه به په خپل مينځ کښې جنګيدلې۔د هروخت جنګ نه هغه خلق هم تنګ راغلې وو۔
- په دې وجه ددې جنګ دختمولودپاره هغه خلقو غوښتل چه څوک خپل مشر اوباچا جوړکړی۔
- دمدينې منورې د باچاهت دپاره هغوی پخپل سوچ کښې عبدالله بن اُبی بن سلول منافق لره ساتلې ووخو زمونږ دنبیﷺ مدينې ته دراتلو نه پس هغه باچا جوړ نه شو اوپه اتفاق سره خلقونبی عليه السلام لره دمدينې مشر مقرر کړو چه د هغې په وجه سره هغه به سوزيدو۔

## سبق:20

# دمسلمانانو درې دشمنان

- په مکه مکرمه کښې دمسلمانانو مخالفت کونکی او هغوی ته تکلیف رسونکی صرف مشرکان وو،هرکله چه مدینه کښې د دشمنانو تعداد درې شو۔دمکې مشرکان، يهوديان، اومنافقان۔
- دمدينې يهوديان په مالی لحاظ سره کافی بهتر وو۔هغوی په مدينه والو باندې مزدوری او زمينداری کوله۔هغوی ته به ئې په سود پيسې ورکولې، هغه خلقو نه غوښتل چه د عربو اوسيدونکی ترقی اوکړی۔
- منافقان هغه خلق ووچه په ظاهره ئې کلمه اووئيله او مسلمانان شول خو دننه هغوی دمسلمانانو سخت مخالف او لوې دشمنان وو۔ عبدالله بن ابی ابن سلول ددې منافقانو سردار وو۔
- منافقانو به زمونږ نبی ﷺ ته باربار دهوکه ورکوله۔
- دې خلقو به داسلام او دمسلمانانو خلاف سازشونه کول۔
- خو الله تعالی به ددوی سازشونه او منصوبې په خاورو کښې ملاوهلې۔

## سبق:21

# غزوات

- دفارسۍ ژبې يوه مقوله ده چه ”تنگ آمد بجنگ آمد“۔
- کافرانو په مسلمانانوباندې قسماقسم ظلمونه کول،هغوی ته به ئې تکليفونه ورکول،اوپه مصيبتونوکښې ئې مبتلا کړل او مسلمانانو به برداشت کول خو دبرداشت هم يو حد وی۔۔۔۔

- کله چه دهغوی ظلمونه دحد نه زيات شو نو الله تعالی مسلمانانو ته دکافرانو سره دجنګ کولو اجازت ورکړو۔
- ددې نه پس دمسلمانانو دکافرانو سره ډيرجنګونه اوشول،په بعضې جنګونوکښې زمونږنبی کريمﷺ پخپله هم شريک شو اوپه بعضو کښې ئې صرف صحابه کرامؓ لره ليږلی وو۔
- په کوموجنګونوکښې چه نبی عليه السلام پخپله شريک شوې وی هغې ته غزوه وائی،دهغې تعداد **29** دې۔
- اوپه کوموکښې چه نبی عليه السلام صحابه کرام رضی الله عنهم لره ليږلې وو اوپخپله ئې تشريف نه وو اوړلې هغې ته "سريه" وائی،دهغې تعداد **73**دې۔

**سبق:22**

# غزوه بدر

- داسلام اوکفر په مينځ کښې اولنې جنګ په بدر نوم ميدان کښې شوې وو۔
- بدر،دمدينې نه تقريبًا **155**کلوميټره لرې دې۔
- هلته دمسلمانانو او کافرانو په مينځ کښې دهجرت په دويم کال يو يادګارجنګ اوشو چه هغې ته غزوه بدر وائی۔
- په غزوه بدرکښې دمسلمانانو تعداد درې سوه ديارلس وو۔
- هرکله چه دمکې دمشرکانو تعداد زرو ته نزدې وو او د هغوی سره هرقسمه وسله او هرقسمه مروّجه جنګی سازوسامان موجود وو۔

- دالله تعالی په مدد سره مسلمانانو ته فتح اوشوه او کافرانو ماتې اوخوړه۔په دې جنګ کښې اویا کافران اوژلې شو،په هغوی کښې دابوجهل او عتبه په شان لوې لوې دمکې سرداران هم شامل وو۔

سبق:23

# غزوه اُحد

- اُحد دمدینې منورې شمال طرفته دیو غر نوم دې چه د مسجدنبوی نه تقریبًا پنځه نیم کلومیټره فاصله باندې دې۔
- غزوه اُحد په شوال ۳ ھ کښې شوې وو۔
- دغزوه احد جنګ ډیرسخت وو،دجنګ شروع کیدونه مخکښې نبی علیه السلام په یوغرباندې چرته چه دکافرانو نه دحملې یره وه،پنځوس غشی ویشتونکی کسان مقررکړل او ارشاد ئې اوفرمائیلو: چه ترڅو پورې زه اونه وایم ددې ځایه مه خوزې"
- په شروع کښې مسلمانانوته فتح اوشوه اوکافران دمیدان اوتختیدل ۔دې کتوسره په غرباندې مقرراکثرکسانو دا اوګڼړله چه دنبی علیه السلام ارشاد خو دجنګ ختمیدو پورې وو نو خپل ځاې ئې پریخودلو چه اوس خو مسلمانانو ته فتح شوې ده۔
- کافرانو هغه ځاې خالی اولیدلو نوحمله ئې اوکړه، په دې سمدست حملې سره مسلمانانو ته کافی نقصان اوشو۔
- دنبی کریمﷺ دوه غاښونه مبارک شهیدان شول او اویا صحابه کرامؓ دشهادت پیاله اوڅکله۔

سبق:24

# غزوه خندق

- په شوال پنځمه هجرئ کښ يو بل لوي جنګ اوشو چه هغې ته غزوه خندق وائی۔
- دمکې کافرانو د مدينې منورې ديهوديانو سره ملاؤ شو او لس زره فوج ئې تيارکړو او په مدينه منوره باندې دحملې په نيت سره دمکې مکرمې نه مدينې منورې طرفته روان شو۔
- نبی کريمﷺ ته چه کله ددوی دتياریٔ خبر اوشو نو نبی عليه السلام دصحابه کرامؓ په مشورې سره د مدينې نه ګيرچاپيره خندق اوکنستلو۔
- نبی عليه السلام پخپله هم په خندق کنستلو کښ دصحابه کرامؓ سره برابر شريک وو۔
- خندق دومره ژور او پلن ووچه دشمن په هغې باندې راوختلې نه شو۔په دې وجه کافرانو يوې مياشتې پورې دمدينې محاصره جاری ساتلې وه خو دننه نه شو تللې۔
- دالله تعالی په حکم سره يوه ورځ ډيره تيزه هوا اولګيده چه په هغې سره دکافرانو خيمې اووتلې، دې کتلو سره کافران اويريدل او په تختيدو باندې مجبوره شول۔

## سبق:25

# صلح حدیبیه

- حدیبیه مقام دمکې نه تقریبًا لس میله فاصله باندې دې۔
- په شپږمه هجرئ کښې رسول اللهﷺ یو خوب اولیدو چه نبی علیه او صحابه کرامؓ په امن سره مسجدحرام ته داخل شول او دسر ویښته ئې اوخرئیل۔ دا خوب دعمرې دسفر ذریعه جوړه شوه۔
- رسول اللهﷺ د ګُل په ورځ په اول ذی قعده شپږمه هجرئ کښې څوارلس سوه صحابه کراموؓ سره مدینې نه روان شو او ځان سره ئې دقربانئ څاروی هم واخستل دې دپاره چه مکې والو ته معلومه شی چه نبی علیه السلام دجنګ دپاره نه بلکه دعمرې دپاره راغلې دې۔
- نبی علیه السلام دمکې سره نزد حدیبیه نومې کنوئی سره قیام اوکړو۔
- دمکې مشرکانو ته چه کله خبر اورسیدو نو هغه خلقو اوګڼړله چه نبی علیه السلام دجنګ دپاره راروان دې، په دې وجه هغوی دجنګ تیارې شروع کړو۔
- نبی علیه السلام ددې مسئلې دحل دپاره حضرت عثمان رضی الله عنه لره سفیرجوړکړو مکې ته ئې اولیږلو دې دپاره چه هغه لاړشی مکې والو ته دا پیغام اورسوی چه مسلمانان دجنګ دپاره نه دی راغلې بلکه دعمرې د ادا کولو دپاره راغلې دی۔
- مکې والو حضرت عثمان رضی الله عنه لره اونیولو چه په هغې سره

دامشهوره شوه چه حضرت عثمان رضی الله عنه ئې شهيد کړو۔

❁ نبی علیه السلام دحضرت عثمان رضی الله عنه دبدلې اخستلو دپاره دصحابوؓ نه بیعت [عهد] واخستلوچه هغې ته بیت رضوان وائی۔روستو معلومه شوه چه حضرت عثمان رضی الله عنه دشهادت خبر غلط وو۔

❁ آخر دنبی علیه السلام او دمکې والو په مینځ کښې معاهده اوشوه چه هغې ته صلح حدیبیه وائی۔دې صلحې ته په قرآن کریم کښې سورة فتح کښې فتح مبین وئیلې شوې ده۔ د صلح نه پس دقریشو دسختو سلسله ختمه شوه او په پوره عربوکښې داسلام خورولو لاره کهلاؤ شوه۔

سبق:26

## دمکې فتح

❁ دمسلمانانو او کافرانو ترمینځه چه کله صلحه اوشوه نو په اسلام کښې دداخلیدونکو تعداد ورځ په روځ زیاتیدو ۔

❁ مسلمانانو ته هم اطمینان حاصل شو اوهغوی په اطمینان سره په عبادت کښې لګیاشو۔

❁ دعامو خلقو سره سره نبی علیه السلام دګیرچاپیره ملکونو باچاهانو ته داسلام ددعوت ورکولو خطونه اولیکل۔

❁ په دې دوران کښې دمکې کافران زیاتې مودې پورې په صلحه باندې قائم پاتې نه شو اوهغوی صلح ماته کړه۔

- نبی علیه السلام په اتمه هجرئ کښې لس زره مسلمانانو سره دکافرانو دمقابلې دپاره مکې مکرمې ته روان شو۔
- دمکې کافرانو چه دمسلمانانو شان وشوکت لره اولیدو نو اویریدل او مقابله ئې اونکړې شوه۔
- نبی علیه السلام مکې مکرمې ته دصحابه کرامو سره په دې اعلان کولو سره داخل شو چه نن د رحم اومعافئ ورځ ده۔
- دا اعلان ئې هم اوکړو چه کله پورې یو کس پخپله حمله اونکړی نو تر هغې پورې به په هغه باندې توره نه شی اوچتولې۔
- کوم کس چه وسله اوغورزوی نو هغه به نه شی قتلولې، کوم سړې چه دابوسفیان په کور کښې پناه واخلی هغه ته به پناه ورکولې شی۔
- کوم سړې چه دخپل کور دروازه بنده کړی هغه به څه نه شی وئیلې۔
- څوک چه خانه کعبې ته داخل شو هغه به امن ورکولې شی اوکوم کس چه اوتختیدلو نوهغه پسې به څوک نه ځی۔
- حالانکه داهم هغه کافران وو چاچه مسلمانانوته ډیرتکلیفونه ورکړی وو،په هغوی ئې ظلمونه کړی وو او د مکې مکرمې نه ئې په هجرت کولو باندې مجبورکړې وو ۔
- خو نبی علیه السلام دهغوی نه بدله وانخستله بلکه ټول ئې معاف کړل۔
- دمکې کافران دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شول او

معافی ئې اوغوښتله، چاچه هم معافی اوغوښتله نو نبی علیه السلام هغه لره معاف کړو۔

- بیا نبی علیه السلام اوصحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین په خانه کعبه کښې موجود ټول بتان مات کړل او د توحید دکلمې نعره ئې اوچته کړه۔
- دا ډیره لویه فتح وه،داهغه مکه مکرمه ده چرته نه چه مسلمانانو لره ویستلې شوې وو۔
- نن هغه مسلمانان دمکې دتور اوسپین مالکان کیدو سره راغلې دی اوچالره چه په ګرمه شګه باندې به څملولې شو او سوزولې به شو،نن دهغوی نه دامن وامان خیر غوښتلې شی۔

سبق:27

# حجة الوداع

- دفتحِ مکې په موقعه باندې یوه لاکه نه څه بره مسلمانانو دنبی علیه السلام سره یوځای حج اوکړو۔
- دا دنبی علیه السلام آخری حج ووددې نه روستو نبی علیه السلام ددنیانه رخصت شو۔په دې وجه دې ته حجة الوداع وائی۔
- نبی علیه السلام دعرفې په میدان کښې یوه خطبه ورکړه اوپه هغې کښې خلقوته ددین مختلف امور اوخودل۔

په دې موقعه باندې نبی علیه السلام دصحابه کرامو رضوان الله علیهم نه تپوس اوکړو:

آيا ماتاسوته دالله تعالى دين راورسولو؟

ټولو صحابه کرامو رضى الله عنهم اجمعين جواب ورکړو:

چه اوجى! تاسو دالله تعالى پيغام راورسولو بلکه د رسولو حق مو ادا کړو۔

نبى عليه السلام درې ځله دشهادت ګوته باندې آسمان طرفته اشاره کولو سره اوفرمائيل:

- اې الله ته ګواه اوسه۔ددې نه پس نبى عليه السلام دحج باقى ارکان ادا کړل مدينې طيبې ته واپس تشريف يوړلو۔

سبق:28

## دنبى کريم ﷺ وفات

- دنيايو فانى کور دې،دلته څوک هم هميشه نه اوسيږى بلکه يوه نه يوه ورځ ددلته نه تلل دى۔
- دا دالله تعالى قانون دې او همددې قانون لاندې دحضرت آدم عليه السلام نه واخله تر نبى کريم ﷺ پورې ټول انبياء کرام ددې دنيانه رخصت شوى دى۔
- نبى عليه السلام چه کله دالله تعالى پيغام دالله تعالى بندګانو ته اورسولو او هرطرفته داسلام کلمه اوچته شوه نو الله تعالى نبى عليه السلام خپل ځان ته دغوښتلو اراده اوفرمائيله۔
- دحج دسفر د واپسئ نه درې مياشتې پس دنبى عليه السلام طبيعت خراب شو۔
- کله پورې چه په نبى عليه السلام کښې دتلو طاقت وو نو ترهغې

به نبی علیه السلام دمونځ ورکولو دپاره مسجدته تشریف اوړلو۔خو کله چه دتلو طاقت ختم شو نو نبی علیه السلام حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته دمونځ کولو حکم اوفرمائیلو۔

- دنبی علیه السلام بیماری به کمه زیاته کیدله۔دګل په ورځ دنبی علیه السلام طبیعت څه ښه شو نو نبی علیه السلام دحجرې پرده اوچته کړه صحابه کرام رضوان الله علیهم لره ئې اولیدل اومسکې شو۔
- بیائې سمدست طبیعت خراب شو او نبی علیه السلام به باربار بې هوشه کیدو۔
- ددې بې چینئ په وخت به هم نبی علیه السلام فرمائیل چه تاسو خلق مونځ کله هم مه پریږدئ او دغلامانو سره ښه سلوک کوئ۔
- د ربیع الاوّل سن یوولسم هجرئ باندې نبی علیه السلام دګل په ورځ وفات شو۔

## سبق:29

# دنبی ﷺ معجزې

- د الله تعالی په حکم دنبی د لاس نه څه داسې کار ظاهریدل چه هغه دټولې دنیا دخلقو په رایوځائې کیدو سره هم نه شی کولې"معجزه " ورته وئیلې شی۔
- الله تعالی انبیاء علیهم الصلوة والسلام ته په خپله خپله زمانه کښې مختلف معجزې ورکړې وو۔زمونږ خوږ نبی علیه السلام

ته الله تعالی ډیرې معجې ورکړې وې چه په مختلف وختونو کښې ظاهرشوې وې۔

❁ خو داخبره یاد ساتل پکار دی چه دا معجزات دانبیاء په اختیار کښې نه وی بلکه کله اوځنګه چه الله اوغواړی نو ښکاره کوی ئې ۔

## دنبی ﷺ څو معجزات دا دی:

### ۱۔ دټولو نه لویه معجزه قرآن کریم:

❁ د نبی کریم ﷺ دټولونه لویه معجزه قرآن کریم دې چه تقریبًا دڅوارلس نیم سوه کالو نه په خپل اصلی شکل وصورت کښې موجود دې اوڅوک په دې کښې د ذره برابر کمې بیشې نه شی کولې۔

❁ قرآن کریم دټولې دنیادپاره دهدایت اولارہ خودلو ذریعه ده۔

❁ دنبی علیه السلام نورې معجزې دوخت سره خاص وې خو دامعجزه به ئې ترقیامته پورې باقی وی او د ټولې دنیاټول انسانان چه یوځاې شی نو ددې مثال اوثانی نه شی پیش کولې۔

### ۲۔ شق القمر:

❁ دنبی کریم ﷺ یوه معجزه شق القمر دې. ددې مطلب دې چه دسپوږمې ماتیدو سره دوه ټکړې کول۔

❁ مکې والو یو ځلې دشپې په وخت کښې نبی علیه السلام ته اووئیل: چه نبی علیه السلام مونږ ته څه معجزه اوښائی ۔

نو نبی علیه السلام دشهات په ګوتې سره سپوږمۍ طرفته اشاره اوکړه سپوږمې د الله په حکم سره ماتیدو سره دوه ټکړې شوه۔

## ۳۔ دګوتو نه د اوبو جاری کيدل

❁ حضرت انس رضی الله عنه فرمائی:

مونږ خلق يو ځل په سفرکښ دنبی عليه السلام سره وو،په دې کښ دمازيګر دمونځ وخت شو۔خلقو داودس دپاره اوبه تلاش کړې مګر هغوی ته دومره اوبه ملاؤ نه شوه چه په هغې سره ټولو اودس کړې وې۔

بيانبی عليه السلام ته په يو لوښی کښ اوبه راوړلې شوې، نبی عليه السلام خپل دواړه لاسونه مبارک په هغه لوښی کښ کيخودل او خلقوته ئې حکم اوکړو چه په دې اوبو سره اودس اوکړئ۔

❁ حضرت انس رضی الله عنه فرمائی :

ما اوليدل چه دنبی عليه السلام دګوتو نه اوبه رابهيدلې اوټول خلقو دهغې نه اودس اوکړو۔دهغه خلقو تعداد تقريبًا درې سوه وو۔

## ۴۔ معجزه د معراج:

❁ په يوه شپه کښ د اووه آسمانونو او دجنت اودوزخ سيل کول اودهلته حالات کتل هم دنبی عليه السلام معجزه ده،او بياخلقو دهر هرځاې خبرونه خودل يوه داسې معجزه ده چه دهغې نه پوره دنياعاجزه ده۔داټول کار دالله تعالی په قدرت سره اوشو۔

## ۵۔ دغرونو او ا ونو بوټو سلام کول:

❁ حضرت علی رضی الله عنه فرمائی :

زه په مکه مکرمه کښ دنبی کريمﷺ سره ووم۔مونږ دمکې مکرمې نه لرې بهر راوتلو نوما يو عجيبه منظر اوليدلو۔

نبی عليه السلام چه به دکوم غر او اونې سره تيريدلو نوهغوی به نبی عليه السلام ته سلام پيش کولو۔

❁ ددې نه علاوه نورهم څو معجزات دی چه په لويولويو کتابونوکښ ليکلی دی مثلاً د دوؤ کسانو خوراک دډيرو دپاره کافی کيدل۔دچيلئ داوچو تيونو نه پئ راوتل۔ وغيره۔

# مختصر خاکه د سيرت نبی ﷺ

## د نبی کريم ﷺ سلسله نسب

حضرت محمد ﷺ بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصیٰ بن کلاب بن مره بن کعب بن لوی بن غالب بن فهربن مالک بن نضر بن کنانه بن خزيمه بن مدرکه بن الياس بن مضربن نزار بن معد بن عدنان۔

## دنبی کريم ﷺ پلار نيکه

دنبی کريم ﷺ د والدنوم : حضرت عبدالله بن عبدالمطلب

دنبی کريم ﷺ د والدې نوم: حضرت آمنه بنت وهب

دنبی کريم ﷺ د نيکه (دپلارپلار) نوم: حضرت عبدالمطلب بن هاشم

دنبی کريم ﷺ د نيا (دپلار مور) نوم: حضرت فاطمه بنت عمرو

دنبی کريم ﷺ د نيکه (دمورپلار) نوم : حضرت وهب بن عبدمناف

دنبی کريم ﷺ د نيا ( دمور مور) نوم : حضرت بره بنت عبدالعزیٰ

## دنبی کريم ﷺ ازواجِ مطهرات (پاکې بيبيانې )

(1)حضرت خديجه رضی الله عنها (2)حضرت سوده رضی الله عنها (3)حضرت عائشه رضی الله عنها (4)حضرت حفصه رضی الله عنها (5)حضرت زينب بنت حارث رضی الله عنها (6)حضرت ام سلمه رضی الله عنها (7)حضرت زينب بنت حجش رضی الله عنها (8)حضرت جويريه رضی الله عنها (9)حضرت ام حبيبه رضی الله عنها (10)حضرت صفيه رضی الله عنها (11)حضرت ميمونه رضی الله عنها

# دنبی کریم ﷺ اولاد

## درې ځامن:

(1) حضرت قاسم رضی الله عنه

(2) حضرت عبدالله رضی الله عنه (دوی ته طاهر او طیب هم وئیلې شی)

(3) حضرت ابراهیم رضی الله عنه۔(دحضرت ماریه قبطیهؓ نه پیدا شوې وو)

## څلور لونړه:

(1)حضرت زینب رضی الله عنها (2)حضرت رقیه رضی الله عنها

(3)حضرت ام کلثوم رضی الله عنها (4)حضرت فاطمه رضی الله عنها

څلور واړه لونړه ئې دحضرت خدیجه رضی الله عنها نه پیدا شوې وې۔

## پنځه نمسی :

(1)حضرت علیؓ (2)حضرت حسنؓ (3)حضرت حسینؓ

(4)حضرت محسنؓ (5)حضرت عبداللهؓ

علیؓ دحضرت زینب رضی الله عنهاځوې دې۔

حضرت حسن ،ؓ حضرت حسینؓ او حضرت محسنؓ دحضرت فاطمهؓ ځامن دی، حضرت محسنؓ په وړوکوالی وفات شوې وو او حضرت عبداللهؓ دحضرت رقیهؓ ځوې وو۔

## څلور نمسې:

(1)حضرت اُمامه رضی الله عنها (2)حضرت رقیه رضی الله عنها

(3) حضرت زینب رضی الله عنها (4)حضرت ام کلثوم رضی الله عنها

اُمامه رضی الله عنها دحضرت زینب رضی الله عنها لور ده۔ او رقیه رضی الله عنها ،زینب رضی الله عنها ، ام کلثوم رضی الله عنها ، دحضرت فاطمه رضی الله عنها لونړه دی۔

# د نبی کریم ﷺ ترونه

(1)حضرت حمزهؓ (2)حضرت عباسؓ (3)ابوطالب، دهغه اصل نوم عبد مناف وو (4)ابولهب دهغه اصل نوم عبد العزّیٰ وو (5)زبیر (6)عبدالکعبه (7)ضرار (8)قثم (9)مصعب دده عرف غیداق وو (10)حارِث (11)مقوّم (12)مغیره (13)حجل یا حجلاء

بعضې علماء وائی چه هم دحارث نوم مقوّم وو اوبعضې وائی چه هم دمغیره نوم حجل یاحجلاء وو، نو دوه ترې اوباسه ۱۱ پاتې شو۔

په دې یوولسو کښې دنبی کریمﷺ دبعثت په وخت څلور ژوندی وو۔ حضرت حمزهؓ او عباسؓ او ابوطالب او ابولهب۔

# دنبی کریم ﷺ تروریانې (دپلار خویاندې)

(1)حضرت صفیه رضی الله عنها (دحضرت زبیر بن العوامؓ مور)

(2)عاتکه (3)بره (4)اروىٰ

(5)امیمه (6)ام حکیم البیضاء

# درسول الله ﷺ زومان

(1)ابوالعاص بن ربیعؓ: دحضرت زینبؓ خاوند وو۔

(2)عتبه بن ابی لهب: دحضرت رقیهؓ سره ئې نکاح شوې وه۔ رخصتی نه وه شوې چه هغه دپلار په وینا سره طلاق ورکړو۔

(3) عتیبه بن ابی لهب: دحضرت ام کلثومؓ سره ئې نکاح شوې وه۔ رخصتی نه وه شوې چه هغه هم دپلار په وینا سره طلاق ورکړو۔

(4) حضرت عثمان غنیؓ: دحضرت رقیهؓ نکاح نبی کریمﷺ د حضرت عثمانؓ سره اوکړه او دحضرت رقیهؓ د وفات نه پس نبی

کریم ﷺ د دویمې لور حضرت ام کلثومؓ نکاح هم د حضرت عثمانؓ سره او کړه هم په دې وجه دوی ته ذوالنورین (دوه رڼاګانو والا) وائی۔
(5) حضرت علیؓ: د حضرت فاطمهؓ نکاح د حضرت علیؓ سره اوشوه۔

## د رسول الله ﷺ رضاعی میاندې

(1) حضرت ثُوَیبه رضی الله عنها (2) حضرت حلیمه سعدیه رضی الله عنها

## د رسول الله ﷺ رضاعی رونړه خویندې

(1) حضرت عبدالله بن حارث رضی الله عنه
(2) حضرت انیسه بنت حارث رضی الله عنها
(3) حضرت حذافه بنت حارث رضی الله عنها دې ته شیماء هم وائی۔
دا درې واړه د حضرت حلیمه سعدیه رضی الله عنها اولاد دې۔
(4) حضرت حمزه رضی الله عنه (دې په نسب کښې د نبی علیه السلام تره دې، هغوی د نبی علیه السلام سره د حضرت ثُوَیبه رضی الله عنها پئ څکلې وو، په دې وجه ئې رضاعی رور هم شو)۔
(5) ابو سلمهؓ۔

## د رسول الله مؤذنین

(1) حضرت بلال رضی الله عنه (په مسجد نبویؐ کښې)
(2) حضرت عبدالله ابن ام مکتوم رضی الله عنه (په مسجد نبوی کښې)
(3) حضرت ابو محذوره رضی الله عنه (په مسجد حرام کښې یعنی بیت الله کښې)
(4) حضرت سعد قرظی رضی الله عنه (په مسجد قبا کښې)

## درسول اللہ ﷺ خادم

(1) حضرت انس بن مالک رضی اللہ عنہ

(2) حضرت عبداللہ بن مسعود رضی اللہ عنہ

(3) حضرت ربیعہ بن کعب اسلمی رضی اللہ عنہ

(4) حضرت عقبہ بن عامر جهنی رضی اللہ عنہ

(5) حضرت بلال بن رباح رضی اللہ عنہ

(6) حضرت سعد رضی اللہ عنہ

(7) حضرت ابوذر رضی اللہ عنہ

(8) حضرت اسلع بن شریک رضی اللہ عنہ

(9) حضرت معیقیب رضی اللہ عنہ

(10) حضرت ایمن بن عبید رضی اللہ عنہ

## درسول اللہ ﷺ پهره دار

(1) حضرت سعد بن معاذ رضی اللہ عنہ

(2) حضرت عباده بن بشیر رضی اللہ عنہ

(3) حضرت ذکوان بن عبد قیس رضی اللہ عنہ

(4) حضرت سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنہ

(5) حضرت محمد بن مسلمہ انصاری رضی اللہ عنہ

(6) حضرت ابوایوب انصاری رضی اللہ عنہ

(7) حضرت زبیر بن العوام رضی اللہ عنہ

## د رسول الله ﷺ مشهور غزوات

(1)جنګ بدر (2)جنګ احد (3)جنګ خندق (4)جنګ بنی المصطلق
(5) جنګ خیبر (6) فتح مکه (7)جنګ حنین (8) جنګ تبوک

## درسول الله ﷺ دعوتی خطونه

1. بنام هرقل(قیصر روم) بذریعه حضرت دحیه الکلبیؓ
2. بنام اصحمه نجاشی (بادشاه حبشه)بذریعه حضرت عمرو بن امیه ضمیریؓ
3. بنام خسرو پرویز ( کسری' ایران) بذریعه حضرت عبدالله بن حذافه سهمیؓ
4. بنام مقوقیس (عزیز مصر)بذریعه حضرت حاطب بن ابی بلتعهؓ
5. بنام روسائے یمامه (نجد)بذریعه سلیط بن عمرو عامریؓ
6. بنام حارث غسانی(امیرحدودبشام)بذریعه حضرت شجاع بن وهب الاسدیؓ

## د رسول الله ﷺ د اسونو نومونه

(1)سکب (2)مرتجز (3)لحیف (4)لزاز

(5)ورد

(6)ظرب/طرب (7)سبخه (8)ضریس (9)ملاوح

## د رسول الله ﷺ قچرو نامونه

(1)دلدل (2)فضه (3)ایلیه

## د رسول الله ﷺ د اوښو نومونه

(1)قصوا (2)عضباء (3)جدعا

## د رسول الله ﷺ د خرونو نومونه

یعفور یا عفیر

## د رسول الله ﷺ د تورو نومونه

(1)ماثور (2)ذوالفقار (3)قلعی (4)تبار

(5)حتف

(6)قضیب (7)عصب (8)رسوب (9)مجذم

## د رسول الله ﷺ د نیزو نومونه

(1)مثوی (2)مثنیٰ (3)غمزه

## د رسول الله ﷺ د همساګانو نومونه

(1)محجن (2)عرجون (3)ممشوق

## د رسول الله ﷺ دلیندو نومونه

(1) شداد (2)زوراء (3)روحاء (4)صفراء

(5)بیضاء (6)کتوم

## د رسول الله ﷺ د ترکشو نومونه

(1)جمع (2)کافور

## رسول الله ﷺ د خودونو نومونه

(1)موشح (2)ذوالسبوع

## د رسول الله ﷺ د زغرو نومونه

(1)ذات الفضول (2)ذات الوِشاح (3)ذات الحواشی

(4)سعدیه (5)فضه (6)تبرا

(7)خزنق

# د رسول الله ﷺ خلفاء او صحابهؓ

# دنبی علیه السلام نه پس په منصبِ خلافت باندې ناست صحابهؓ

نام خلیفه دور خلافت دخلافت موده

(1) حضرت ابوبکرصدیقؓ (11تا13هجری) 2کاله3میاشتې10ورځې

(2) حضرت عمرفاروقؓ (13تا24هجری) 10کاله5میاشتې4 ورځې

(3) حضرت عثمانؓ (24تا35هجری) 12کاله11ورځې

(4) حضرت علیؓ (35تا40هجری) 4کاله 9میاشې

(5) حضرت حسنؓ (41هجری) 6میاشتې

(6) حضرت معاویهؓ (41تا60هجری) 19کاله

## د ژوند حالا ت د خلفاء راشدین

### (1) حضرت ابوبکرصدیقؓ

اصل نام : عبدالله

په زمانه دجاهلیت کښ به ده ته عبدالکعبه وئیلې کیده۔ نبی کریمﷺ ورله نوم بدل کړو او عبدالله نوم ئې ورله کیخودو۔

**لقب :** صدیق او عتیق

**دپلار نوم :** عثمان، کنیت ابوقحافه بن عامر

**د مور نوم :** سلمیٰ بنت صخر

**د خلافت موده :** قمری حساب سره دو کاله درې میاشتې لس ورځې په شمسی حساب سره دو کاله دوه میاشتې شپاړس ورځې

**وفات :** 63کال عمر، 22جمادی الثانی13هجری بمطابق 22 اګست 634ء

## (2) حضرت عمرفاروقؓ

**اصل نوم:** عمر

**كنيت:** ابوحفص/ابوالاسد

**لقب:** فاروقؓ

**دپلار نوم:** خطاب بن نوفل

**د مور نوم:** حنتمه بنت هاشم

**دخلافت موده:** لس نيم كاله يعنى لس كاله شپږ مياشتې څلور ورځې

**وفات:** 63كاله عمر، يكم محرم ۲۴هجرى

## (3) حضرت عثمانؓ

**اصل نوم:** عثمان

**كنيت:** ابوعمر

**لقب:** ذوالنورين۔

**دپلار نوم:** عفان بن ابى العاص

**د مورنام:** اروٰى بنت كريز

**دخلافت موده:** 12كاله

**وفات:** 82كالو په عمركښ، ۱۸ذى الحجه35هجرى دجمعې په ورځ شهيد شو۔

## (4) حضرت علىؓ

**اصل نوم:** على(دا نوم ورله ابوطالب ايخودلې وو مور ورله اسد نوم ايخودلې وو)

**لقب:** حيدر/المرتضىٰ

**کنیت:** ابوتراب

**د پلار نوم:** ابوطالب بن عبدالمطلب

**د مور نوم:** فاطمه بنت اسد

**د خلافت موده:** څلور کاله 9میاشتې

**وفات:** 63کالوپه عمر، 17رمضان40هجری باندې شهید شو۔

## عشره مبشره صحابه رضی اللّٰه عنهم اجمعین

هغه صحابه کرام چاته چه په دنیا کښ نبی علیه السلام دجنت زیرې ورکړې وو۔

(1)حضرت ابوبکرؓ (2)حضرت عمرؓ

(3)حضرت عثمانؓ (4)حضرت علیؓ

(5)حضرت طلحهؓ (6)حضرت زبیرؓ

(7)حضرت عبدالرحمٰن بن عوفؓ (8)حضرت سعدبن ابی وقاصؓ

(9)حضرت سعید بن زیدؓ (10)حضرت ابوعبیده بن الجراحؓ

## اهل کتاب صحابه رضی اللّٰه عنهم اجمعین

(1)حضرت تمیم بن اوس داریؓ (2)حضرت جارود بن عمرؓ

(3)حضرت زید بن سعنهؓ (4)حضرت عبدالله بن سلامؓ

(5)حضرت عداسؓ

## قاصدان او سفیران صحابه رضی اللّٰه عنهم اجمین

(1)حضرت دحیه بن خلیفه کلبیؓ (2)حضرت سلیط بن عمرؓ

(3)حضرت شجاع بن وهبؓ (4)حضرت علاء بن عبداللهؓ

(5)حضرت عمر وبن امیه ضمریؓ (6)حضرت عروه بن مسعودؓ

## سوداګر صحابه رضی الله عنهم اجمعين

(1)حضرت ثمامه بن اثالؓ (2)حضرت حکيم بن حزامؓ
(3)حضرت خزيمه بن ثابتؓ (4) حضرت عباس بن عبد المطلبؓ
(5)عبدالرحمٰن بن عوفؓ

## شاعر او خطيب صحابه رضی الله عنهم اجمعين

(1)حضرت حسان بن ثابتؓ (2)حضرت ثابت بن قيسؓ
(3)حضرت صرمه بن انسؓ (4)حضرت عامر بن اکوعؓ
(5)حضرت عبدالله بن رواحهؓ (6)حضرت عمروبن جموحؓ
(7)حضرت عدی بن حاتمؓ (8)حضرت ابوجندلؓ
(9)حضرت اياس بن بکيرؓ (10)حضرت غيلان بن سلمهؓ
(11)حضرت خزيمه بن ثابتؓ (12)حضرت عباس بن عبد المطلبؓ

## د کم عمرو الا صحابه رضی الله عنهم اجمعين

(1)حضرت ابوطفيل ليثیؓ (2)حضرت سعيد بن عاصؓ
(3)حضرت عبدالله بن جعفرؓ (4)حضرت عمير بن سعدؓ
(5)حضرت عبدالله بن زبيرؓ (6)حضرت محمد بن طلحهؓ
(7) حضرت عبدالله بن عامرؓ

## مشران صحابه رضی الله عنهم اجمعين

(1)حضرت ابوقحافهؓ(د ابوبکرؓ پلار)
(2)حضرت حسيل بن يمانؓ (د دوی کنيت ابوحذيفه وو)
(3)حضرت خارجه بن زيد انصاریؓ (4)حضرت رفاعه بن وقش انصاریؓ
(5)حضرت سعيد بن يربوع مخزومیؓ (6)حضرت عديم بن ساعده انصاریؓ
(7)حضرت عاصم بن عدی انصاریؓ (8)حضرت کلثوم بن الهدم انصاریؓ
(9)حضرت قيس بن سعد انصاریؓ (10)حضرت يامين بن عميرؓ

# ددعا اهميت او آداب او شرائط

ددعالفظی معنی ده:رابلل،غوښتل،حاجت طلب کول۔ په شريعت اسلامی کښې دددې نه مراد دالله تعالی نه غوښتل دی۔

دعا دعبادت خلاصه ده: سيّدناانسؓ نه روايت دې چه نبی کريمﷺ اوفرمائيل:

''اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ'' دعا دعبادت مغز دې۔

مطلب دادې چه دعا د عبادت خلاصه ده. ځکه چه دعبادت حقيقت اوددې خلاصه عاجزی او خپل ځان لره ذليل او کم ګنړل دی او همدا څيزپه دعاکښې حاصليږی۔

دسيّدنا ابوهريرهؓ نه روايت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل:

”د الله تعالی په نزد ددعانه زيات اوچتې مرتبې والا هيڅ يوڅيزنشته دې“۔

سيّدنا ابوهريرهؓ نه روايت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل :

”چه کوم سړې دالله نه نه غواړی نو الله تعالی دهغه نه ناراضه کيږی،ځکه چه دعاپرېخودل دالله تعالی نه دتکبراو دلاپرواهئ علامت دې“۔

## د دعا دقبوليت شرائط

په احاديثِ مبارکه کښې ددعا دقبوليت دپاره څه شرائط او آداب بيان کړې شوی دی چه دهغې خيال ساتل ډيرضروری دی۔

- په مکمل عزم او ددعادقبليدو په يقين سره دعا غوښتل پکار دی۔
- دعاپه هرحال کښې کول پکاردی صرف په تکليفونو کښې نه۔
- ددعادقبوليت دپاره ضروری ده چه دحرام خوراک نه پرهيز اوکړی۔

- دخپل ځان دپاره دعاغوښتلو سره سره دنورو دپاره هم دعا غوښتل پکاردی۔
- ددعا ادب دادې چه لاس اوچتولو سره دعااوغوښتلې شی اوپه آخر کښې لاس په مخ باندې راخکل پکاردی۔
- ددعاپه ابتداء کښې دالله تعالی حمدوثناء او په نبی علیه السلام باندې درودلیږل پکاردی۔
- ددعاختمولو نه پس په آخرکښې آمین وئیل پکاردی۔

# مسنون دعاګانې

دنبی علیه السلام دژبې مبارکې نه وتلې شوې دخاص مقاماتو څو دعاګانې :

## ۱: د اوده کیدو په وخت د وئیلو دعا:

کله چه د اوده کیدو اراده اوکړې نو اودس اوکړه اوخپله بستره اوڅنډه بیاپه ښی طرف څمله د سرلاندې ښې لاس کیږده درې ځله دا دعا اووایه۔

اَللّٰهُمَّ قِنِیْ عَذَابَكَ یَوْمَ تَجْمَعُ عِبَادَكَ (الادب المفرد)

**ترجمه** : اې الله مادهغې ورځې دعذاب نه اوساتې په کومه ورځ چه به ته ټول بندګان راجمع کوې۔

## ۲: او د اوده کیدو په وخت دا هم اولوله :

سُبْحَانَ اللهِ [33ځله] ،اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ [33ځله] ،اَللهُ اَكْبَرُ [34ځله] (متفق علیه)

## ۳: د اوده کیدو دعا:

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْیٰ ؕ (بخاری ومسلم)

**ترجمه**: اې الله! زه ستاپه نوم مرم(اوده کیږم) او ژوندې کیږم۔

## ۴: د پاسيدو دعا:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ط (بخاری ومسلم)

**ترجمه**: ټول تعريفونه دالله تعالى دپاره دی چه هغه مونږ دمرګ (اوده كيدو) نه پس ژوندی کړو (يعنی ويخ ئې کړو) اوهغه طرفته واپس كيدل دی۔

## ۵: کله چه بد خوب اووينې نو دا دعا اووايه:

اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّآمَّةِ مِنْ غَضَبِهٖ وَعِقَابِهٖ وَشَرِّ عِبَادِهٖ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَاَنْ يَّحْضُرُوْنَ۔ (سنن ابوداؤد)

**ترجمه**: زه پناه غواړم دالله تعالى دپوره كلمو په ذريعه دالله دغضب نه او دهغه دبندګانو دشر نه او دشيطانانو دوسوسو نه او ماته دهغوی د راتلو نه۔ (کله چه خوب راشی نو همدا دعا وئيل)

## ۶: کچرې اوده کيږې او اويريږې

کچرې اوده کيږې او اويريږې ياڅه قسم يره او خوف وی نودا تعوّذ اولوله:

اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّآمَّةِ مِنْ غَضَبِهٖ وَعِقَابِهٖ وَشَرِّ عِبَادِهٖ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَاَنْ يَّحْضُرُوْنِ۔ (حصن حصين)

**ترجمه**: زه دالله تعالى په کلماتِ تامه سره پناه غواړم دهغه دغضب او غصې نه، اودهغه دعذاب نه، او دهغه دبندګانو دشر نه، او دشيطانانو د وسوسو نه، اوددې خبرې نه چه هغوی ماته راشی۔

## ۷: بيت الخلاء ته دتلو دعا:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ ط (بخاری ومسلم)

**ترجمه**: اې الله! زه ستاپناه غواړم دخبيث پيريانو نه سړې وی يا ښځه۔

## ۸: بيت الخلاء نه دوتلو دعا:

غُفْرَانَكَ

يا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّیَ الْاَذٰی وَعَافَانِیْ (الاذكار للنووی)

**ترجمه** : ټول تعريفونه هم دالله تعالى دپاره دی چه هغه زما نه دتکليف ورکولو والا څيز لرې کړو او ماته ئې سکون راکړو۔

## ۹: په آئينه کښې دکتلو دعا:

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِیْ فَحَسِّنْ خُلُقِیْ۔ (مسند احمد۔ مسند ابی یعلی)

**ترجمه** : اې الله! څنګه تا زما صورت ښه جوړ کړې دې،زما اخلاق هم ښه کړې۔

## ۱۰: دجامو اغستلو دعا:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ كَسَانِیْ هٰذَا مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ ط (ابوداؤد)

**ترجمه** : ټول تعريفونه خاص دالله دپاره دی چاچه ماته داجامه واغوستله بغير زما دکوشش او قوت نه۔

## ۱۱: کله چه نوې جامه واغوندې نو دا دعا اووايه:

که چرې جامې نوې وی نو دا دعا اووايه۔

اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ اَنْتَ كَسَوْتَنِيْهِ اَسْئَلُكَ خَيْرَهٗ وَخَيْرَ مَاصُنِعَ لَهٗ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهٖ وَشَرِّ مَاصُنِعَ لَهٗ۔ (ابوداؤد۔ ترمذی)

**ترجمه** : اې الله هم ستادپاره ټول تعريفونه دی تاماته دا جامه واغوستله زه ستانه ددې ښيګړې اوددې څيز دښيګړې سوال کوم دکوم دپاره چه دا جوړه شوې ده او زه ستانه ددې د بدئ نه اوددې څيز د بدئ نه پناه غواړم دکوم دپاره چه دا جوړ کړې

شوې دي۔

## ۱۲: د جامو ويستلو په وخت دعا:

کله چه غسل ياڅه ضرورت دپاره جامې اوباسې نو دا کلمات اووايه: بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ۔ (عمل اليوم والليلة لا بن السنی)

**ترجمه:** دالله په نوم سره دچانه سوا چه بل معبود نشته۔

## ۱۳: کله چه بل څوک په نوې جامو اغوستلو اووينې

کله چه څوک سړې په نوې جامو اغوستو باندې اووينې نوهغه ته دا دعا اوکړه:

اَلْبِسْ جَدِيْدًا وَّعِشْ حَمِيْدًا وَّمُتْ شَهِيْدًا سَعِيْدًا۔ (ابن ماجه، اذکار)

**ترجمه:** نوې لباس واغونده، دتعريف قابل ژوندتيرکړه، د سعادت اوشهادت په مرګ مړشه۔

## ۱۴: اوکچرې نوې لباس اغوستونکې ښځه وی نودا دعا اووايه:

اَبْلِیْ وَاَخْلِقِیْ۔ (بخاری)

**ترجمه:** دا لباس ته اغوستلو سره زوړ کړه۔

## ۱۵: د واده زلمی ته داسې مبارکی ورکړه

بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِیْ خَيْرٍ۔ (سنن کبریٰ بیهقی)

**ترجمه:** برکت دې درکړی الله تاته او برکت دې نازل کړی په تاباندې اوجمع دې کړی تاسو دواړه په خير کښې۔

## ۱۶: د خوراک خوړلو دعا :

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط (ابوداؤد، ترمذی، حاکم)

ترجمه: شروع کوم دالله په نوم سره چه لوې مهربانه او ډير رحم کونکې دې۔

## ۱۷: د خوراک خوړلو نه پس دعا:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ط (ابوداؤد)

**ترجمه**: ټول تعريفونه خاص د الله تعالى دپاره دى چاچه په مابانديې خوراک اوکړو اوڅکاک اوکړو او مسلمان ئې جوړ کړم۔

## ۱۸: کله چه پئ اوڅکې نو دا دعا اووايه:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَزِدْنَا مِنْهُ۔ (ترمذی)

**ترجمه**: اې الله! ته برکت راکړې مونږ له په دې کښې او زياتوالې اوکړې په مونږ باندې ددې نه۔

## ۱۹: د کورنه دوتلو دعا:

بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ط (ابوداؤد، ترمذی)

**ترجمه**: زه د الله نوم اخلم او اوځم، ما په الله باندې بهروسه اوکړه د ګناهونو نه داوړيدلو او دعبادت کولو طاقت هم د الله د طرف نه دې۔

## ۲۰: کورته د داخليدو دعا:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللّٰهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا ط (ابوداؤد)

**ترجمه**: اې الله! زه ستانه ښه داخليدل او ښه وتل غواړم، مونږ د الله نوم واخستلو داخل شو او د الله په نوم سره بهرلاړو او مونږ په الله باندې بهروسه اوکړه۔

## ۲۱: کله چه غصه راشى نو دا دعا اووايه:

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ۔

کله چه سړې په څه کار په شک کښې وى او د استخارې

وخت نه وی نودا مختصر دعا دې اووائی:

اَللّٰهُمَّ خِرْلِیْ وَاخْتَرْلِیْ۔(ترمذی)

**ترجمه**: اې الله! ته زما دپاره خوښ کړې او زما دپاره منتخب کړې۔

## ۲۲: کله چه مسجدته داخل شې نو دا دعا اووایه:

بِسمِ اللّٰهِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰه۔

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ۔ (مسلم۔ابوداؤد)

**ترجمه**: خاص د الله دنوم په مدد سره، په رسول الله! دې درود او سلام وی، اې الله زما دپاره دخپل رحمت دروازې کهلاؤ کړې۔

## ۲۳: د مسجدنه د وتلو په وخت دعا:

بِسْمِ اللّٰهِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ اَللّٰهُمَّ اعْصِمْنِیْ مِنَ الشَّیْطٰنِ۔ (مسلم۔ابوداؤد)

**ترجمه**: اې الله زه ستانه دستا دفضل سوال کوم او دشیطان نه مې بچ کړې۔

## ۲۴: د اودس شروع کیدو دعا:

بِسْمِ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ۔

**ترجمه**: زه دالله په نوم سره شروع کوم او ټول تعریفونه دالله تعالی دپاره دی۔

## ۲۵: د اودس په مینځ کښ دا دعا اووایه:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذَنْبِیْ وَوَسِّعْ لِیْ فِیْ دَارِیْ وَبَارِكْ لِیْ فِیْ رِزْقِیْ۔(ترمذی:۱/ )

**ترجمه**: اې الله! زما ګناهونه اوبخښه او زما کور فراخه کړه او زما رزق کښ برکت واچوه۔

## ۲۶: د اودس نه پس دا دعا اووايه

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ۔

(مسلم:١/ ،ابوداؤد:١ /٢٥)

**ترجمه**: زه ګواهي ورکوم چه الله تعالى نه سوا بل څوک معبود نشته دې هغه يواځې دې دهغه څوک شريک نشته دې او زه ګواهي ورکوم چه حضرت محمد ﷺ دالله تعالى بنده او رسول دې۔

## ۲۷: ددې نه پس دا دعا اووايه:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ۔(ترمذی)

**ترجمه**: اې الله! ته ما ډير توبه کونکې جوړکړې او ما ښه پاکى حاصلونکو نه جوړکړې۔

## ۲۸: د اذان نه پس دعا:

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَآئِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَانِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَانِ الَّذِيْ وَعَدْتَّهٗ۔ (السنن الکبریٰ للبیهقی)

**ترجمه**: اې الله! ددې پوره اوکامل رابللو ربّه او دقائم کيدونکى مونځ ربه ته حضرت محمد ﷺ ته وسيله او فضيلت ورکړې او دهغه مقام محمود ته اورسوې دکوم چه تا وعده کړې ده بيشک ته دخپلې وعدې خلاف نه کوې۔

## ۲۹ : دفرض مونځ د سلام اړولو نه پس:

دفرض مونځ د سلام اړولو نه پس ''اللّٰہ اکبر'' اووايه درې ځله ''اَسْتَغْفِرُ اللّٰہَ'' اووايه -دارنګه دفرض مونځونه نه پس ګڼرې دعاګانې دنبى عليه السلام نه ثابت دى، چه دهغې نه څو دادى:

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ۔ (ترمذی، ابن ماجه)

**ترجمه**: اې الله! تا (هميشه) سلامت او سيدونکې ئې، او هم ستا نه (هريو ته) سلامتی ملاويږی، او اې ذوالجلال والاکرام! ته ډير برکت والائې۔

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ۔ (بخاری و مسلم)

**ترجمه**: د الله نه سوا څوک معبود نشته، هغه يوائې دې د هغه څوک شريک نشته، باچاهت د هغه دې، تعريف د هغه دې، او هغه په هرڅيز باندې قدرت والا دې۔ اې الله! چه کوم څيزته راکړې د هغې بندولو والا څوک نشته، او چه کوم څيز ته منع کړې، د هغې ورکونکې څوک نشته، او څوک مرتبې والا سړی ته د هغه مرتبه ستا په مقابله کښې څه فائده نه شی رسولې۔

❁ اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ۔ (ابوداؤد، نسائی)

**ترجمه**: اې الله! زما په دې خبره کښې مدد اوکړې چه زه ستا ذکر اوکړم، او ستا شکرادا کړم او ستا ښکلې عبادت اوکړم۔

❁ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ اَرْذَلِ الْعُمُرِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ۔ (حصن حصين)

**ترجمه**: اې الله! زه ستا نه پناه غواړم د بزدلۍ نه، او زه ستا نه پناه غواړم د بخل نه، او زه ستا نه پناه غواړم د بدترين (د بوډا والی) عمر نه، او زه ستا نه پناه غواړم د دنيا د فتنې نه او د قبر د عذاب نه۔

## بازارته د داخليدو دعا :

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ۔ (حصن حصين)

**ترجمه**: دالله نه سوا څوک معبود نشته هغه يواځې دې دهغه څوک شريک نشته دهغه باچاهي ده اودهغه دپاره تعريف دې هغه ژوندی کول کوی او مړه کول کوی هغه ته مرګ نه راځی د هغه په لاس کښې ښيګړه ده او هغه په هرڅيزباندې قادر دې۔

## ۳۱: بازار ته چه لاړشې نو دا دعا اووايه:

بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ وَخَيْرَ مَا فِيْهَا وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ اَنْ اُصِيْبَ فِيْهَا يَمِيْنًا فَاجِرَةً اَوْصَفْقَةً خَاسِرَةً۔ (طبرانی فی الکبیر)

**ترجمه**: زه دالله نوم اخستوسره داخل شوم،اې الله زه ستانه ددې بازار او څه چه په دې بازار کښې دی ددې خيرغواړم او ستانه پناه غواړم ددې بازار دشرنه او څه چه په دې بازار کښې دې د هغې دشرنه اې الله زه ستاپناه غواړم ددې خبرې نه چه دلته په په دروغه قسم اوخورم ياپه معامله کښې نقصان اوچت کړم۔

## ۳۲: د مجلس نه دپاسيدو دعا:

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ ط

**ترجمه**: يا الله! زه ستا پاکی بيانوم او ستا حمد کوم، ستا نه سوا څوک معبود نشته ستانه بخښنه غواړم او ستاپه حضور کښې توبه کوم۔

## ۳۳: دسفر دعا:

کله چه په سفر روان شې نو دا دعا اوغواړه۔

بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ۔

**ترجمه**: زه شروع کوم دالله په نوم سره او هم په الله باندې بهروسه کوم۔

يا اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَفِيْقِیْ فِیْ سَفَرِیْ وَخَلِيْفَتِیْ فِیْ اَهْلِیْ وَمَالِیْ۔

**ترجمه** : اې الله! هم ته په دې کښې زما رفیق شې او زما نه پس زما دخاندان او مال نګهبان شې۔

یا اَللّٰهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الصَّاحِبُ فِی السَّفَرِ، وَالْخَلِیْفَةُ فِی الْاَهْلِ وَالْمَالِ وَالْوَلَدِ، اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْاَلُكَ فِیْ سَفَرِنَا هٰذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوٰی وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضٰی، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ وَّعْثَآءِ السَّفَرِ وَكَاٰبَةِ الْمَنْظَرِ وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ فِی الْاَهْلِ وَالْمَالِ وَالْوَلَدِ، اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَیْنَا سَفَرَنَا هٰذَا وَاطْوِعَنَّا بُعْدَهٗ۔ (الاذکار)

**ترجمه** : الله ډیرلوې دې، الله ډیرلوې دې، الله ډیرلوې دې، اې الله! هم ته زما په سفرکښې زما ملګرې ئې، او هم ته زما د روستو زماد کور والواو دمال او اولاد محافظ ئې۔اې الله! مونږستانه په دې سفرکښې د نیکې او تقوی توفیق غواړو، او دداسې عمل چه کوم سره ته راضی شې -اې الله! زه ستاپناه غواړم دسفردمشقت نه، او په غم کښې د اچونکی منظرنه، او په بدحالت کښې کوروالواو مال او اولاد ته د واپس کیدو نه-اې الله! زمونږ دپاره داسفر آسان کړې، اوددې لرې والې زمونږ دپاره راغونډ کړې۔

## ۳۴: دسوارلئ دعا :

سُبْحٰنَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنَ وَاِنَّا اِلٰی رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ۔ (الزخرف)

**ترجمه** : الله پاک دې چاچه دې سورلئ لره زماپه قبضه کښې راکړه او دهغه دقدرت نه بغیرمونږ ددې قبضه کونکې نه وو اوبیشکه مونږتولو لره دخپل رب طرف ته واپس کیدل دی۔

## ۳۵ : کله چه کشتئ یاجهاز روان شی نودا دعا اوایه :

بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖهَا وَمُرْسٰهَا اِنَّ رَبِّیْ لَغَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ۔ (هود)

**ترجمه** : هم دالله په نوم سره دا چلیږی او اودریږی، بیشک زما

پروردګار ډیر مغفرت کونکې او لوې مهربان دې۔

## ۳۶ : کله چه سورلئ په یو منزل باندې اودریږی

کله چه سورلئ په داسې منزل باندې اودریږی چرته چه دانسان کوزیدل وی خواه د لږ وخت دپاره کوزیدل وی یا دزیات دپاره، هغه دې دا دعا اووائی:

رَبِّ اَنْزِلْنِیْ مُنْزَلًا مُّبَارَكًا وَّاَنْتَ خَیْرُ الْمُنْزِلِیْنَ۔ (المؤمنون)

**ترجمه** : اې زما پروردګاره! مادبرکت والا ځاې باندې کوز کړې، او ته دټولو نه بهتر کوزونکې ئې۔

## ۳۷ : کله چه یو نوی کلی ته داخلیږې نو دادعا اووایه:

کله چه څوک سړې یو نوې کلی ته داخلیږی نو دا دعا دې اووائی:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْاَلُكَ خَیْرَ هٰذِهِ الْقَرْیَةِ وَخَیْرَ اَهْلِهَا وَخَیْرَ مَا فِیْهَا وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ اَهْلِهَا وَشَرِّ مَا فِیْهَا۔

**ترجمه** : اې الله! زه ستانه سوال کوم چه ماته ددې کلی، اوددې داوسیدونکواوڅه چه په دې کلی کښې دی ددې ښیګړه نصیب کړې، اوزه ستاپناه غواړم ددې، اوددې داوسیدونکو اوکوم څه چه په دې کلی کښې دی دهغې دبدئ نه۔

## ۳۸: دسفرنه د واپسئ دعا:

آئِبُوْنَ تَآئِبُوْنَ عَابِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ۔ (مسلم)

**ترجمه** : مونږ واپس کیدونکې یو توبه کونکې یو بندګی کونکې یوسجده کونکې یودخپل رب حمد کونکې یو۔

**۳۹: چالره د رخصت کولو په وخت دا دعا اووایه:**

اَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِيْنَكُمْ وَاَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيْمَ اَعْمَالِكُمْ۔ (ترمذی: ۲/۱۸۲)

**ترجمه**: الله ته حواله کوم ستا دین او ستا امانت داری اوستا دعمل انجام۔

**۴۰: کله چه څوک هدیه درکړی نو دا ورته اووایه:**

بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِيْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ۔ (عمل الیوم واللیلة لابن السنی)

**ترجمه**: برکت دې ورکړی الله تا ته او ستا په کور والو کښې او ستا په مال کښې۔

**۴۱: د میاشت دلیدو دعا:**

اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْاَمْنِ وَالْاِيْمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْاِسْلَامِ رَبِّيْ وَرَبُّكَ اللّٰهُ۔

**ترجمه**: اې الله! ته په مونږ باندې برکت او ا یمان او سلامت او په اسلام سره او دهغه اعمالو سره چه په کوم سره ته راضی ئې دې لره راوخیژوې اې سپوږمۍ زما اوستا رب الله دې۔

**۴۲: د روژه ماتی دعا:**

اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ۔ (ابوداؤد: ۱/۳۲۹)

**ترجمه**: اې الله! ماستادپاره روژه اونیوله اوهم ستاپه رزق باندې مې روژه ماته کړه۔

**۴۳: یا دا دعا اووایه:**

ذَهَبَ الظَّمَاُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ وَثَبَتَ الْاَجْرُ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى۔ (سنن بیهقی)

**ترجمه**: تنده ماته شوه، رګونه تر شو، او اجر ملاویدل فیصله شول کچرې الله اوغوښتل۔

## ۴۴: چه شب قدر وی نو دا دعا اووایه:

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ كَرِيْمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ۔(ترمذی)

**ترجمه**: اې الله! بیشکه ته ډیر معاف کونکې ئې، ته خوښوې معاف کولو لره، بس ته ما معاف کړې۔

## ۴۵: دباران غوښتلو دعا:

اَللّٰهُمَّ اسْقِنَا اَللّٰهُمَّ اسْقِنَا اَللّٰهُمَّ اسْقِنَا۔(بخاری)

**ترجمه**: اې الله! مونږه سیراب کړې، اې الله! مونږسیراب کړې، اې الله! مونږه سیراب کړې۔

## ۴۶: دویمه دعا داده:

اَللّٰهُمَّ اَغِثْنَا اَللّٰهُمَّ اَغِثْنَا اَللّٰهُمَّ اَغِثْنَا۔(بخاری۱/۱۳۸)

**ترجمه**: اې الله! زمونږ مدد اوکړې، اې الله زمونږ مدد اوکړې اې الله زمونږ مدد اوکړې۔

## ۴۷: د باران د نازلیدو په وخت دعا:

اَللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَّافِعًا۔(بخاری:۱ /۱۳۸)

**ترجمه**: اې الله ! دې باران لره ښه وریدونکې او نفع ورکونکې جوړ کړې۔

## ۴۸: کله چه باران زیات شی

اَللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا اَللّٰهُمَّ عَلَى الْاٰكَامِ وَالْاٰجَامِ وَالظِّرَابِ وَالْاَوْدِيَةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ۔

**ترجمه**: اې الله! دې باران لره ګیرچاپیر اووروې، او په مونږ مه وروه، اې الله! په غونډو، اوغرونو او لختوکښ او د اونو د راختلو په ځایونوباندې اوروې۔

## ۴۹ : کله د وريځ د ګړزيدلو آواز واورې نو دا دعا اووايه:

اَللّٰهُمَّ لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ۔(ترمذی)

**ترجمه**: اې الله! ته قتل نه کړې مونږ لره په خپلې غصې سره۔

## ۵۰: کله چه سيلئ راشی نو دا دعا اووايه:

اَللّٰهُمَّ لَقْحًا لَّا عَقِيْمًا۔(المعجم الاوسط)

**ترجمه**: اې الله ! چه درنه وی نه چه شنډه وی۔

## ۵۱: کله چه د خر آواز واورې نو دا دعا اووايه:

أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ۔(مسلم)

**ترجمه**: زه پناه غواړم په الله سره د شيطان رټلې شوی نه۔

## ۵۲: کله چه د قرض د ادا کولو فکر وی:

کله چه په چا باندې قرض شی، اوهغه دهغې د ادا کولو فکر وی نودا دعا اووايه:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسْلِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ۔(ابوداؤد)

**ترجمه** : یاالله! زه دفکراوغم نه ستاپناه غواړم،اودعاجزئ اوسستې نه ستاپناه غواړم،او دبزدلئ او بخل نه ستا پناه غواړم،او دقرض دغالب راتلونه او په خلقو دمسلط کيدو نه ستاپناه غواړم۔

## ۵۳: کچرې بد نظر اولګی:

بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ أَذْهِبْ حَرَّهَا وَبَرْدَهَا وَوَصَبَهَا۔(مصنف ابن ابی شيبه)

**ترجمه** : دالله په نوم سره دم کوم۔اې الله! ته لرې کړې ددې ګرمائش اوددې يخ والې او ددې تکليف لره۔

## ۵۴: چامصيبت زده لره په ليدو باندې دا دعا اووايه:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ عَافَانِىْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِىْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيْلاً۔ (ترمذی)

**ترجمه** : ټول تعريفونه دهغه الله دپاره دی چاچه ماته عافيت راکړودې مصيبت نه په کوم کښې چه ته مبتلاکړې او ماته ئې ښه فضيلت راکړو په هغه ټولو خلقو باندې کومو لره چه هغه پيدا کړې دی۔

## ۵۵: چا مسلمان لره چه په خندا اووينې نودا دعا اووايه:

اَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ۔

**ترجمه**: الله تعالی دې تا خندوی۔

## ۵٦: کله چه مصيبت يا تکليف اورسی نودا دعا اووايه:

اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ۔ اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِىْ فِىْ مُصِيْبَتِىْ وَاخْلُفْ لِىْ خَيْرًا مِّنْهَا۔ (مسلم)

**ترجمه** : مونږ دالله دپاره يواو بيشکه مونږ هغه طرفته واپس کيدونکې يواې الله ماته زما په مصيبت کښ اجر راکړې اودې په عوض کښ ددې نه بهتر څيز راکړې۔

## ۵۷: د چا ديرې اوخوف نه دبچ کيدو دعا:

اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْهِمْ بِمَا شِئْتَ۔ (مسلم)

**ترجمه** : دالله دپوره کلمو په ذريعه سره دالله پناه غواړم،دهغه دمخلوق دشر نه ۔اې الله ته زما دپاره کافی شې څنګه چه ته غواړې۔

## ۵۸ : کله چه د مريض پوښتنه کوې نو داسې تسلي ورکوه:

لَابَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللهُ (بخاری)

**ترجمه**: هيڅ حرج نشته، پاکی ده ان شاء الله (کچرې الله اوغوښتل)

## ۵۹: د مريض د شفاء د پاره د لوستلو دعا:

اَللّٰهُمَّ اَذْهِبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ اِشْفِهٖ اَنْتَ الشَّافِيْ لَا شِفَآءَ اِلَّا شِفَاءُكَ شِفَآءً لَايُغَادِرُ سَقَمًا۔ (مسلم:۲/    )

**ترجمه**: اې الله! اې د خلقو ربه ته تکليف لرې کړې او ده ته شفاء ورکړې او هم ته شفاء ورکونکې ئې هيڅ شفاء نشته ستاد شفاء نه علاوه۔ ته داسې شفاء راکړې چه لږ شان مرض هم پاتې نه شی۔

## ۶۰: ماشوم لره د مرض او بل شر نه د بچ کيدو د پاره:

اُعِيْذُكَ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ وَكُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ۔

**ترجمه** : زه ستاد پاره دالله تعالی د پوره کلمو په ذريعه سره د هر شيطان او د هر زهريله ځناور او د هر ضرر رسونکی د هرې سترګې نه پناه غواړم۔

## ۶۱: د تعزيت دعا:

د مړی وارث ته د تعزيت په وخت دا الفاظ اووايه۔

اِنَّ لِلّٰهِ مَا اَخَذَ وَلَهٗ مَا اَعْطٰى وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ بِاَجَلٍ مُّسَمًّى۔ (بخاری و مسلم)

**ترجمه** : د الله په اختيار کښې دی څه چه هغه واخستل او هم د هغه دی څه چه هغه ورکوی او د هر څيز د هغه په نزد مقرر وخت دې۔

## ۶۲: مړې چه کله په قبر کښې ږدی نو دا دعا اووايه:

بِسْمِ اللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ۔ (ابوداؤد)

**ترجمه**: د الله په نوم سره او د الله د رسول په طريقې سره زه ده لره ږدم۔

## ٦٣: قبرستان ته دتلو دعا:

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ۔ (ترمذی)

**ترجمه:** اې قبرونو والو! په تاسو دې سلام وی او الله تعالی دې تاسو او مونږ ته بخښنه وکړي. تاسو زمونږ نه مخکښې راغلې ئې او مونږ روستو راتلونکې يو۔

## : کله چه په وسوسو کښې مبتلا شې:

اٰمَنْتُ بِاللهِ وَرَسُوْلِهٖ۔ (عمل اليوم والليلة لابن السنی)

**ترجمه:** ما ايمان راوړې په الله او دهغه په رسول باندې۔

## : د فتنو نه دحفاظت دعا:

نَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ۔ (مسلم)

**ترجمه:** مونږ دالله په پناه کښې راځو دفتنونه، کومې چه په دې کښې ښکاره دی او کوم چه پټې دی۔

# دسحر ماښام د وئيلو دعاګانې

## کله چه نمر خيژی:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَقَالَنَا يَوْمَنَا هٰذَا وَلَمْ يُهْلِكْنَا بِذُنُوْبِنَا۔ (مسلم)

**ترجمه** : ټول تعريفونه دهغه الله دپاره دی چا چه واپس کړه مونږ ته دا ورځ، او هغه هلاک نه کړو مونږه زمونږ دګناهونو په وجه سره۔

## د سحر دعا:

اَللّٰهُمَّ بِكَ اَصْبَحْنَا وَبِكَ اَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْیٰ وَبِكَ نَمُوْتُ وَاِلَيْكَ النُّشُوْرُ۔ (ابن حبان)

**ترجمه:** اې الله! هم ستا په قدرت سره مونږ دسحر په وخت کښې داخل شو او هم ستا په قدرت مونږ دماښام په وخت کښې داخل شو او هم ستا په قدرت سره مونږ ژوندی کيږو او مرو او هم ستا طرف

ته واپس کیدل دی۔

## دسحر او ماښام یو خاص دعا:

حضرت عثمانؓ فرمائی چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل :چه کوم بنده هرسحر اوماښام داکلمات درې ځله اولولی نو هغه به هیڅ یوڅیز ضررنه شی رسولې،په بل روایت کښې دی چه هغه ته به څه ناګهانی بلا نه رسی۔کلمات دادی:

- بِسۡمِ اللهِ الَّذِیۡ لَا یَضُرُّ مَعَ اسۡمِهٖ شَیۡءٌ فِی الۡاَرۡضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ۔ (مشکوٰة)

**ترجمه**: دالله په نوم سره مونږه صبا کړو[یاماښام] چه دهغه په نوم سره په آسمان یازمکه کښې څه څیزنقصان نه شی ورکولې او هغه اوریدونکې او پوهه دې۔

- اَللّٰهُمَّ اَجِرۡنِیۡ مِنَ النَّارِ۔(ابوداؤد و ترمذی) (دسحر اوماښام په وخت اووه ځله)
- رَضِیۡتُ بِاللهِ رَبًّا وَّبِالۡاِسۡلَامِ دِیۡنًا وَّبِمُحَمَّدٍ نَّبِیًّا. (ابوداؤد) (سحر اوماښام درې ځله)
- اَصۡبَحۡنَا وَاَصۡبَحَ الۡمُلۡكُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسۡئَلُكَ خَیۡرَ هٰذَا الۡیَوۡمِ فَتۡحَهٗ وَنَصۡرَهٗ وَنُوۡرَهٗ وَبَرَکَتَهٗ وَهُدَاهُ وَاَعُوۡذُبِكَ مِنۡ شَرِّ مَافِیۡهِ وَشَرِّ مَابَعۡدَهٗ۔ (ابوداؤد)
- اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیۡ عَلٰی ذِکۡرِكَ وَشُکۡرِكَ وَحُسۡنِ عِبَادَتِكَ ط
- یَامُصَرِّفَ الۡقُلُوۡبِ صَرِّفۡ قَلۡبِیۡ اِلٰی اِطَاعَتِكَ ط
- یَامُقَلِّبَ الۡقُلُوۡبِ ثَبِّتۡ قَلۡبِیۡ عَلٰی دِیۡنِكَ ط
- اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُبِكَ مِنَ الشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوۡٓءِ الۡاَخۡلَاقِ ط

## ایمان مفصل:

اٰمَنۡتُ بِاللهِ وَمَلٰٓئِکَتِهٖ وَکُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالۡیَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَالۡقَدۡرِ خَیۡرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللهِ تَعَالٰی وَالۡبَعۡثِ بَعۡدَ الۡمَوۡتِ ط

## ایمان مجمل:

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهٖ اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ ط

## کلمه طیبه:

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

## کلمه شهادت:

اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط

## کلمه تمجید:

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ط وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ط

## کلمه توحید:

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ ط وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ط

## کلمه استغفار:

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِيْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ط وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ۔

## کلمه رد کفر:

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ اُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا وَّاَنَا اَعْلَمُ بِهٖ وَاَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا اَعْلَمُ بِهٖ تُبْتُ عَنْهُ وَتَبَرَّأْتُ مِنَ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ وَالْكِذْبِ وَالْغِيْبَةِ وَالْبِدْعَةِ وَالنَّمِيْمَةِ وَالْفَوَاحِشِ وَالْبُهْتَانِ وَالْمَعَاصِيْ كُلِّهَا وَاَسْلَمْتُ وَاَقُوْلُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

# د حاجت مونځ

ددعاګانو د قبولیت اوحاجتونو دپوره کیدو دپاره یوه مجربه نسخه صلوة حاجت دي۔کله چه به حضورﷺ ته څه اهمه معامله پیښه شوه نو نبی علیه السلام به دهغې دپاره دوه یاڅلور رکعته مونځ کولو۔په حدیث

کښې دی په اول رکعت کښې به ئې دسورة فاتحې نه پس درې ځله آيةالکرسی لوستله۔باقی درې رکعتونوکښې به ئې دسورة فاتحې نه پس**قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ۔قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ۔ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ** یویو ځل لوستل نو ګویاچه هغه په شب قدر کښې څلور رکعته اوکړل۔ [ابوداؤد]

په یوبل حدیث کښې دی چه نبی علیه السلام ارشاد اوفرمائیلو چه دچا څه حاجت الله طرف ته وی یاچا انسان طرف ته وی نو په ښه طریقه دې اودس اوکړی بیا دې دوه رکعته مونځ اوکړی دالله تعالی حمدوثناء دې اوکړی او په نبی علیه السلام دې درود اولیږی بیادې دا دعا اولولی ۔[دخپل جائزحاجت دپاره الله ته رجوع کولو دا بهترین نسخه ده]

## د حاجت دعا:

**لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ط سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ط وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط اَسْئَلُكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَآئِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَّالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ اِثْمٍ لَا تَدَعْ لَنَا ذَنْبًا اِلَّا غَفَرْتَهٗ وَلَا هَمًّا اِلَّا فَرَّجْتَهٗ وَلَا دَيْنًا اِلَّا قَضَيْتَهٗ وَلَا حَاجَةً مِّنْ حَوَائِجِ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ هِيَ لَكَ رِضًا اِلَّا قَضَيْتَهَا يَآ اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ ط**

**ترجمه**: ”د الله تعالی نه سوا بل څوک معبود نشته دې هغه دحلم او بزرګۍ والا دې دلوې عرش مالک دې،اې الله ستا پاکی بیانوم،ټول تعریفونه دالله دپاره دی، چه دټول جهان پالونکې دې،(اې الله) زه ستانه ستادرحمت په ذریعه سره دبخښنې اسباب،دنیکۍ آسانتیا او دهرې ګناه نه سلامتی غواړم، زماټول ګناهونه اوبخښه زما ټول غمونه ختم کړه او زما هرحاجت چه ستا درضامندۍ مطابق وی پوره کړه“۔

# د استخارې دعا

حضرت جابر رضی اللہ عنہ فرمائی:

نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم به زمونږ دکارونو دپاره داستخارې دعا داسې خودله لکه څنګه چه به ئې څه سورت خودلو[یعنی ډیرپه اهتمام سره به ئې ددې تعلیم فرمائیلو] نبی علیه السلام به فرمائیل چه کله په تاسو کښې څوک دڅه کار اراده اوکړی نو هغه له پکاردی چه دفرض مونځ نه علاوه دوه رکعته نفل مونځ هم اوکړی، بیادا دعا اووائی۔

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَخِیْرُكَ بِعِلْمِكَ وَاَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَاَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِیْمِ، فَاِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ، اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ خَیْرٌ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ [فِیْ عَاجِلِ اَمْرِیْ وَاٰجِلِهٖ] فَاقْدِرْهُ لِیْ وَیَسِّرْهُ لِیْ ثُمَّ بَارِكْ لِیْ فِیْهِ وَاِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ شَرٌّ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ [فِیْ عَاجِلِ اَمْرِیْ وَاٰجِلِهٖ] فَاصْرِفْهُ عَنِّیْ وَاصْرِفْنِیْ عَنْهُ وَاقْدِرْ لِیَ الْخَیْرَ حَیْثُ كَانَ ثُمَّ اَرْضِنِیْ بِهٖ۔

**ترجمه**: "یاالله! زه خیرغواړم ستانه په وجه ستا دعلم او قدرت طلب کوم ستانه په وجه ستا دقدرت او غواړم زه ستانه ستا دلوې فضل نه ځکه چه ته قادر ئې او زه قادر نه یم اوته عالم ئې او زه عالم نه یم او ته علام الغیوب ئې۔یاالله! کچرې ستاپه علم کښې دا"کار" بهتردې زما دپاره زماپه دین کښې او زما په معاش کښې او زما دکارپه انجام کښې نوته تجویزکړې او آسان کړې دې لره زما دپاره بیا برکت واچوې زما دپاره په دې کښې اوکچرې ستاپه علم کښې دا "کار" بد دې زما دپاره زما په دین کښې او زماپه معاش کښې او زمادکار په انجام کښې نو لرې کړې دې لره زما نه او لرې کړې ما ددې نه او نصیب کړې ماته ښیګړه چرته چه هم وی بیاراضی کړې ماپه دې باندې۔اوپه حدیث کښې چرته چه دکار لفظ راغلې دې دلته

دخپل حاجت نوم واخله ـ" [بخاری شریف]

**فائده:** کچرې دڅه کار اراده اوکړې شی چه مباح وی اوددې په کامیابۍ یا ښه والی کښې شک او تردد وی ـ مثلاً دسفراراده وی یا دتجارت شروع کولو خیال وی یا نکاح کول غواړی یاداسې څه مباح کاروی نوپه داسې موقعه باندې مناسب دادی چه دنبی کریم ﷺ په تعلیم باندې عمل کولو سره په مسنون طریقه باندې استخاره اوکړې شی ـ داستخارې برکت دادې چه داستخاره کولو په وجه سره دکار دشروع کونکی په حق کښې چه کومه خبره بهتره وی هغه دهغه په زړه کښې ځای نیسی اوزړه مطمئن شی او دهغې دپاره نه څه مخصوص خوب لیدل ضروری د نه څه بل حالت ـ کچرې ددې نه پس هم زړه څه فیصله اونکړی نو دالله تعالی په نوم سره کار شروع کړه ـ

یادساته چه دخوراک څکاک یاددې قسمه نور متعین کارونو دپاره استخاره نه دې کول پکار ـ دغه شان که څه کار محض دخیر وی نو په دې کښې استخاره صرف دوخت دتعیین دپاره یابه دمخصوص حالت دپاره وی ـ واجب اومستحب کارونو د اداکولو یا دحرام اومکروه څیزونو په سلسله کښې استخاره به نه وی ـ

حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې چه :

نبی ﷺ ماته اوفرمائیل اې انس رضی الله عنه! کله چه ته دڅه کار اراده اوکړې نودهغې متعلق دالله تعالی نه اووه ځله استخاره کوه ـ" [مظاہر حق جدید]

یوروایت کښې دا مختصراستخاره هم نقل ده :

**اَللّٰهُمَّ خِرْ لِیْ وَاخْتَرْ لِیْ وَلَا تَکِلْنِیْ اِلٰی اِخْتِیَارِیْ ـ**

**ترجمه** : اې الله! زمادپاره [صحیح لاره] خوښه کړه او زما دپاره هم تاسو انتخاب اوکړۍ اوماخپل اختیارته مه سپاره ـ

یعنی وخت کم وی نوصرف هم دا دعا اولوله ـ [مظاہر حق جدید]

# اسمآء حسنیٰ

## (د اللّه تعالی خوارہ او ښائسته نومونه)

دالله تعالی ډیرصفاتی نومونه دی چه هغې ته اسماءالحسنیٰ وئیلې شی۔سیّدنا ابوهریرهؓ نه روایت دې چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل:

دالله تعالی یوکم سل نومونه دی،چه دې لره شمار(یادولو سره ورد) کړل هغه به جنت ته داخلیږی ۔په دې وجه مونږدې لره شمار کولو سره یاد کړې دی۔(بخاری)

1. اَلرَّحْمٰنُ بخښنې والا
2. اَلرَّحِیْمُ مهربان
3. اَلْمَلِكُ باچا
4. اَلْقُدُّوْسُ ډیرپاک
5. اَلسَّلَامُ بې عیبه او پاک
6. اَلْمُؤْمِنُ امن ورکونکې
7. اَلْمُهَیْمِنُ نګهبان
8. اَلْعَزِیْزُ غالب
9. اَلْجَبَّارُ وران کارونو لره ټهیک کونکې۔دبعضو په نزد ددې معنی ده بندګانو لره هغه څیز طرف ته راوستونکې دکوم چه هغه اراده کوی ۔
10. اَلْمُتَکَبِّرُ نهایت بزرګې والا
11. اَلْخَالِقُ دحکمت مطابق پیدا کونکې،دڅیزونو اراده کونکې۔
12. اَلْبَارِئُ پیدا کونکې
13. اَلْمُصَوِّرُ صورت جوړونکې

14. اَلْغَفَّارُ دبندګانو ګناه لره بخښونکي او په عيبونو باندې پرده اچونکې۔
15. اَلْقَهَّارُ داسې غالب چه دهغه دقدرت په مخکښ ټول عاجز او مغلوب وی۔
16. اَلْوَهَّابُ بغير دڅه غرض او بدلې ډير ورکولو والا
17. اَلرَّزَّاقُ رزق پيدا کونکې او مخلوق ته رزق رسولو والا
18. اَلْفَتَّاحُ حکم کولووالا ۔بعضو وئيلې دی"د رزق او رحمت دروازې کهولاوهونکې"
19. اَلْعَلِيْمُ په ظاهروباطن پوهيدو والا
20. اَلْقَابِضُ دبندګانو روزی يا زړه تنګ کونکې او روح قبض کونکې
21. اَلْبَاسِطُ حکم کولو والا ۔بعضو وئيلې دی د رزق او رحمت دروازې کهولاوهلو والا"
22. اَلْخَافِضُ کافرانو لره ذليل وخوار کولو سره ښکته کولو والا يا دخپل رحمت نه لرې کولو سره ښکته کولو والا
23. اَلرَّافِعُ د مومنانو مدد کولو سره ياهغوی په خپل رحمت سره اوچتونکې
24. اَلْمُعِزُّ عزت ورکو والا
25. اَلْمُذِلُّ ذلت ورکولو والا
26. اَلسَّمِيْعُ اوريدونکې
27. اَلْبَصِيْرُ ليدونکې
28. اَلْحَکَمُ حکم کولو والاچه هغې لره څوک نه شی رد کولې
29. اَلْعَدْلُ انصاف کولو والا
30. اَللَّطِيْفُ په بندګانو باندې نرمی کولو والا،باريک بين چه

دهغه دپاره لرې او نزدې يو شان وی۔

31. اَلْخَبِيْرُ د زړه دخبرو او دټولو څيزونو خبر ساتولو والا

32. اَلْحَلِيْمُ بردبار چه مومن ته په عذاب ورکولو کښې جلتی نه کوی بلکه هغه وخت ورکوی دې دپاره چه توبه ايستلو سره کامياب شی۔

33. اَلْعَظِيْمُ په ذات وصفاتو کښې دحد نه زيات بزرګ وبرتر

34. اَلْغَفُوْرُ ډيربخښونکې

35. اَلشَّكُوْرُ قدردان،په لږ عمل باندې زيات ثواب ورکولو والا

36. اَلْعَلِيُّ اوچتې مرتبې والا

37. اَلْكَبِيْرُ داسې لوې چه دهغه په لوئې کښې څوک برابر نشته

38. اَلْحَفِيْظُ ټول عالم لره دآفاتو او نقصاناتو نه محفوظ ساتولو والا

39. اَلْمُقِيْتُ بدن او روح دپاره قوت پيدا کولو والااو هغې ته قوت ورکولو والا

40. اَلْحَسِيْبُ په هرحال کښې کافی کيدونکې،دقيامت په ورځ حساب اخستونکې

41. اَلْجَلِيْلُ بزرګئ والا،قدر والا

42. اَلْكَرِيْمُ سخی او ډير ورکونکې

43. اَلرَّقِيْبُ دهرڅيز نګهبانی کولو والا،دبندګانو احوالو او افعالو باندې باخبره

44. اَلْمُجِيْبُ دعاجزانو دعاقبلولو والا،دبلونکو جواب ورکولو والا

45. اَلْوَاسِعُ د وسيع علم والا او په خپلو نعمتونو سره ټولو لره نمانځلو والا

46. اَلْحَكِيْمُ هوښيار او حکمت والا

47. اَلْوَدُوْدُ نيکانو خلقولره دوست ساتونکې،د اولياؤ په زړونو

کښې محبوب

48. اَلْمَجِيْدُ بزرګی او شرافت والا

49. اَلْبَاعِثُ مړو لره د قبرونو نه اوچتولو والا او ژوندی کولو والا او دغافلانو زړونه د غفلت د خوب نه بيداروونکې

50. اَلشَّهِيْدُ حاضراوظاهروباطن باندې باخبره

51. اَلْحَقُّ په شاهنشاهۍ سره قائم او دخدايۍ لائق

52. اَلْوَكِيْلُ کارساز

53. اَلْقَوِيُّ طاقت والا

54. اَلْمَتِيْنُ قوت والا

55. اَلْوَلِيُّ مددګار او مؤمنانو لره دوست ساتلو والا

56. اَلْحَمِيْدُ په خپل ذات وصفاتو کښې تعريف کړې شوې

57. اَلْمُحْصِيُّ هرخيزلره احاطه کونکې او په شمار کښې ساتلو والا

58. اَلْمُبْدِئُ په اول ځل پيدا کولو والا

59. اَلْمُعِيْدُ دوباره پيداکولو والا

60. اَلْمُحْيِيُّ ژوندې کونکې

61. اَلْمُمِيْتُ مړ کولو والا

62. اَلْحَيُّ د ازل نه تر ابده پورې ژوندې اوسيدونکې

63. اَلْقَيُّوْمُ پخپله قائم او ټول مخلوقاتولره قائم ساتونکې، خبرګيری کولو والا، ټينګ کولو والا

64. اَلْوَاجِدُ هغه غنی چه دچا محتاج نه وی

65. اَلْمَاجِدُ بزرګې والا

66. اَلْوَاحِدُ يوائې

67. اَلْاَحَدُ په ذات وصفاتو کښې يوائې

68. اَلصَّمَدُ بې پرواه چه دچا محتاج نه وی اوټول دهغه محتاج وی
69. اَلْقَادِرُ قدرت والا
70. اَلْمُقْتَدِرُ قدرت ښکاره کولو والا
71. اَلْمُقَدِّمُ دوستانو ته خپل نزدیکت ورکولو سره مخکښې بوتلونکې
72. اَلْمُؤَخِّرُ دشمنانو لره دخپل لطف نه لرې ساتلو سره روستو بوتلونکې
73. اَلْاَوَّلُ دټولو نه مخکښ
74. اَلْاٰخِرُ د ټولو نه آخر
75. اَلظَّاهِرُ دخپل قدرت او دمخلوقاتو په اعتبارسره ښکاره
76. اَلْبَاطِنُ دخپل ذات دحقیقت په اعتبار سره د وهم اوخیال نه پټ
77. اَلْوَالِیُ کارساز او مالک
78. اَلْمُتَعَالِیُ ډیر اوچت مرتبه والا
79. اَلْبَرُّ ډیرزیات احسان کولو والا
80. اَلتَّوَّابُ توبه قبلونکې، په رحمت سره رجوع کولو والا
81. اَلْمُنْتَقِمُ کافرانو او نافرمانانونه دعذاب په ذریعه سره بدله اخستونکې
82. اَلْعَفُوُّ دګناهونو معافی کونکې
83. اَلرَّؤُوْفُ ډیر مهربانه
84. مَالِكُ الْمُلْكِ دټول جهان مالک
85. ذُوالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ دبزرګۍ او بخښنې مالک۔
86. اَلْمُقْسِطُ عدل کولو والا
87. اَلْجَامِعُ په قیامت کښې خلقولره جمع کولو والا

88. اَلْغَنِیُّ دهرڅیز نه بې پرواه
89. اَلْمُغْنِیُ چالره چه اوغواړی بې پرواه کولو والا
90. اَلْمَانِعُ خپل بندګانولره ددین اودنیادهلاکتونو نه منع کونکې
91. اَلضَّارُّ چاته چه اوغواړی ضرر رسولو والا
92. اَلنَّافِعُ چاته چه اوغواړی نفع رسولو والا
93. اَلنُّوْر روښانه کولووالا،آسمانونو لره په ستورو سره زمکې لره په انبیاؤ او علماؤ سره،دمسلمانانو زړونو لره دمعرفت او اطاعت په ذریعه روښانه کولو والا۔
94. اَلْهَادِیُ لاره خودونکې
95. اَلْبَدِیْعُ عالَم لره بې مثاله پیدا کولو والا
96. اَلْبَاقِیْ همیشه باقی اوسیدونکې
97. اَلْوَارِثُ موجوداتولره دفناکولونه پس باقی ساتولووالا او دټولو مخلوقاتو مالک
98. اَلرَّشِیْدُ عالم (دنیا) ته لاره ښودلو والا
99. اَلصَّبُوْرُ بردبار چه ګناهګارو ته په عذاب ورکولو کښې جلتی نه کوی۔

# ابتدائی عربی

په دنیا کښې مختلفې ژبې وئیلې کیږی څنګه چه اردو، پښتو، فارسی وغیره۔دغه شان عربی هم یوه مشهوره ژبه ده،دې ته دمسلمانانو مذهبی ژبه وئیلې کیږی،دقرآن کریم او د دین ټول علم په دې ژبه کښې دې۔سیدناعمرفاروق فرمائی چه عربی زده کړې،ددې زده کول دین دې۔لهذا مونږ له پکار دی چه څنګه مونږ نورې ژبې زده کوو دغه شان مونږ له عربی زده کول هم پکاردی۔لاندې مونږ دعربۍ ژبې مشهور او زیات استعمال کیدونکی اصطلاحات لیکو۔تاسو ئې یادکړئ۔

## (۱)۔۔۔اَلْاَعْدَادُ[شمار]

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَاحِدٌ | یو | اِثْنَانِ | دوه |
| ثَلَاثَةٌ | درې | اَرْبَعَةٌ | څلور |
| خَمْسَةٌ | پنځه | سِتَّةٌ | شپږ |
| سَبْعَةٌ | اووه | ثَمَانِيَةٌ | آته |
| تِسْعَةٌ | نهه | عَشَرَةٌ | لس |
| اَحَدَعَشَرَ | یوولس | اِثْنَاعَشَرَ | دولس |
| ثَلَاثَةَعَشَرَ | دیارلس | اَرْبَعَةَعَشَرَ | څوارلس |
| خَمْسَةَعَشَرَ | پنځلس | سِتَّةَعَشَرَ | شپاړس |
| سَبْعَةَعَشَرَ | اوولس | ثَمَانِيَةَعَشَرَ | اتلس |
| تِسْعَةَعَشَرَ | نورلس | عِشْرُوْنَ | شل |
| اَحَدٌوَّعِشْرُوْنَ | یوویشت | اِثْنَانِ وَّعِشْرُوْنَ | دوویشت |
| ثَلَاثَةٌوَّعِشْرُوْنَ | درویشت | اَرْبَعَةٌوَّعِشْرُوْنَ | څلورویشت |
| خَمْسَةٌوَّعِشْرُوْنَ | پنځویشت | سِتَّةٌوَّعِشْرُوْنَ | شپږویشت |
| سَبْعَةٌوَّعِشْرُوْنَ | اووه ویشت | ثَمَانِيَةٌوَّعِشْرُوْنَ | اته ویشت |
| تِسْعَةٌوَّعِشْرُوْنَ | یوکم دیرش | ثَلَاثُوْنَ | دیرش |

## (2)---عَشَرَاتٌ [دهائيان]

| | | | |
|---|---|---|---|
| شل | عِشْرُوْنَ | لس | عَشْرَةٌ |
| څلويښت | اَرْبَعُوْنَ | دېرش | ثَلَاثُوْنَ |
| شپېته | سِتُّوْنَ | پنځوس | خَمْسُوْنَ |
| اتيا | ثَمَانُوْنَ | اويا | سَبْعُوْنَ |
| سل | مِائَةٌ | نوي | تِسْعُوْنَ |

## (3)---اَلْمَطْبَخُ [باورچي خانه کښې استعماليدو والا څيزونه]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ګلاس | كَأْسٌ | لوښي | اٰنِيَةٌ | د وينځلو ځاي | مِغْسَلٌ |
| کټوۍ | قِدْرٌ | پليټ | صَحْنٌ | فريج | ثَلَّاجَةٌ |
| نغرۍ | مَوْقِدٌ | قشوغا | مِلْعَقَةٌ | چاړه | سِكِّيْنٌ |
| جګ | اِبْرِيْقٌ | ميز | مِنْضَدَةٌ | پياله | طَاسَةٌ |

## (4)---اَلْخَضْرَوَاتُ [سبزيانې]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اُوږه | ثُوْمٌ | آلو | بَطَاطِسٌ | ګاځره | جَزَرٌ |
| بنډۍ | بَامِيَةٌ | پياز | بَصَلٌ | مولۍ | فِجْلٌ |
| ادرک | زَنْجَبِيْلٌ | ټماټر | طَمَاطِمٌ | باتينګړ | بَاذِنْجَانٌ |
| ټيپر | لِفْتٌ | شين مرچکي | فِلْفِلٌ | کدو | قَرْعٌ |
| ګوبهي | قَرْنَبِيْطٌ | دهنيا | كُزْبَرَةٌ | مټر | كِرْسَنَّةٌ |
| | | پودينه | نَعْنَاعٌ | بادرنګ | خِيَارٌ |

## (5)۔۔۔ أَيَّامُ الْأُسْبُوْعِ [دهفتې ورځې]

| | | | |
|---|---|---|---|
| يَوْمُ السَّبْتِ | خالی | يَوْمُ الْأَحَدِ | اتوار |
| يَوْمُ الْاِثْنَيْنِ | ګل | يَوْمُ الثُّلٰثَاءِ | نهه |
| يَوْمُ الْأَرْبِعَاءِ | چارشنبه | يَوْمُ الْخَمِيْسِ | زيارت |
| يَوْمُ الْجُمُعَةِ | جمعه | | |

## (6)۔۔۔ شُهُوْرُ السنةِ الْقَمَرِيَّة [دكال قمري مياشتې]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مُحَرَّمُ | ۵ | جمادی الاولی | ۹ | رمضان |
| ۲ | صَفَرُ | ۶ | جمادی الثانی | ۱۰ | شوال |
| ۳ | رَبِيْعُ الْأَوَّلِ | ۷ | رجب | ۱۱ | ذی قعده |
| ۴ | رَبِيْعُ الثَّانِي | ۸ | شعبان | ۱۲ | ذی الحجه |

## (7)۔۔۔ شُهُوْرُ السنةِ الشَّمْسِيَّة [دكال شمسي مياشتې]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | يَنَايِرُ | جنوری | ۵ | مَايُوْ | مئی |
| ۲ | فِبْرَايِرُ | فروری | ۶ | يُوْنِيُوْ | جون |
| ۳ | مَارِسُ | مارچ | ۷ | يُوْلِيُوْ | جولائی |
| ۴ | اِبْرِيْلُ | اپریل | ۸ | أُغُسْطُسُ | اګست |
| ۹ | سِبْتَمْبَرُ | ستمبر | ۱۱ | نُوْفَمْبَرُ | نومبر |
| ۱۰ | أُكْتُوْبَرُ | اکتوبر | ۱۲ | دِيْسِمْبَرُ | دسمبر |

## (8)۔۔۔اَلْأَلْوَانُ [مختلف رنګونه]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اَبْيَضُ | سپین | اَزْرَقُ | آسماني رنګی | وَرْدِيٌّ | ګلابي |
| اَسْوَدُ | تور | اَصْفَرُ | پیلا | اَخْضَرُ | شین |
| اَحْمَرُ | سُور | بُرْتُقَالِيٌّ | نارنجي | | |

## (9)۔۔۔اَلْفَوَاكِهُ [مختلفې میوې]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تُفَّاحٌ | منړه | مَوْزٌ | کیلا | عِنَبٌ | انګور(ګوَر) |
| مَانْجَةٌ | آم | بِطِّيْخٌ | خربوزه | جَوَّافَةٌ | امروت |
| رُمَّانٌ | انار | تَمْرٌ | کهجور(خرما) | | |

## (10)۔۔۔مَاكُوْلَاتٌ وَمَشْرُوْبَاتٌ [د خوراک څکاک څیزونه]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مَاءٌ | اوبه | بَيْضَةٌ | اګۍ | عَصِيْرٌ | جوس |
| عَسَلٌ | شات | خَلٌّ | سرکه | طِحْنٌ | اوړه |
| أَرُزٌّ | اوریژې | خُبْزٌ | ډوډۍ | اِدَامٌ | اینګولي |
| لَحْمٌ | غوښه | مِلْحٌ | مالګه | سُكَّرٌ | چیني |

## (11)۔۔۔مُوَاصِلَاتٌ [د تګ راتګ ذرائع]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دَرَّاجَةٌ | سائیکل | حَافِلَةٌ | بس | سَيَّارَةٌ | موټر |
| دَرَّاجَةٌ نَارِيَّةٌ | موټرسائیکل | قِطَارٌ | ریل | طَائِرَةٌ | هوائی جهاز |
| عَرَبَةٌ | رکشه | سَفِيْنَةٌ | کشتۍ | بَاخِرَةٌ | د اوبو جهاز |
| سَيَّارَةُ أُجْرَةٍ | ټیکسي | شَاحِنَةٌ | ټرک | تَذْكِرَةٌ | ټکټ |

## (12)۔۔۔اَلْفَصْلُ [درسګاه]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سَبُّوْرَةٌ | بورډ | سَاعَةٌ | ګهړۍ | طَاوِلَةٌ | ميز |
| مَكْتَبٌ | تيپائی | حَقِيْبَةٌ | بسته | مِمْحَاةٌ | ربړ |
| كُرْسِيٌّ | کرسۍ | مِرْوَحَةٌ | پکې | سَجَّادَةٌ | قالين |
| قَلَمُ الرَّصَاص | پنسل | بَرَّايَةٌ | پنسل کاټ | سَقْفٌ | چهت |
| قَلَمٌ | قلم [پين] | دَوْلَابٌ | الماری | كُرَّاسَةٌ | کاپي |
| بَابٌ | دروازه | مِصْبَاحٌ | ډيوه | طَبَاشِيْرٌ | چاک |
| شُبَّاكٌ | کهړکي | كِتَابٌ | کتاب | مِنْشَفَةٌ | اسفنج |

## (13)۔۔۔اَلْمِهَنُ [پيشې]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مُدِيْرٌ | مهتمم | خَيَّاطٌ | درزی | سَائِقٌ | ډرائيور |
| مُهَنْدِسٌ | انجينئر | عَامِلٌ | مزدور | طَبَّاخٌ | باورچي |
| طَبِيْبٌ | ډاکټر | حَدَّادٌ | لوهار | شُرْطِيٌّ | پوليس |
| نَجَّارٌ | ترکان | حَارِسٌ | څوکيدار | مُوَظَّفٌ | نوکر |

## (14)۔۔۔خَصَائِلُ [ښه عادتونه]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| صَادِقٌ | رښتونی | شُجَاعٌ | بهادر | اَمِيْنٌ | امانتدار |
| مُخْلِصٌ | مخلص | سَعِيْدٌ مُطِيْعٌ | نيک<br>بخت، تابعدار | فرمانبردار | خوشقسمت |
| نَشِيْطٌ | چست | صَالِحٌ | نيک | شَرِيْفٌ | عزت مند |
| مُجْتَهِدٌ | محنتی | مُهَذَّبٌ | سليقه مند | كَرِيْمٌ | سخی |

## (15)۔۔۔رَذَائِلٌ [بد عادتونه]

| | | | |
|---|---|---|---|
| كَاذِبٌ | دروغژن | مُتَكَبِّرٌ | كبر كونكي |
| خَائِنٌ | خيانت كونكي | بَخِيْلٌ | كنجوس، شوم |
| حَرِيْصٌ | لالچي، حرصناک | غَبِيٌّ | كمزورذهن والا |
| كَسْلَانٌ | سست، ناراسته | جَبَانٌ | بزدل، يريدونكي |
| اَحْمَقٌ | كم عقل، بيوقوف | سَارِقٌ | غل |
| حَاسِدٌ | كينه ساتونكي | مُبْتَدِعٌ | بدعتي |

## (16)۔۔۔اَعْضَاءُ الْجِسْمِ [د بدن حصي]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| رَأْسٌ | سر | فَمٌ | خُله | شَعْرٌ | ويښته |
| عَيْنٌ | سترګه | سِنٌّ | غاښ | لِسَانٌ | ژبه |
| اَنْفٌ | پوزه | ذَقَنٌ | ذنه | خَدٌّ | اننګي |
| وَجْهٌ | مخ | مِرْفَقٌ | څنګل | رِجْلٌ | خپه |
| شَفَةٌ | شونډه | اُذُنٌ | غوږ | عُنُقٌ | څټ |
| صَدْرٌ | سينه | قَلْبٌ | زړه | كَتِفٌ | اوږه |
| يَدٌ | لاس | بَطْنٌ | خيټه | ظَهْرٌ | ملا |
| اِصْبَعٌ | ګوته | اِبْهَامٌ | قټه ګوته | قَدَمٌ | قدم، پنجه |

## (17)۔۔۔أُسْرَتِيْ [زما خاندان]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اَبٌ | پلار | عَمٌّ | تره | زَوْجٌ | خاوند |
| اُمٌّ | مور | عَمَّةٌ | دپلار خور | زَوْجَةٌ | ښځه |
| اَخٌ | رور | خَالٌ | ماما | اِبْنُ اَخٍ | وراره |
| اُخْتٌ | خور | خَالَةٌ | دمورخور | اِبْنٌ | ځوي |
| بِنْتٌ | لور | جَدٌّ | نيكه | جَدَّةٌ | نيا |

## (18)۔۔۔اَلْحَيْوَانَاتُ [ځناور]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| جَمَلٌ | اوښ | فِيْلٌ | هاتهي | فَرَسٌ | اس |
| جَامُوْسٌ | ميښه | حِمَارٌ | خر | بَقَرَةٌ | غوا |
| ثَوْرٌ | غوائی | اَسَدٌ | زمري | قِطٌّ | پيشو |
| شَاةٌ | چيلۍ | اَرْنَبٌ | سوي | كَلْبٌ | سپی |

## (19)۔۔۔اَلطُّيُوْرُ [مرغې]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| عُصْفُوْرٌ | چنچړه | حَمَامَةٌ | كونتره | بَبْغَاءٌ | طوطی |
| غُرَابٌ | كارغه | دَجَاجَةٌ | چرګه | دِيْكٌ | چرګ |
| طَاءُوْسٌ | طاوس | هُدْهُدٌ | ملاچرګک | حِدَاةٌ | تپوس |

## (20)۔۔۔اَلْفُصُوْلُ [موسم]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| رَبِيْعٌ | سپرلی | حَرٌّ | ګرمي | صَيْفٌ | دګرمۍ موسم |
| خَرِيْفٌ | خزان | بَرْدٌ | يخني | رَطُوْبَةٌ | لوندوالی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| شِتَاءٌ | ديخنۍ موسم | يَبُوْسَةٌ | خشكي (اوچه) |

# عربی مکالمه

لاندې په طور دنمونې دعربئ بول چال يوه مکالمه ليکلې شی

## اَلتَّعَارُفُ........پیژندګلو

### دابتدائی پیژندګلو مکالمه

| | |
|---|---|
| مَا اسْمُكَ | ستانوم څه دې؟ |
| اِسْمِی رَاشِد | زمانوم راشد دې۔ |
| مَا اسْمُ وَالِدِكَ | ستا دپلار څه نوم دې؟ |
| اِسْمُ وَالِدِیْ حَنِیف | زما دپلار نوم حنیف دې۔ |
| اِیْنَ تَسْکُنُ | ته چرته اوسیږې؟ |
| اَسْکُنُ فِیْ بشاور | زه پیښور کښې اوسیږم۔ |
| کَمْ عُمُرُكَ | ستا عمر څومره دې؟ |
| عُمُرِیْ عشرون سنة | زما عمر شل کاله دې۔ |
| مَا دِیْنَك | ستا مذهب څه دې؟ |
| اَنَا مُسْلِم۔ دِیْنِ الاسلام | زه مسلمان يم۔ |
| مَاهِیَ مِهْنَتُكَ | ستا پیشه څه ده ؟ |
| اَنَا تِلْمِیْذٌ | زه طالب علم يم۔ |

**نوټ**: معلم/معلمه دې دوه ماشومان اودروی او داپاسنې مکالمه دې پرې اوکړی۔